# زوريدلي دمسيح لپاره

ريچارد ورمبراند



# زوریدلی
# دمسیح لپاره

ریچارد ورمبراند

دنن ورځې شهیده کلیسا

# زوریدلی دمسیح لپاره

ریچارد ورمبراند

مقدمه

**عزتمند دبلیو . ستوارت هاریس،** اف. آر. جی. اس

(داروپا دمسیحی ماموریت عمومی رئیس)

ژباړونکی په پښتو ژبه

ح.ا


دمحبت په عمل کی ټولنه

(LOVE IN ACTION SOCEITY)

P.O. BOX 4532, NEW DELHI - 110016, INDIA

# TORTURED FOR CHRIST (Pushto/Afghanistan)
by
**Rev. Richard Wurmbrand**

© Richard Wurmbrand
5000 Copies
1996

Printed and Published by Evangelist Dr. P.P. Job for The Love In Action Society at Sabina Printing Press, Faridabad, Haryana, India.

# دمؤلف په هکله

عزتمند ورمبراند یو خدمت کوونکی مبشر دی چی ۱۴ کاله زوروني ئی دکمونیستانو په جیل کی په خپل وطن رومانیه کی تیرې‌کړی دی. هغه یو دمشهورو مؤلفینو، رهبرانو او مسیحی معلمینو څخه شمیرل کیږي. په خپل وطن کی لږ نومونه پیژندلی شوی دی.

په کال ۱۹۴۵کی هغه وخت چی کمونیستانو رومانیه ونیوله او کوششی وکړو چی په کلیساو باندی کنترول ترلاسه کړی البته دخپلو مقصدونو لپاره عزتمند ورمبراند فوراً یو مؤثر، پټ او قوی خدمت دغلام جوړ شویو خپلو خلکو او دروسی تجاوزگرو عسکرو لپاره شروع کړو. او په کال ۱۹۴۸ کی دخپلی ښځی سبینه سره یوځای ونیول شو. دده ښځه ددرو کالو لپاره په قسم دیوې غلامی کار کولو. ریچارد ورمبراند دری کاله په سختو تکلیفو کی تیر کړل او بدون دهغه خلکو چی زورول ئی بل هیڅوک ئی ونه لیدل. خو پس له دریو کالو څخه هغه یوې‌لوی کوټی ته بوتلی شوه‌چی هلته هم دپنځو کالو لپاره پاته شوه. او زورول ئې دوام دلود.

دهغی دشهرت دیو مسیحی رهبر په حیث په سبب کله چی هغه په جیل کی وو استازی او دیپلوماتانو دکمونیستانو څخه وغوښتل چی دهغه حفاظت وکړی شی. ولی هغوی ته وویل شول چی هغه درومانیه څخه تښتیدلی دی. پټو پولیسو خپل ځانونه بندیان شکاره کړل او دهغی ښځی سره ولیدل او هغه ته ئی وویل چی هغه نور په نړی کی نشته او دهغی نورو بهرنی ملگروته وویل شول چی هغه هیر کړی ځکه چی هغه مړ شوی دی.

پس د ۸ کالو څخه هغه د جیل څخه خلاص شوه او سمدستی ئی په پټه کلیسا کی په کار شروع وکړه. پس د دو کالو هغه بیا په کال ۱۹۵۹ کی دوهم ځل لپاره ونیولی شو او په ۲۵ کالو بند باندی محکوم شو.

هغه په کال ۱۹۶۴ کی په یوه عمومی عفوه کی دجیل نه خلاص شو او دوهم ځل بیاهم په مخفیانه کار باندی شروع وکړه. دسختو خطراتو سره مخامخ کیدو او دهغی ددریم ځل نیولی کیدو امکان هم وه. دناروی هیواد مسیحیانو درومانیه دکمونیستی حکومت څخه دده دهغی هیواد نه دخلاصون غوښتنه وکړه. په رومانیه کی کمونیستی حکومت دسیاسی بندیانو دخلاصون لپاره دهغوی خرڅولو باندی شروع کړی وه. دیوه بندی دخلاصون لپاره ۸۰۰ پونڈ تعین شوی وه. خو دورمبراند قیمت ۲۵۰۰ پونډ ټاکل شوی وه.

د۱۹۶۶ کال دمی په میاشت کی ورمبراند دامریکا دداخلی امنیتی کمیتی په حضور کی چی په واشنتن کی موقعیت لری خپل شهادت ورکړو او هغی هغه زخمونه چی په ملا باندی لگیدلی وو ټولو ته وښودل او دده داستان دټول جهان په ورځپانو کی نشر شو. همدارنگه د ۱۹۶۶ کال ددسمبر په میاشت کی هغی ته اخطار ورکړی شوه چی درومانیه کمونیست حکومت تصمیم لری چه هغه په قتل ورسوی. مگر هغه دمرگ په گواښ باندی آرام نشوه او هغه په نام دپټی کلیسا باندی یادیږی. مسیحی رهبران هغه ژوند شهید او داوسپنی پردی پولس یادوی.

# لنډیز

داول ځل لپاره په ۱۹۶۴ کال دډسمبر په میاشت کی رومانیه ته ولاړم. په خوا زه داروپا ټولو ملکونوته تللی وم خو رومانیه او البانیا هغه ملکونه وو چی زه هلته ولاړ نه وم. څو میاشتی ما یوه معلومداره نښانه له خدای څخه درلودله چی زه باید هلته ولاړشم. پدی سبب زه دعزتمند جان موسلی سره یو ځای در رومانیه له پولی څخه تیر شوم.

ډیر ژر پدی پوه شوه چی موږ په یوه کمونیست هیواد کی یو ځکه ډیر په احتیاط سره دولت زموږ څخه څارنې کولی. خو ایمانداراتو په دیر عزت سره موږ ته هر کلی وویلو او دیکشنبی په ماښام چی اولینه یکشنبه وه پس له دی نه چی موږ هغه هیواد ته داخل شو چی دجرمنیانو په بپتست کلیسا کی چی په بخارست کی وه ورغلو او هلته له موږ څخه غوښتنه وشوه چی خپل سلامونه او شهادتونه ووایو. هغه وخت چه مجلس ختم شوه نو ډیرخلک وو چی زموږ سره خبری وکړی په شمول دیو هغه څوک چی جگه وُنی درلوده سپینه ځیره او ښایسته ستر گو سره وویل چی زه کولی شم ستاسو سره خبری وکړم او علاوه ئی کړل چی خطر می قبول کړی دی. که چیری موږ ئی کورته ولاړشو. پدی سبب دشپی ناوخته چی ۱۱ بجی وی موږ دورمبراند کورته ولاړو. عزتمند ورمبراند دخپلی ښځی او ځوی سره دیوی مودی لپاره په کوچنی کوټه کی چی په لاندی طبقه کی وه ژوند کوه.

په ډیره احتیاط سره کوټی ته ورننوتولو. پس له هغی هغه کشیش چی ما په غرب کی دهغی په هکله زیات اوریدلی وه هغه تجروبی چی ډیری حیرانوونکی وی او خپل خلاصون په هکله په کالو بندی خانه کی راته څرگند کړل. اول

دهغه زوی او بیا ئی ښځی سبینه له کوټی څخه بهر کوڅی ته ووتل ترڅو هره خوا ته وگوری. دواړو دا راپور راکړو چی کور پولیسو محاصره کړی دی. او دهغوی موټر دکور مخته انتظار وباسی. ترکومه وخته پوری به هغه کور تر څارنی لاندی ونیسی؟ څه نتیجه به ولری؟ ریچارد ورمبراند خپل داستان تمام کړو او موږ دوعا وکړه. هغه مجلس نه هیریدونکی وه. موږ خدای ته عذر وکړو چی خپل خدمت کوونکی وساتی ځکه چی موږ دهغی په صورت باندی زخمونه ولیدل. موږ په هغه وخت کی هغه ویره چی پخوا زموږ سره نه وه احساس کړه. خو تر اوسه پوری هغه دمحبت او جلال روښنائی دی چی دجیل دتیارو څخه ځلیزی او خدای زموږ دوعا گانی واوریدلی نو کله چی موږ دکور څخه کوڅی ته ووتلو پولیس نه وو.

موږ داولین ځل لپاره دغه خدای کورنی سره لیدنه وکړه. همدارنگه موږ دعیسی مسیح قهرمان شاهیدان احساس کړل. موږ به هیڅکله بیا دپخوا په قسم نه وو. پدی سبب زه ویاړم چی زما څخه غوښتنه وشوه چی دغه کتاب دروپیژنم او موږ دغه کار په دعا سره شروع کړو. خدای دو کړی چی دغه کتاب ډیر زرونه په حرکت راوړی چی دشرقی اروپا خلکو سره مینی وکړی. ترڅو جدی عملونه سر ته کړو او هغه خطرونه او زحمتونه چی دمسیح لپاره تیریږی او هغه ځای چی په وجود کی دمسیح لپاره خالی دی یعنی کلیسا ډکه شی.

عزتمند دبلیو. ستوارت هاریس، اف. آر. جی. اس

داروپا دمسیحی ماموریت عمومی رئیس

عزتمند دبليو. ستوارت هاريس په اروپا كې دمسيحي ماموريت عمومي رئيس، لندن، رومانيه ته په حيث داولين پيغام وړونكي دغربي مسيحيانو له طرفه پس له دې چې زه په كال ۱۹۶۴ كې دجيل څخه خلاص شوم راغلو. پداسې حال كې چې دشپې ډيرناوخته وه زموږ كورته راغلو. پس داحتياطي اقداماتو څخه هغې ماته داول ځل لپاره دمحبت، تسلي او مرستې دمسيحي شهيدانو دكورنيو لپاره راوړې. او دهغه په نام سره زه خپلې مننې څرگنده وم.

# پيژندنه

## ولې ما دا كتاب وليكلو؟

زه هر يوه آزاد مسيحي ته دغه پيام له هغې پټې كليسا څخه چې داوسپنې سرحد شاته دې راوړم. هغه پټه كليسا چې په كالونو ما رهبري كړې دا تصميم ونيوالو چې زه بايد هر ممكنه كوشش وكړم ترڅو آزادې نړۍ ته ورسيږم او يوه قوي پيام تاسوته ورسوم. ديوې معجزې په سبب چې تاسو به ئې ووينې زه ژوندې پاتې شوم و آزادې نړۍ ته راورسيدم. په دغه كتاب كې هغه پيام چې زه ئې په پټه كليسا كې دهغه ايمانداران لخوا چې په كمونيستي هيوادونو كې دې او زوريږي ماته راسپارلي دي بيان كوم.

پدې ترتيب سره دستاسو خاصه توجو دغه پيام ته را اړوم كوم. اول زه خپل شهادت وركوم او دپټې كليسا په باب تاسوته وايم.

# اول فصل

## یو بی دینه مسیح پیدا کوی

زه په یوه داسی کورنی کی لوی شوی یم چی هیڅ مذهب ئی نه پیژندلو. په کوچنیوالی که ما هیڅ کوم مذهبی تعلیم زده نکړو. په ۱۴ کلنی کی زه یو سرسخت بی دین وم. دغه زما دکوچنیوالی ترخه یادونه دی. زه ډیر کوچنیوالی څخه یتیم وم. ما غریبی په اولو کالو دعمومی دنریوال جنګړه کی وپیژندلو. په ۱۴ کالنی عمر کی دنن ورځینی کمونستان په شان بی مذهب وم. ما دبی دینانو کتابونه لوستلی وو. خو دا غلط نه وه چی په خدای یا مسیح باندی ایمان نه درلوده ما ددغی فکرو څخه سخت کر که کوله. ځکه چی فکر می کولو چی دغه شیان دانسان فکر ته نقص رسوی. پدی ترتیب سره زه ډیر په تریخوالی سره دمذهب خواته لوی شوم.

خو هغه وخت چی وروسته پوه شوم خدای ماته دغه ویاړ را په برخه کړو چی یو دخدای دپاکلی شویو خلکو څخه ووسیږم. هغه هم په هغه علتونو چی زه نه پوهیږم. دا هغه دلائیل وو چی زما په شخصیت باندی مربوط نه وو.

ځکه چی زما شخصیت ډیر خراب وه. هرڅومره زه یو بی دینه سړی وم څه شی چی دبیان وړنه دی زه ئی دکلیساو خواته راوستم. دغه ماته سخته وه چی دکلیسا په مخ تیر شم او هلته ور نشم. ما سرودنو ته هم فکر کولو خو هیڅ وخت می په زره باندی تاثیر ونکړو. زه ډیر متیقن وم چی هیڅ خدای وجود نلری. زه پدی فکر چه خدای یو او احترام ور سړی دی چی باید له هغی څخه موږ اطاعت وکړو کر که کوله. خو ما ډیره مینه درلودله چی پوه شم چی یو زړه

دمینی څخه ډک به چیری ددی نړی په مرکز کی وی. ما دکوچنیوالی او دځوانی خوښی می نه وه لیدلی او آرزو می درلودله چی باید دمینی څخه ډک زړه زما دپاره موجود وی.

زه پوهیدم چی هیڅ خدای نشته خو زه خپه هم وم ځکه هغه خدای چی مینی ولی نه وو. یو ځل روحانی جنګ ته داخل شوم. زه یو ځل دکاتولیکانو کلیسا ته ورننوتم او خلک می ولیدل چی څه شیان ئې ویل او زنګانونه ئې وهلی وو ما فکر وکړو چی هغی خلکوته نیږدی زنګانونه ووهم او هغه څه چی دوی وائی هغه واورم او بیائی تکرار کړم او وګورم چی څه کیږی. هغه دباکره مریمی په باب دعا کی وویل چی درود مریمی ډک له فیض او برکتو. ما هغه کلمی څو واره په هغوی پسی وویل. او دباکره مریمی مجسمی ته می وکتل. خو هیڅ څه پیښ نشول زه پدی، علت ډیر خپه شوم.

یوه ورځ سره ددی چی بی دینه سړی وم خدای ته می داسی دعا وکړه: «خدایه زه یقیناً پوهیږم چی ته وجود نلری. خو که چیری په کوم ځای که وی څه شی چی زه نه غواړم دا زما وظیفه نده چی په تا ایمان ولرم. بلکی دا ستا وظیفه ده چی ځان ماته ښکاره کړی. زه یو بی دینه وم خو بی دینی زما زړه ته آرامی نه ورکوله راوړی».

پدی وخت کی هغه طوفان وو چه ما په خپل وجود کی وروسته احساس کړو په یوه کلی کی چی درومانیه په جګو غرو باندی دی یوه زوړ ترکاڼ داسی دعا وکړه: «خدایه ما دستا خدمت پدی ځمکه باندی سرته ورسولو او زه امید لرم چی ددی عوض هم پدی نړی او هم په جنت کی واخلم. خو پدی نړی کی زما عوض دا باید وی چی تر هغه وخته پوری مړ نشم چی یو یهود هم مسیح ته رانوړم. ځکه چی مسیح هم یهودی وو. زه غریب، زوړ او ناجوړه یم او نتوانیږم

چی اطرافوته ولاړشم ترڅو چی یهود پیدا کړم. زموږ په کلی کی هم کوم یهود نشته. ته یو یهود زموږ کلی ته راوړه او زه به ډیر زیار وباسم چی هغه مسیح ته راوړم. بدون دی کومی مانع موږ هغه کلی ته لاړو.

ما هیڅ کوم کار هلته نه درلوده. رومانیه ۱۲۰۰۰ کلی لری. خو زه هغه کلی ته ولاړم. سره ددی چی زه یو یهود وم خو زما په لیدلو سره هغه زوړ ترکاڼ دومره زیات قدر او عزت راکړو او ما ته ئی ښه راغلاست وویلو لکه کومی ښکلی ځوانی نجلی ته چی څوک وائې. هغی دخپلو دعاگانو ځواب په ما کی پیدا کړلو سره ماته ئی مقدس کتاب راکړو ترڅو هغه ووایم. ما مقدس کتاب په مختلفو علتو ویلی وه خو هغه مقدس کتاب چی هغی ماته راکړو بل شی وه څنگه چی هغی ماته وروسته ووېل چی ما خپلی ښځی سره په ساعتو دستا او ستا ښځی لپاره دعاگانی وکړی ترڅو خلاصون ومومی. خو کوم مقدس کتاب چه هغی ماته راکړو صرف مکالمی نوی بلکی دمینی شعلی وی چی په دعاگانو کی شروع شوی وی. زه په مشکل سره وتوانیدلم چی هغه ووایم او زه وتوانیدلم چی صرف هغه باندی وژاړم. کله چی ما خپل ژوند دعیسی دژوند سره وکتلو. زما ناپاکی او دهغه پاکوالی، زما کرکه او دهغه مینه خو بیاهم هغی زه قبول کړم چی دهغی ووسیزم.

په ډیر لږ وخت کی زما ښځه هم ایمانداره شوه. پدی ترتیب سره یو نوی جماعت مو دلوتیران په نامه په رومانیه کی پرانیستلو. پس له هغی وخت دنازیانو راغلو چی موږ په رومانیه کی دسختو شرایطو سره مخامخ شوو ځکه چی دنازیزم دیکتاتوری ډیره سخته وه پدی ترتیب مخکی له دینه چه زه رسمی مقرر شم او خدمت کولو تیاری ونیسم زه دکلیسا رهبر شوم. ځکه چی زه دهغی کلیسا بنست ایښودونکی وم. ما ددی کار مسولیت درلوده او ښځه می څو ځلی

ونیول شوه او وتکولی شوه او دنازی قاضیانو ومخته ور کښ شوه. ژوند دنازیانو سره ډیر سخت وه خو که چیری دکمونیستان تر لاس لاندی راشی دنازیانو به درته هیڅ معلوم نشی. ما په خپل زوی باندی یو بل نوم چی یهودی نه وه کیښود ترڅو دهغی دمړینی مخه ونیسم.

خودنازیانو دوران یوه لویه ګټه درلوده هغه دا چی هغی ما ته رازده کړل چی وهل او ټکول څنګه تحمل کیږی. او دا چی دانسان روح دخدای په مرسته دزورونو او نورو شیانو کی کولی شی چی ژوندی پاتی شی. هغوی ما ته دپټو کار کولو طریقی رازده کړی چی څنګه مسیحی پټ کارونه وکړم. او دهغه وخت لپاره چی راتلونکی وه تیار شوم.

## زما خدمت روسانو ته

پس دهغی چی دبی دینی څخه خلاص شوم داولی ورځی څخه می داغوښتنه وه چی روسانو ته شهادت ور کړم. ځکه چی دوی هغه خلک دی چی دکوچنیوالی څخه بی دینه لوی شوی دی. دغه غوښتنه می پوره شوی ده او دغه ارمان می دنازیانو له وخته شروع شوه ځکه چی موږ په رومانیه کی په زراوو روسی بندیان درلودل او زه وتوانیدلم چی دهغوی په منځ کی مسیحی کار شروع کړم.

دغه کار تحریک کوونکی او خطرناک وه. زما به هیڅ کله اولینه لیدنه دیو روس بندی سره هیره نشی. هغی ماته وویل چی انجنیر یم. ما دهغی څخه پوښتنه وکړه چی په خدای باندی ایمان لری. که چیری هغه ویلی وای چه نه نو زه ورڅخه خپه کیدم نه ځکه چی هر څوک دا حق لری چی ایمان ولری او یانه. خو کله می چی دهغی دایمان په باب پوښتنه وکړه هغی زما خواته بدون له دینه چی

پوه شي وکتل او وویل چه زه هیڅ کله داسی آمر نلرم چی ایمان راوړم. که چیری کوم امر راته وشی زه به ایمان راوړم.

اوښکی می په سترگو راغلی او زړه می ټوټی ټوټی شوو. دلته یو څوک شته چی مغزی مړه شوی دی. یو سړی چه ډیره لویه تحفی دخدای دلاسه ور کړی ده. هغه تحفه چی باید یو شخصیت ولری. خو هغه داسی یوه آله ده چی مغزی منځلی شوی دی او په لاس دهغه کمونیستانو کی وه چی په یوه امر ایمان راوړی او کنه. هغی په خپله نور فکر نشوو کولی. پدی ټولو کالوکی دغه دروسی کمونیستانو یوه نمونه وه. پس له دی نه می چی ولیدل چی کمونیستانو دانسانانو لپاره څه کارونه ترسره کړی دی ما دخدای سره وعده وکړه چی زه به ټول ژوند دغه خلکو دخدمت ته وسپارم ترڅو دهغو شخصیتونه وروپیژنم. او هغو ته په نامه دخدای او مسیح ایمان وروپیژنم.

ما ضرورت نه درلوده چی دروسی خلکو لپاره هلته ولاړ شم. په شروع د ۲۳ اگست په کال ۱۹۴۴ کی یو میلیون روسی سربازان رومانیه ته داخل شول او ډیر ژر کمونیستان هلته قدرت ته ورسیدل. دلته داسی حالت مینځ ته راغلو چی دنازی حکومت ډیر آرامه ښکاریده.

په هغه وخت کی رومانیه چی ۸ میلیون نفوس ئی درلوده درومانیه کمونیست گوند صرف ۱۰۰۰۰ غړی درلودل. خو ویشنسکی دشوروی اتحاد دخارجی چارو وزیر سکرتر زموږ دډیر گران پادشاه اول مایکل دفتر ته ورننوت او ټینگ ئی خپل لاسونه په میز باندی ووهل او دائی وویل چی تاسو باید کمونیستان حکومت ته انتخاب کړی. نظامی قواوی او پولیس زموږ تماماً بی سلاح شول. پدی ترتیب په زور او جبر سره کمونیستان قدرت ته ورسیدل. دغه کار بدون دهمکاری دهغه وخت حاکمانو دامریکا او انگلستان سرته نشو

رسیدلی.

خلک دخدای په حضور کی نه یوازی دخپلو گناهونو لپاره مسولیت لری، بلکی دخپل وطن لپاره هم مسولیت لری. ډیرو ملتو غمونه دامریکائی او انگلیسی مسیحیان په زړونو کی دی. امریکایان باید پوه شی چی هغه وخت دروسان سره په نارضایتی دوی مرسته کړی ده ترڅو دترس او وژنی رژیم پر موږ باندی قبول کړی. امریکایان باید دغه دنیولی شویو خلکو په مرستو ترڅو نور مسیح ته راشی جبران کړی.

## دمینی او گمراهی ژبه یوه ده

یو ځلی چی کمونیستان قدرت ته ورسیدل هغوی په ډیره زرنگی سره دگمراهی مختلفی طریقی په کلیساو کی استعمال کړی. دمحبت او گمراهی ژبه یوه ده. هغه څوک چی یوه نجلی دښځی په حیث غواړی او هغه څوک چی هغه صرف دیوی شپی لپاره غواړی چی پس له هغی ئی لیری وغورځوی دواړه وائی چی (مینه درسره لرم) عیسی موږ ته ویلی دی چی دمحبت ژبه دگمراهی دژبی سره فرق وکړی او لیوان دمیږو په څرمن کی وپیژنی.

هغه وخت چی کمونیستان قدرت ته ورسیدل په زراوو رهبران، کشیشان او خدمت کوونکی نیوهیدل چی څنگه دګ دوی ژبی وپیژنی.

کمونیستانو یوه جلسه دپارلمان په تعمیر کی دایره کړه چی په هغی که ټول مسیحی رهبرانو گډون کړی وو. څلور زره کسان چی عبارت وو دکشیشانو، رهبرانو او خدمت کوونکی دټولو طریقو څخه په دی جلسه کی اشتراک درلوده. دا څلور زره مسیحی رهبرانو جوزف ستالین ئی دکنگریی درئیس په

ټوګه وټاکلو. په عین حال که هغه دنړی دبی دینانو داتحادیی رئیس او قتل کوونکی دټولو مسیحیانو وو. یو په بل پسی هر یوه دکشیشانو او اسقفانو څخه دپارلمان په قصر کی پورته کیدل او دا به ئی ویل چی اساساً کمونیزم او مسیحیت یو دی. باید یو بل سره ژوند وکړی. یو وزیر په بل وزیر پسی پورته کیدو او په کمونیزم باندئی ثنا ویلو او نوی دولت ته ئی دکلیساو دوفاداری په باب اطمینان ورکړو.

زه او ښځه می پدی کنګره کی حاضر وو. ښځی می راته وویل چی ریچارد پورته شه او دغه شرم دمسیح له مخه پریمنځه. دوی دهغی په مخ باندی لیاړی اچوی. ما هغی ته وویل «که چیری زه دا کار وکړم خپل میړه دلاسه ورکوی». هغی ځواب راکړو زه امید نلرم چی یو دارن میړه ولرم.

وروسته دهغی زه پورته شوم او خبری می وکړی. خو دمسیحیانو دقاتلانو دحمد ویلو په ځای ما مسیح او خدای ته حمد وویلو او دامی وښودله چی زموږ وفاداری باید اول دهغی سره وی. دکنګره ټولی بیانی دراډیو څخه خپریدی او ټول خلک وتوانیدل چی دپارلمان له قصر څخه دمسیح پیام واوری خو وروسته دغه کار زما لپاره په نقص هم تمام شوه. اما دهغی ارزښت ئی درلوده.

دپرتستانو او ارتودوکسانو دکلیساو رهبران یو دبل سره کمونیزم ته دتسلمیدو مقابله درلوده. یو ارتودوکس اسقف چی ځتهک او لورئی په اوږه باندی اخستی وو خپل نوروکشیشانو ته وویل چی نور مه وائی چی (ستاسو فیض) ماته ملګری ووائی. ما په یوه کنګره کی چی دپیتستانو لخوا په ریښیتا ښار کی جوړه شوی وه ګډون وکړو. پدی کنګره کی سور بیرغ لګیدلی وه او دشوروی اتحاد ملی سرود وویل شو. حال دا چی ټول په پښو ولاړ وو. رئیس ددی کنګری بپتستانو ته وویل چی ستالین هیڅ کار ندی کړی بلکی دخدای احکام ئی پرځای

کړی دی. او ستالین ئی دمقدس کتاب یو ډیر عالی استاد خلکوته معرفی کړو. د پاتراسکوین او روساییانو په شان کشیشان نور هم واضح خبری کول. هغوی دمخفی پولیسو افسران شول. راپ اسقف معاون دلوتیرانو دکلیسا په رومانیه کی پدی ترتیب سره په الهی پوهنتون کی په درس ورکولو شروع وکړه چی خدای دری مکاشفی ورکړی دی: اول دموسی پواسطه، دویم دعیسی پواسطه او دریم دستالین پواسطه چی هغه پخوانی ټولی مکاشفی ختمه وی.

پدی باید پوه شو چی هغه بپتستان چی په ریښتیا ایمانداران وو او زه ورسره ډیره مینه لرم ددی سره موافقه ونکړه. دډیرو تکلیفونو سره سره بیاهم مسیح ته وفادار پاتی شول. خو کمونیستانو به دهغوی رهبران ټاکل او بپتستانو هیڅ بله لاره نه درلوده بدون له دی څخه چی هغه ومنی. دغه حالت اوس هم په مذهبی رهبریو کی شته. هغه ځوک چی دمسیح په ځای دکمونیستانو خدمت کوونکی شول نور ئې چی ددوی سره یو ځای نشول هغی پریښودل.

هغه وخت چی روسی مسیحیان وروسته دکمونیستی انقلاب څخه یوه پټه کلیسا جوړه کړه په رومانیه کی دکمونیستانو په قدرت رسیدل او درسمی کلیساو درهبرانو رسوائی هم موږ مجبور کړو چی یوه پټه کلیسا جوړه کړو چی بشارت ته وفاداره وی، انجیل تبلیغ کړی او دمسیح لپاره ماشومانو ته ورسیږی. کمونیستانو دا ټول منع اعلان کړل او رسمی کلیساو هم ومنله.

ما دنورو سره یو ځای پټ کارونه شروع کړل. ما په بهر کی یو محترم اجتماعی ځای درلود چی هیڅ ډول اړیکی ئې زما دپټو کارونو سره نه درلوده. زه کشیش دناروی لوتیران ماموریت وم. همدارنګه پدی وخت کی دنړی نماینده په توګه درومانیه کلیساو مسول وم. په رومانیه کی موږ هیڅ ډول فکر او همکاری دکمونیستانو سره نه درلود. په هغه وخت کی بدون دخیریه کارو څخه

ما هیڅ بل کار ندرلوده. دغه دوه نومونو ماته ښه شرایط ددولت په مقابل کی پیدا کړی وو چی زما دېتو کارونو په باب نه پوهیدل.

دغی پټ کار دوه برخی درلودلې:

اول زموږ پټ خدمتونه دروسی سربازانو په منځ کی ،

دوم زموږ پټ خدمتونه درومانیه دغلام شویو خلکو ته ۰

## روسی خلک داسی تږی ځانونه

دانجیل وعظ کول روسانو ته زما لپاره لکه جنت چی په ځمکه وی ښکاریده. ما ډیرو هیوادو خلکوته دانجیل پیام رسولی دی اما داسی تږی خلک چی روسان دی ما نه وو لیدلی. هغوی تږی ځانونه لری.

یو ارتودوکس کشیش چه زما ملگری وه ماته تیلیفون وکړو چی یو روسی افسر راغلی دی او غواړی چی توبه اوباسی. ددی لپاره چی زما ملگری په روسی ژبه نه پوهیده او خبر وه چی زه په روسی ژبه باندی پوهیږم نو زما پته ئی ور کړی وه. وروسته یوه ورځ هغه افسر ماته راغلو خدای سره ئی مینه درلود خو هیڅ وخت ئی مقدس کتاب لیدلی نه وه. هغی هیڅ وخت په مذهبی مجلسو کی گډون نه وو کړی. په روسیه کی کلیساوی کمی دی او هیڅ مذهبی تعلیم ئی ندرلودلو خو خدای سره ئی مینه کوله. ما دمسیح په مثالو او دهغی خبری چی په غړه باندی کړی وه په ویلو شروع وکړه. هغی دا وویل چی خدایه څومره ښایسته ئی چی بدون دپوهیدلو څخه زه دمسیح سره ژوند وکړم. داولین ځل لپاره ما داسی یو سړی چی بدون دپوهیدلو نه دمسیح سره ئی خاصه مینه درلوده ولیده.

خو ما پخپله یوه اشتباه وکړه چی بدون دهغی دپوهولو څخه ما دمسیح

دمصلوبیدو او دزورونو په هکله هغی ته وویل. هغی دا هیله نه درلوده. هر کله چی هغی دا واوریدل چی مسیح وزوریدو او ووهل شو او دا چی څنگه هغه مصلوب شو او په آخر کی مړ شو هغه دچو کی څخه په ځمکه ولوید او ډیری وژړل هغی په یوه نجات ور کوونکی ایمان راوړو او اوس دده نجات ور کوونکی مړ دی.

ما هغی ته و کتل او وشرمیدم چی زه هم ځان ته یو کشیش او مسیحی وایم یو معلم دنور لپاره. زه هیڅ وخت ددی افسر په شان دمسیح په زورولو او زحمت کی شریک شوی نه وم.

پس له هغی می دمسیح دمړو نه دبیا پورته کیدو په هکله ورته وویل. هغه نه پوهیده چی دهغی نجات ور کوونکی له قبر څخه پورته شوی دی. کله ئی چی دا دخوښی خبر واوریدو خپل لاسونه ئی په خپلو زنگانونو ووهل او ډیر یو قسم چټل شیان ئی وویل خو زه فکر کوم چی په همداشان سره پاک وه. هغی داسی خبری کولی او هغی دخوښی څخه چیغی ووهلی او وی ویل چی هغه ژوندی دی او په کوټه کی په اتن شروع وکړه.

ما هغی ته وویل راځه چی دعا وکړو. هغی دعا نه پیژندله. هغی زما مقدس عبارت هم نه پیژنده زما سره هغه یو ځای دعا ته کینښتلو او دعا مو داسی شروع کړه «ای خدایه څومره ښه شخصیت لری که چیری زه دستا په ځای وای هیڅ کله می دستا گناهونه نه بخښل خو په ریستیا چی ته مهربانه یی او زه دزړه له کومی تا سره مینه کوم».

زه فکر کوم چی ټولو ملائیکو په آسمان کی هر کار چی دوی کولو پریښودلی وو او دغی روسی افسر دعا ته ئی غوږ نیولی وی. هغه سړی دمسیح غلام شو.

په یوه دوکان کی می یو روسی قوماندان او یوه روسی افسره ښځه ولیدل چی هر قسم شیان ئی اخستل خو ددی لپاره چی دوکاندار په روسی ژبه نه پوهیدو دمشکل سره مخامخ وو. ما دهغوی لپاره ترجمه وکړه او دوستان شوو. ما هغوی دغرمی ډوډی لپاره خپل کورته را وبلل. مخکی دډوډی خوړلو څخه ما هغوی ته وویل چی تاسو دیوه مسیحی په کور کی ډوډی خوری او موږ ددعا عادت لرو. ما په روسی ژبه دعا وکړه هغوی قاشقی او پنجی یوی خواته کیښودلی او دډوډی سره ئی علاقه ورکه شوه. هغوی پرله پسی پوښتنی کولې یوه پوښتنه دا وه چی خدای، مسیح او مقدس کتاب په باب معلومات راکړه ځکه چی دوی په هیڅ شی باندی نه پوهیدل. کومه آسانه خبره نه وه چی ما دهغوی سره خبری کولی.

ما هغوی ته دهغی سړی مثال راوړو چی سل میږی درلودی او یوه ئی ورکه شوه. هغوی وویل چی آیا دغه دمیږو فارم کمونیستانو نیولی ندی؟ وروسته می ورته وویل چی عیسی پادشاه دی. هغوی وویل چی ټولو پادشاهانو په خلکو باندی ظلمونه کړی دی نو عیسی هم ظالم دی. کله می چی دکرهنی دکارگرانو په باب هغوی ته مثال راوړو هغوی داسی ځواب راکړو: «ډیر هغوی ښه کار وو کړو چی دزمیندار په خلاف راپورته شول. ځکه باید دټولو مال وی». ټول شیان دهغوی لپاره نوی وو. کله می چی دعیسی مسیح دپیدایښت په باب هغوی ته وویل هغوی داسی یوه پوښتنه وکړه چی شاید یو غربی ته کفر معلوم شی. «آیا مریم دخدای ښځه وه؟» پس له هغی زه پوه شوم چی نه یوازی ددوی لپاره بلکی دنورو زیاتو روسانو لپاره ترڅو چی دکمونیزم تر تاثیر لاندی وی باید دانجیل دوعظ لپاره یوه باالکل نوی ژبه استعمال کړو.

هغه تبلیغ کوونکی چی مرکزی افریقا ته ولاړل په ترجمه ددی آیت چی

اشعیا څخه اخستی شوی دی مشکل ئی درلودل « که چیری دستاسی گناهونه دسور گل په شان سره وی دواوری په شان به سپین شی.» هیچا په افریقا کی واوره نوه لیدلی او ددی لپاره هیڅ داسی کلمه نلری. نو مبلغین به داسی ترجمه کول «ستاسی گناهونه به دناریال دمغز په شان سپین شی.»

پدی علت موږ باید انجیل په مارکسیستی ژبه ترجمه کړی وای. ترڅو مو هغوی پوه کړی وی. دا هغه څه وو چی موږ نشول کولای خو روح القدوس زموږ له لخوا دا کار کولو.

هغه قوماندان او افسره ښځه په هغی ورځ ایمان راوړو. پس له هغی دوی زموږ سره په پټ کار دروسانو په منځ کی زیات ومرستی وکړلی موږ په پټه سره زیات مقدس کتابونه او مسیحی نشریات چاپ ته ورسول او دروسانو په منځ کی مو توزیع کړل. دهغه روسی سربازانو پواسطه چی ایمان ئی راوړی وه موږ زیات مقدس کتابونه او ځینی نشریات په پټه شوروی ته دقاچاقو په ډول لیږل.

موږ یو بل تکتیک روسانو ته دمقدس کتاب درسوول لپاره استعمال کولو. روسی عسکر چی ډیر کلونه وجنگیدل او اولادونه ئی درلودل او ډیر وخت هغوی خپل اولادونه نه وو لیدلی. (روسان خاصه مینه دکوچینانو سره لری) زما ځوی میهای او نور کوچنیان چی عمرئی د۱۰ کالو څخه لږ وو دروسی عسکرو خواته ورتلل. پداسی حال کی چی مقدس کتاب، انجیل او نور نشریات ئی په خپلو جیبو کی درلودل. روسی عسکر چی دکوچنیانو سره زیاته مینه درلوده په ډیره مهربانی ئی ددوی سره قیصی او خبری کولی او لکه خپل اولاد ئی ددوی سره چلند کوو. عسکرو دغی کوچنیانو ته شرینی او چاکلیت ورکول او کوچینانو به هغوی ته مقدس کتاب او انجیل ورکول. هغوی ډیره په خوښی سره دا شیان اخیستل. څومره دغه زموږ لپاره خطرناک کیدلی شو مگر کوچنیانو

هغه په ډیره آرامی سره سرته رسولو. دوی کوچنی مبلغین وو چی ډیرو روسی عسکرو ته ئی پدی وسیله سره زیات انجیلونه ورسول.

## وعظ دروسی عسکرو په قطعو کی

ما نه داچی په یوازی روسانو ته شهادت ورکولو بلکی په ډلیزه توگه مو هم وغوښتل چی دا کار وکړو.

روسانو دساعتونه سره ډیره مینه درلوده. هغوی به دهر چا څخه ساعتونه غلا کول. هغوی به خلک په سرکونو کی درول او هر څوک مجبور وو چی خپل ساعت دوی ته ورکړی. هغوی هر یو زیادت شمیر ساعتونه درلودل. تاسو کولی شول چی روسانووینی چی څو ساعتونه په لاس لری. تاسو کولی شول چی داسی روسی سنځی ووینی چی زنگی ساعتونه ئی په غاره اچولی وو. هر چا چی ساعت ته ضرورت درلود نو دعسکرو قطعو ته تلل او هلته به ئی دخپلی غوښتنی سره سم په آرزان قیمت سره به ئی اخیستل حتیٰ داسی هم شوی دی چی خپل ساعت به ئی بیرته اخیستلو. نو درومانیائی خلکو لپاره دا ساده خبره وه چی دروسی عسکرو قطعو ته ولاړ شی. زموږ لپاره هم دا ډیره ښه پلمه وه چی دعسکرو قطعو ته ولاړشو. ما خپل اول کوشش کی دروسانو ته بشارت ورکړم یو ارتودوکس ورځ یعنی دپولس او پطرس ورځ وتاکلو چی پری خبری وکړم.

زه هغه ځای ته په دی پلمه چی ساعت اخلم لاړم. ما پلمی جوړولی چی دا گران دی ــ دا لوی دی ــ او داهم کوچنی پدی وخت کی ډیر عسکر زما چارچاپیره ولاړ وو او هر یوه یوشی دخرڅولو لپاره درلود ما په تهوکو کی دهغوی څخه پوښتنه وکړه چی ستاسی په منځ کی څوک دپطرس او پولس په نام

شته. ځینی وو پس له هغی ما وویل چی آیا تاسو پوهیږی چی نن ورځ ارتودوکس کلیساوی ستاسو پولس او پطرس ته احترام کوی. ځینی مشران پدی پوهیدل. پدی وخت کی ما دپولس او پطرس په هکله خبری شروع کړی. یو ددوی ځخه چی مشر سړی وو دخبرو په مینځ کی ودنګ وتلو او وی ویل چی تاسو دساعتونو داخیستلو لپاره نه ئی راغلی. تاسی راغلی یی چی دایمان په هکله خبری وکړی. دلته کنی او زموږ سره خبری وکړی. خو متوجی اوسیږی او ډیر احتیاط وکړی. دغه خلک چی زموږ پخوا کی دی ټول ښه خلک دی. خو هر وخت چی زه خپل لاس ستا په زنگنو باندی کیږدم هغه وخت صرف دساعت په هکله خبری وکړه. او هر وخت چی می لاس لیری کړو بیا تاسو کولی شی چی خپل پیغام ته ادامه ورکړی. ډیر خلک زموږ چارچاپیره جمع شوی وو ما هغوی ته دپطرس او پولس په هکله وویل او دعیسی په هکله می هم خبری وکړی او هر وخت چی څوک نوی راتلل او هغوی به هغه سړی باندی اعتماد ندرلوده نو سمدستی به ئی لاس زما په زنگنو ایښودلو او ما هم سمدستی دساعتونو په هکله خبری شروع کولی. کله به چی هغه سړی لری تللو ما بیرته دعیسی مسیح په هکله خپلی موعظی ته دوام ورکولو. دغه شان لیدنی څو واره تکرار شول. دروسی عسکرو دمرستو په پواسطه دهغوی ډیر ملگری مسیح ته راغلل او ددوی په ملاتړ په زراوو دانجیل کتابونه په پټه توزیع شول.

دپټی کلیسا څخه ډیر ورونه او خویندی هلته ونیول شول او ډیر ووهل شول خو زموږ کارونه ئی افشا نکړل.

په جریان ددغی کار کی موږ لیدنی په ډیری خوشحالی سره دهغی ورونو سره کیدلې چی ډیری تجربی پدی باره کی ترلاسه کړی وی. او دهرڅه نه مخکی ما په هغوی کی درسولانو عادتونه ولیدل ځکه چی دوی زیات وخت په کمونیزم

کی تیر کړی وو او حتی مدرسی او پوهنتونونه ئی په کمونیزم کی ویلی وو خو لکه څنگه چی ماهی په ترښو اوبو کی ژوند کوی خو خپله دغوسی څوگوالی له لاسه نه ور کوی همداسی دوی هم خپل زړونه دمسیح لپاره پاک ساتلی وو.

مسیحی روسانو ډیر ښکلی روح درلوده. هغوی وویل چی موږ پوهیږو چی دغه څټک او لور نښان چی زموږ په خولی باندی دی دمسیح ضد دی. دوی به دا په ډیره خپگیان وویل. هغوی زما سره ډیره مرسته و کړه ترڅو دنورو روسی عسکر په منځ کی انجیل خپور کړم.

خو دا هم باید ووایم چه هغوی هرڅه درلودل بدون دخوشحالی. دهغوی خوشحالی صرف دایمان راوړو په وخت کی وو چی ورروسته به له منځه تلله درلودل. زه دغی شی تحیران پاته کیدلم. یوه ورځ می دیو بپتست څخه پوښتنه وکړه چی تاسو ولی خوشحالی نلری. هغه په ځواب کی وویل چی څنگه کولی شو چی خوښ ووسیزو. حال داچه مجبور یو دکلیسا دکشیش څخه پټ شو ځکه چی زه یو ټینگ مسیحی یم او خپل عمر په دعا کی تیروم او کوشش کوم چی دمسیح لپاره خدمت وکړم؟ خو زموږ دکلیسا کشیش دپټ پولیس څخه دی. هر یو دبل څخه خبری اخلی او هغه کسان دی چی خپلی ضمیزی رسوا کوی هماغه کشیشان دی. خو دخپل زړه په یوه کنج کی دخلاصون خوښی لرم او هغه معلومداره خوښی چی تاسوی لری موږ ئی نشو درلودلی.

مسیحیت زموږ لپاره دیوی درامی په شان دی. هغه وخت چی تاسو آزاد مسیحیان څوک مسیح ته راوړی هغه خوښی او زیاته آزادی ته راوړی خو که چیری موږ ئی راوړو موږ پوهیږو چی دی به جیل ته ولاړ شی او ماشومان به ئی یتیم پاتی شی. دچا دخلاصون خوښی هر وخت ددی احساس سره یو ځای دی چی یو قیمت شته چی باید ور کړی شی. ما دیو بل ډول مسیحیانو سره لیدنه وکړه

چی دپتی کلیسا څخه وو.

همداسی زیات خلک شته چی وای مسیحیان دی خو په حقیقت کی ندی.

داسی خلک مو دروسانو په منځ کی پیدا کړل چی وای بی دینان دی خو په حقیقت کی داسی نه دی.

زما مخته یوه ښځه او میره چی روسی مجسمه جورونکی وو ناست دی. کله چی ما دهغوی سره دخدای په هکله خبری و کړی داسی ځواب ئی راکړو. نه خدای وجود نلری. موږ (بزبوشنیکی) یو یعنی خدای نلرو. خو یوه جالبه کار چی موږ ته پیښ شوی وو تاسوته وایو.

یو ورځ موږ دستالین په مجسمه باندی کار کولو. په جریان دکار کی ښځی می پوښتنه رانه وکړه چی دغتی گوتی په هکله څه فکر کوی؟ که چیری موږ ونتواینږو چی دلاس غتی گوتی ته دنورو گوتو په مقابل کی حرکت ورکړو او یا دلاس گوتی دپښو دگوتو په شان وای موږ نتوانیدلو چی څتک، کاغذ، کتاب او یا نور شیان واخلو او پورته ئی کړو. دانسان ژوند بدون دغتی گوتی دزیاتو مشکلاتو سره به وی. اوس چا دا گوتې جوره کړی ده؟ زه او ته دواړه خدای نه پیژنو او وایو چی ځمکه او آسمان هیچا ندی پیدا کړی. موږ داسی زده کړی دی او داسی ایمان لرو. خو که خدای هیڅ کوم څه نه دی پیدا کړی او صرف دا یوه غته گوتی ئی چه څومره لویه وظیفه اجرا کولی شی پیدا کړی وی نو ددی غتی گوتی لپاره باید دخدای ثنا او صفت ووایو او دهغی عبادت وکړو. پدی نړی کی که چیری کوم شی نوی څوک جوړه وی او یا ئی کشف او اختراع کوی دهغی سړی نوم په کتابونو او اخبارونو کی لیکلی کیږی او هر څوک ورته احترام کوی. اما ولی هغه چا ته ثنا او صفت ونه وایو چی دا غته گوتی ئی جوره کړی ده او هیڅ څوک پدی نړی کی دا کار نشی کولی.

دهغی میړه دنور میړو په شان په خپله ښځه په قهر شو او وویل چی بی معنی خبری مکوه. ته پوهیږی چی هیڅ خدای نشته.

دهغی ښځی وویل چی دا هم عجیبه ده چی هغه خدای په آسمان کی دی او زموږ نیکاگانو احمقانه په هغی باندی ایمان راوړی وو. ځکه چی دا کاملاً طبیعی دی. خو زه تصمیم لرم چه دهغی چا چی دا غټه گوته جوره کړی ده هرڅوک چی وی عبادت وکړم.

پدی ترتیب هغوی په عبادت د (هیچا) شروع وکړه. وروسته دځه مودی هغوی پدی ایمان راوړو چی نه یوازی خدای دغټی گوتی جورونکی دی بلکه دټولو شیانو چی په آسمان او ځمکه باندی لیدی کیږی او ژوند کوی دټولو پیدا کوونکی لوی خدای دی.

دا داسی وه لکه څنگه چی پولس رسول په آتن کی دداسی خلکو سره مخامخ شو چی دناپیژندلی شوی خدای عبادت یی کولو.

دا ښځه او میړه بی اندازه خوښ شول کله چی ما نه یی واوریدل چی دوی درست ایمان راوړی دی او دا چی په آسمان کی په ریښتیا سره هیڅ څوک نشته او صرف هغه خدای دی چی روح دی. هغه هم دمینی، پوهی، ریښتیا او قدرت روح دی چی دومره یی نړی سره مینه درلوده چی خپل یوازنی زوی یی واستولو چی ځان هغوی لپاره په صلیب باندی قربانی کړی.

دوی په خدای کی ایمانداران وو پرته ددی چی پوه شی. ما دا امتیاز درلود چی دوی نور هم مخته بوځم ترڅو چی خلاصون او بښنه تجربه کړی.

بل ځل می یوه روسی ښځه چی افسری رتبهٔ درلوده په سرک کی ولیدله. زه هغی خواته ورغلم داسی می ورته وویل چی زه بښنه غواړم زه پوهیږم چی دیوی بیگانه ښځی درول په سرک کی ښه کار ندی خو زه غواړم څو خبری تاسو سره

وکړم. زه یو مسیحی کشیش یم بدون دکوم خراب مقصد څخه او غواړم چې دعیسی مسیح په هکله درسره خبری وکړم.

هغی ځواب راکړو چې تاسو دمسیح سره مینه لری؟ ما ورته وویل چې هو په ټول وجود دهغی عبادت کوم. وروسته له دی هغی زما سره ډیره مینه وکړه او ما هم دهغی سره مینه ښکاره کړه. هغی وویل چې زه هم دمسیح سره مینه لرم. ما هغه خپل کورته بوتله. خو وروسته په ډیر تعجب سره پوه شوم چې هغه دمسیح په باب هیڅ معلومات نلری خو مینه ئی درلوده او ډیره عجیبه خبره وه چې مسیح په مورد هیڅ ډول معلومات ئی ندرلودل صرف دهغی دنوم سره مینه درلوده.

کله چې ما دهغی څخه پوښتنه وکړه هغی داسی ځواب راکړو: «کله چې زه کوچنی وم ما ته درس راکړی شو چې دعکسو له مخی ولولم. یوی پ دپاره پلار، یوه م دپاره معلومات او یوه ن دپاره نوی. کله چې لیسه ته راغلم ما ته وویلی شو چې دخپل دپلارو کمونیست وطن او خاوری څخه دفا وکړم. ماته کمونیستی مفکوره راکړی شوه. خو زه هیڅ نه پوهیزم چې دا مفکوره او وظایف څه وو. ما ددی شیانو لپاره یو عکس ته ضرورت درلوده. اوس زه پوهیزم چې زموږ پلارانو او نیکانو یوه ښکلی، دثنا وړ او ریښتیا عکس په ژوند کی درلودل. زما نیا به هروخت ددی عکس مخی ته تیتیدو او هغی به وویل چې دا دکریستو یعنی عیسی عکس دی. ما ددی نوم سره په خپله مینه کوله. دا نوم ما ته دریښتیا بنه غوره کړه. او دغه نوم ماته ډیری خوښحالی را په برخه کړی دی.

پداسی حال که چې ما دهغی خبروته غوږ نیولی وو هغه څه چې په فیلیپیان کی لیکلی شوی دی په یاد می راغلل چې دهغی په نام دی هر زنگون تیت شی ځکه چې دمسیح په ساده نامه کی لوی قدرت پروت دی.

هغی په ډیره زیاته خوښحالی زموږ په کور کی مسیح پیدا کړو. او اوس هغه

ځوک چې دهغې نوم سره ئې مينه درلوده پخپل ژوند کې سره يو شول.

زموږ يوه مسيحي خور چې داورگادي په ستيشن کې نوي زيري خلکوته ورکول يوه افسر ته چې علاقه ئې ښکاره کړه زما پته ور کړه.

يو ماښام هغه زموږ کورته راغلو. يو روسي افسر وه لوړه ونه ئې درلوده.

ما دهغې ځخه پوښتنه وکړه چې زه تاسوته څه خدمت کولی شم.

هغې ځواب راکړو چې زه دروښنائي لپاره راغلی يم.

ما دمقدس کتاب يو څه لازمي ځايونه دهغې سره وويل. خو هغې راته وويل چې زه نپوهيږم ما گمراه کوه مه ځکه چې زه دهغې خلکو ځخه يم چې په تاريکۍ کې ساتل شوي دي. لطفاً تاسو ووائی آيا دا کتاب واقعاً دخدای کلام دی؟ ما دهغې سره زياتې خبرې وکړې او هغه قناعت حاصل شوو او په مسيح باندې ايمان راوړو.

روسان هيڅ وخت دمذهبي مسائلو په مورد ساده فکر نکوي. که چيرې دوی دمذهب په ضد وجنگيدل او يا ئې مسيحيت قبول کړو دواړو خواو کې په قدرت سره وجنگيدل. په همدې سبب په روسيه که هر مسيحي يو ډير ښه تبليغ کوونکی دی او هيڅ بل هيواد په نړۍ کې دروسانو په شان دانجيل دميوې ځخه ډک ندی. روسان ډير مذهبي خلک دي او دخدای کلام ته ډير زيات وږی دی. خو داسې معلوميږي چې ټول ئې هير کړی دی.

په اورگاډي کې ما ته مخامخ يو روسي افسر ناست وه. پداسې حال که چې ما يو څو دقيقې دمسيح په هکله دهغې سره خبرې وکړې هغې په ډير لوړ آواز سره دبې ديني خبرې شروع کړې. دهغې دخولې ځخه دمارکس، لينين او نورو خبرې وتلې او دمقدس کتاب په ضد ئې استعمال کولې. هغې ماته هيڅ موقع رانکړه چې زه دهغې دخبرې ځواب ورکړم. او تقريباً يو ساعت ئې زما سره

خبری وکړی ترڅو ماته اطمینان راکړی چی خدای وجود نلری. کله چی هغی خپلی خبری تمامی کړی ما ورته وویل: «که چیری خدای وجود نلری دخطر په وخت کی ولی دعا کوی؟» ما هغه پرینښودو چی ځان خلاص کړی. بیا می پوښتنه وکړه چی ځواب راکړه ولی دعا کوی. لطفاً ځواب راکړه. هغی خپل سر تیت کړو او وی ویل چی زه اعتراف کوم چی کله موږ دنازی عسکرو سره جنګ کی محاصره شوو نو موږ ټولو خدای ته دعا وکړه خو په دعا باندی نه پوهیدو چی څه ووایو. زموږ خدماتو روسانو ته زیاته میوه وکړی ده.

زه پوتیر (پطرس) په یاد لرم. هیڅ څوک نه پوهیږی چی هغه دروسانو په کوم جیل کی مړ شو. هغه ډیر ځوان وه امکان لری ۲۰ کالو وی. هغه دروسی عسکرو سره رومانیه ته راغلی وه. هغه په یوه پټه جلسه کی ایمان راوړو. او زما څخه ئی وغوښتل چی زه هغه بپتسمه کړم. دا کار می وکړو. وروسته دبپتسمی څخه ما پوښتنه ځینی وکړه چی کوم یوه آیت دمقدس کتاب په تا تاثیر کړی وه چی ایمان راوړی. هغی وویل چی ما په ډیره توجو سره غوږ نیولی وه چی تا په پټه جلسه کی دلوقا دکتاب څخه دعیسی هغه قیصه چی دوه شاګردان ئی ولیدل چی عمواس ته تلل ولوستلو. کله چی کلی ته نیږدی شول عیسی داسی ښکاره کړه لکه چی غواړی چی لری لاړشی. پدی وخت کی پوتیر وویل چی زه حیران پاتی شوم چی ولی عیسی داسی وویل. خو په یقین سره هغی غوښتل چی دشاګردانو سره پاتی شی. نو ولی داسی وویل چی هغه غواړی چی لری لاړشی؟ زما فکر دا وه چی عیسی مؤدب سړی دی هغی امید درلوده چی هغه به قبول کړی. خو کمونیستان موږ په زور مجبور کوی چی ټوله ورځ دهغی څخه واورو همدارنګه هغوی دا کار په ډیر قوت سره مخته بوځی البته دراډیو، اخبارو، فلمونو او دنورو تبلیغی شیانو سره. موږ مجبوریدلو چی دهغو تبلیغات

واورو او په هغوی باندی عمل و کړو. خو مسیح دهغوی سره دیر فرق لری ځکه چی دمسیح غوښتنه دزړه او دټول وجود غوښتنه ده نه په زور او ظلم سره. پس دایمان راوړلو ځخه وروسته هغی په ډیره ایمانداری سره خپل ځان په خطر کی اچولو او درومانیه ځخه به ئی مسیحی نشریات روسیه ته دقاچاقو په ډول وړل. دپټو کلیساو سره مرسته کوله. په آخر کی هغه ونیول شو. زه پوهیږم چی تر ۱۹۵۹ کال پوری هم هغه په زندان کی وه. آیا هغه مړ دی؟ که په آسمان کی دی؟ او که تر اوسه پوری هغه دځمکی په مخ باندی جنګیږی؟ یوازی خدای پوهیزی چی هغه نن ورځ چیری دی.

دده په قسم سره نور هم یوازی ایمان ئی نه راوړل او نه باید دچا دایمان په راورلو سره مسیح ته زموږ کار ختم شی. ځکه چی پدی کار سره تاسو صرف نیم کار اجرا کړی دی. هر څوک چی خلاصون مومی باید صلیب په خپله وږه واخلی ترڅو نوروته دمسیح په نوم خلاصون ور کړی. روسانو نه یوازی ایمان راوړو بلکی دپټو کلیساو ډیر ښه مبلغین هم شول او هر وخت به ئی ویل چی دا کار دهغی لپاره چی خپل ځان ئی زموږ دخلاصون په خاطر قربانی کړو ډیر لږ دی.

## زموږ پټ خدماتو نه دهغی خلکو لپاره چی غلام شوی دی

زموږ دکار دویمه برخه پټ خدمت درومانیانو په منځ کی وه.

په ډیر لږ وخت کی کمونیستانو خپلی ځیری شکاره کړی او هغه ګمراه رهبران چی دوی دکلیسا لپاره ټاکلی وو استعمال کړل دا وخت وه چی بدبختی شروع شوه. په زراو خلک ونیول شول او جیل ته واچولی شول.

څه موده وروسته دهغه خلکو چی خدای زما سره ددوی په خلاصون کی مرسته کړی وه په جیل کی یو ځای شوم. زه دداسی یو سړی سره په جیل کی په یوه کوټه کی اوسیدم چی دخپل ایمان په خاطر بندی شوی وه او ۲ کوچنیان او ښځه ئی درلوده. هغوی وزی وو ډوډی ئی هم نه درلوده. امکان ئی درلوده چی هغه خپله کورنی بیا هیڅ ونه وینی. ما دهغی څخه پوښتنه وکړه چی آیا ته پښیمانه نه یی چی ما مسیح ته راوړی یی او ستا کورنی په تکلیفونو کی ژوند کوی. هغی وویل چی زه ددی لپاره هیڅ اعتراض نه لرم اونه پوهیزم چی له تاسو څخه څنګه مننه وکړم چی زه دداسی یو عجیب خلاصون ور کوونکی لاری ته رهنمائی شوی یم او زه به هیڅ کله په بله لاره لاړ نشم.

موږ پداسی یو حالت کی قرار درلوده چی دمسیح لپاره موعظه کول آسان کار نه وه. او موږ څو رسالی دمسیحیت پس دسخت کنترول او سانسور دکمونیستی حکومت څخه وتوانیدو چی هغه نشر کړو. هماد ډول موږ ډیر کتابونه چی دکارل مارکس، لینین او ستالین عکسونه ئی درلودل دکمونیستانو دسانسور څخه تیر کړل هغه داسی چی هغوی اول مقدماتی پاڼی دکتابونو وکتلی او ټول ددوی درهبرانو په هکله معلومات لیکلی شوی وو پدی خاطر دسانسور څخه تیر شول. خو بی خبره وو چی دلسمی پاڼی څخه وروسته ټول معلومات دعیسی مسیح په هکله لیکلی شوی دی. موږ دا کتابونه دکمونیستانو په مظاهراتو کی توزیع کړل او کله چی دوی دغه کتابونه وکتل چی د لینین، مارکس او ستالین عکسونه لری هر یو غوښتل چی یو کتاب واخلی. کله چی دوی په اصلیت باندی پوهیدل موږ ډیر لیری وو.

کمونیستانو دخلکو څخه ټول ژوند واخیست دبزگر څخه ئی ځمکه او دشپون څخه ئی میزی واخیستی. په همدی ډول دګنډونکی دهغی څخه کوچنی

دو کان واخیستی شوه. نه یوازی مالدارانو څخه ټول شیان واخستلی شول بلکی ډیر غریب خلک هم وزوریدل او خلکو دا پوښتنه کوله چی څنګه خدای شیطان ته اجازه ورکوی چی په خپلو اعمالو باندی بریالی شی.

همدارنګه درسولانو لپاره آسانه نوه چی دجمعی په ورځ باندی دعیسی په هکله موعظه وکړی. او عیسی مسیح هم ددی کلماتو په ویلو سره چی زما خدایه زما خدایه ولی دزه هیر کړی یم خپل روح ئی په صلیب باندی وسپارلو.

خو دا حقیقت هغه وخت معلوم شوه چی کار سرته ورسیدو. دا ثابته وی چی دا کار دخدای له خوا وه نه دموږ له خوا. دمسیحیت ایمان دغه پوښتنو ته داسی ځوابونه وائی؟

عیسی مسیح غریب ایلعازر په هکله موږ ته ویلی دی چی هغه وخت زما په قسم سره زوریدلی، غریب او وږی وه زخمونه ئی سپیو څټل مګر په آخیر کی هغه ملائیکو دابراهیم غیږی ته یوړو.

## څنګه پټه کلیسا لږڅه ښکاره کار کوی؟

پټه کلیسا تل په شخصی کورونو، باغونو، او نورو پټو ځایو کی مجلسونه جوړه وی. دهغه پټ مجالسو کی موږ دښکاره کار په باب خبری کوو. دکمونیست حکومت لاندی موږ یو پلان جوړ کړو چی خلکو ته په عمومی سرکو کی تبلیغ وکړو. خو دوخت په تیریدو سره دا کار خطرناک شو. بیاهم هغه کار چی موږ دخلکو لپاره په نظر کی نیولی وه سرته ورسیدو. زما ښځه پدی کار کی ډیره فعاله وه. دسرکو په یوه خوا کی یو څو مسیحیان سره جمع کیدل او په سرود ویلو به ئی شروع وکړل خلک جمع کیدل او ښکلی سرودونه

به ئی اوریدل او زما ښځې دهغې وروسته خپل پیغام خلکوته اعلان کولو. مخکې دهغې چې پولیس دغې ځای ته راورسیږي موږ دهغه ځای نخخه تللو.

یوه ورځ دغرمې چې زه یو بل ځای کې مصروف وم زما ښځې دمالاکسا دکارخانې په دروازه کې دبخارست په ښار کې کارگرانو ته دخدای او نجات په هکله خبرې وکړې. یوه ورځ وروسته کله چې کارگران دکمونیستانو په خلاف پورته شوي وو یو زیات شمیر مړه شول هغوی پیغام په خپل وخت اوریدلی وه.

موږ یوه پټه کلیسا مگر دیوحنا په شان چې بپتسمه ورکوله معلومدار مو دمسیح په هکله دخلکو او حاکمانو سره خبرې کول.

یو ځل دیوه دولتي تعمیر په زینو کې زموږ دو مسیحي ورونه زموږ صدراعظم گیورگیوديج ته ولاړل او په څو دقیقې وخت کې چې دوی درلوده هغې ته دمسیح په هکله شهادت ورکړو او ورته ئې وویل چې دزوړونو او گناهونو نخخه توبه وکړي. ددوی ښه شهادت په وجه دوی بندیان شول خو پس دڅو کالو کله چې صدراعظم ناجوړه شو کوم تخم چې هغه دوه مسیحیانو نخو کاله پخوا کرلی وو او دهغې لپاره بندیان هم شول میوه ونیوله او حاصل ئې ورکړو. هغه کلمې او خبرې چې هغوی صدراعظم ته په هغې وخت کې کړې وې دهغې په یاد راغلې. هغه کلمې دا وې لکه مقدس کتاب چې وایي: «تیز، قوي او په قسم دهغې توری چې دواړه خواوې تیزې وي» دهغې زړه پرې کړو او خپل ژوندی عیسی مسیح ته وسپارلو، خپل گناهونه ئې قبول کړل، نجات ورکوونکی قبول کړو او په خدمت ئې په هغه مریضی که شروع کړو. خو زیات وخت تیر نشو چې هغه مړ شو او خپل نجات ورکوونکی ته ورغلو لحکه چې دوه مسیحیان حاضر شول چې دهغې قیمت ورکړي. هغوی دکمونستانو په وطن کې قهرمانان وو.

پدی سبب پټی کلیسا نه یوازی په پټو جلسو کی گډون کولو بلکی پټ فعالیتونه ئی هم سرته رسول او ډیر زړه ورتوب سره شکاره په سر کونو او کمونیست رهبرانو ته وعظ هم کوله. موږ تیار وو چی دهغی قیمت ور کړو. په همدی ترتیب سره پټه کلیسا تیاره وه چی دا کار ور کړی او نن ورځ هم تیاره ده.

پټو پولیسو زموږ کلیسا ډیره زوروله ځکه هغوی هغه مقاومت چی خپل فعالیت ته ئی دوام ور کولو ویږندلو. که چیری دا مقاومت بدون د کومی مانع ځخه مخته تللی وای نو ددوی بی دینی له منځه تله. هغوی فوراً دعلاج په لټه کی شول. دوی صرف دا کولی شول چی موږ بندیان کړی خو دا کار ئی دلاسه نه وه پوره چی دخدای ایمان بندی کړی او ددی کار لپاره دوی ډیر زیات وجنگیدل.
خو پټی کلیسا په کمونیستی حکومت کی او حتی په پټو پولیسو کی هم خپل غړی درلودل.
موږ یو شمیر مسیحیانو ته هدایت ور کړی وه چی دپټو پولیسو په ځانگو کی شامل شی او ډیر خراب او دکر کی وړ کالی واغوندی ترڅو دپټو پولیسو راتگ ځخه کلیسا ته خبر راکړی. زیاتو ورونو دکلیسا ځخه دا کار وکړو. او خپل ایمان ئی پټ وساتلو. آسانه نده چه په اغوښتلو دکمونیستی یونیفورم خپلوان او دوستان در ځخه کر که وکړی او داصلی وظایفو په هکله خبر هم ونلری. بلی دوی دغه کار وکړو دومره عالی مینه ئی دمسیح سره درلودل.
مگر کوم وخت چه موږ ئی دمسیح بخاطر دعمومی سر ک ځخه وتیښتولو په کالوئی په ډیرو سختو شرایطو کی په پټو کوټو کی وساتلو. او زما دځای دمعلومولو لپاره یو مسیحی داکتر مخفی پولیسو کی شامل شوه. پدی صورت هغه اجازه درلوده چی دمخفی پولیسو دداکتر په توگه هر یوی کوټی ته ولاړ شی

و آرزوی درلوده چی ما پیدا کړی. ټولو دوستانو دهغی څخه بد راغلل پدی فکر چه هغه کمونیست شوی دی. دمسیح لپاره په دبندیخانی مرگ ښه ده دی نه زوروونکو دیونیفورم اغوستل.

هغه داکتر زه په یوه ډیره توره تیاره کوټه کی پیدا کړم او ماته ئی داسی موقع کی خبر راکړو چی زه لا ژوندی وم. هغه زما اولینی دوست وه چه په جریان د ۸ کالو دبندیخانی کی ئی زه پیدا کړم. پدی ترتیب سره په هر ځای کی آوازه پورته شوه چی زه ژوندی یم. په کال ۱۹۰۴ دیوی تاریخی ورځی پخاطر بندیان آزاد شول. او مسیحیانو زما دآزادی لپاره هم خپل آوازونه پورته کړل. هغه وه چی دیوی لندی مودی لپاره آزاد شوم.

که چیری دغه مسیحی داکتر چه زما لپاره په مخفی پولیسو کی شامل شو نه وی زه هیڅ وخت دبندیخانی څخه نه خلاصیدم او تر اوسه پوری به په بندیخانی که وای (یا په قبر کی)

هغه مخفی پولیس چه دپټی کلیسا غړی وو څو وارئی په مناسب وخت زموږ سره مرستی کړی دی او تر اوسه پوری هم موږ په مخفی پولیسو کی مسیحی کارکوونکی لرو چه دمسیحیانو دساتنی لپاره کار کوی حتی دکمونیستانو سره په رهبری حلقو کی دیو خاص نظر لارونکی مسیحیان شته چی خپل ایمان ئی ساتلی او زموږ سره زیاتی مرستی کوی. یوه ورځ به په آسمان کی هغه څوک چه عیسی مسیح ته په پټه سره خدمت کړی دی دټولو په مخ کی معرفی کړی.

اگرچه زیات دپټی کلیسا مخفی غړی کشف او ونیول شول. موږ دیهودا په شان هم ایمانداران درلودل چه مخفی پولیسو ته ئی راپور ورکولو. په وهلو، ټکولو، کشکولو او نورو طریقو سره کمونیستانو خپل کوششونه وکړل چی داسی خلک پیدا کړی چی دخپلو وروڼو په خلاف دوی ته راپور ورکړی.

# دویم فصل

ما په دوه ډوله چې پټ او رسمي کار وه د۱۹۴۸ کال دفبروری د۲۹ نیټی پوری فعالیت وکړو. دیکشنبي ښکلي ورځ وه پدی ورځ دخپلی کلیسا په لور راوان وم چې دمخفي پولیسو لخوا ونیولی شوم. او یوئی وړم.

ډیر خلک په هغه وخت کی دکمونیستانو لخوا داغسی نیولی کیدل. دپولیسو موټر زما مخی ته ودریدلو څلور سړی ځینی کښته شول او زه ئی ونیولم او موټر ته ئی واچولم. پدی ترتیب ۸ کاله زه ورک شوی وم. هیڅوک نه پوهیدو چې زه مړ یم او که ژوندی. دمخفي پولیسو غړی زموږ کورته لاړ وو او زما ښځي ته داسی وویل چې موږ په یوه کوټه کی دورمبراند سره سره بندیان وو. هغه اوس مړ دی او موږ دهغی په جنازه کی هم ګډون درلوده. زما دښځی زړه ټوټی ټوټی شوو.

په هغه وخت کی زیات شمیر خلک دهر ډول کلیساو څخه بندیان کیدل. جیلونه ډګ وو. په قسم دنورو کمونیستی هیوادو زوروانی کله واری ډیری درداونکی وی.

زه دا وایم چې هغه زوراونی چې په ما تیری شویدی زیات په هغه باندی خبری ونکړم. کله چې دهغی څخه خبری کوم دشپی خوب نه راځی.

په یوه بله کتاب کی ما ټولی هغه تجربی چه په جیل کی دخدای سره درلودلی په مکمله توګه می بیان کړی دی.

## هغه زوروانې چه دبیان وړندی

په نامه دفلوریسکو یو کشیش داوسپنی په سیخ سره چه ډیر زیات په اور گرم شوی وه ډیر سخت زورولی کیدو. پس دهغی وحشی موزک دیو پیپ له لارې دده په کوټه کی خوښی کیدل.

هغه مجبور وه چی دخپل ساتنی لپاره په ولاړی ودریږی او دخپل ځان څخه دفاع وکړی. دا کار ددو هفتو لپاره شپه او روځ دوام درلود. کمونیستانو غوښتل چی هغه مجبور کړی چی خپل ورونه افشا کړی. مگر هغه په زړه ورتوب سره مقاومت وکړو. کله چی ونتوانیدل چی دهغی نه کومه خبره واخلی نو دهغه ۱۴ کالن ځوی راوړو او دهغی دپلار په مخ کی په ډیره سختی سره ووهلو او کمونیستانو ورته وویل چی ترڅو هغه څه چی دوی غواړی ونه وائی تر هغی پوری به دا وهل دوام وکړی. پلارئی بیچاره نیږدی وو چی لیونی شی ځکه چی نور توان نه وه چی دخپل کوچنی ځوی زورونی تحمل کړی هغه وه چی په خپل ځوی باندی غږ وکړو چی زه نور نشم کولی چی دستا زورونی وگورم هر څه چی دوی وائی زه ئی قبلوم. دهغی ځوی ځواب ورکړو چی پلاره دا بی عدالتی زما سره مکوه چی خائن پلار ولرم. مقاومت وکړه دوی که ما ووژنی خو زه به دعیسی مسیح او وطن لپاره مړ شم. کمونیستان په هغه باندی په قهر شول او هغه باندی حملی وکړی او زورونی شروع کړی ترڅو دده وینی دهغی کوټی په دیوالو باندی ونښتی ولی هغی بیاهم دخدای ثنا او صفت ویل ترڅو مړ شو. مگر زموږ ورور فلوریسکو پس له دغی حادثی دپخوا په ډول نه وه.

زنجیرونه زموږ په ملیا باندی تړل کیدل چی دلاندی لخوا ډیر تیز وو که

چیری موږ په آرامه ناست وای نو تکلیف مو نه لیدلو خو په هغه کوټه کی کله چی ډېر ساړه له لاسه تکان خواړولو زنجیرونه چی دلاندی لخوا ډیر تیز وو زموږ ملیاوی به ئی چیری کولی.

مسیحیان ئی په سر باندی کیږی کول او دومره به ئی ووهل چی وجود به ئی دیوی خوا څخه بلی خواته حرکت کولو او همدارنگه مسیحیان ئی په یخو کوټو کی چی ډیر ساړه وه اچول. زه پخپله هم پدا ډول کوټو کی اچول شوی یم. هلته داکترانو دیوه کړ کی څخه کنترول کولو. که چیری یخ زموږ دمرگ سبب کیدلو نو بیائی موږ گرم ځای ته وړولو کله چی بیا لږڅه ښه کیدلو بیرته ئی هغه ساړو کوټو ته اچولو او بیا وهل پیل کیدل. زوریدل په رنگارنگ اشکالو سره حتی په حالت دمرگ به سزا راکړی شوه بیرته به ژوندی شوو. داغه کار همیشه دوام درلوده همدا سبب دی چه زه نن ورځ کله واری نتوانیزم چی یخچال خلاص کړم.

موږ مسیحیان دلرگیو په صندوقو کی چه لږڅه به زموږ څخه لوی وو اچول کیدو چه هیڅ ډول ځای دحرکت نه وه او په دی لرگیو صندوقو کی به ئی دداخل لخوا څخه په شکل داغزیو داوسپنی سیمونه ایستل شوی وو که چیری موږ په هغه کی ولاړ وای نو هیڅ تکلیف نه وه. پدی سبب موږ مجبور وو چی په ساعتونو ودریزو اما کله چی موږ ستړی کیدو او حرکت مو وجود ته ورکولو دغه داوسپنی اغزی زموږ په وجود کی ننوتل.

هغه څه چه کمونیستانو دمسیحیانو په حق کی کړی دی دانسان ددرک څخه بهر دی.

موږ دجسم او وینی په خلاف نه جنگیگو بلکه دشیطانی اصولو او قدرت په خلاف جنگیدو. موږ پوهیزو او وموليدل چی کمونیزم دانسان لخوا ندی بلکه

دشیطان لخوا څخه دی. قدرت شیطان یو روحانی قدرت دی چه یوازی موږ توانیزو چی دیو قوی روح پواسطه سره چی هغه دخدای روح دی دهغی مقابله وکړو.

ما اکثراً وخت دشکنجه کوونکو څخه پوښتنه کوله چی دستاسی په زړه کی رحم نشته. هغوی دلینین له قوله ځواب راکولو چی هگی بدون دماتولو څخه نه پخیږی او یا نتوانیږی چی لرگی پری کړی ترڅو دهغی ټوټی هوا ته پورته نشی. ما په ځواب کی وویل چی دا باندی زه پوهیږم خو دلته یو فرق وجود لری ځکه چی لرگی پری کوی نو هغه هیڅ احساس نلری خو دلته تاسو دیو انسان سره سروکار لری اما دا کار بی فایده وه ځکه چی دوی ماده پرست وو او انسان دهغوی لپاره یو لرگی یا دهگی پوستکی دی.

که چیری انسان دا ایمان ونلری چه ښه او بد اعمال سره جدا کړی نو هیڅ دلیل دهغی انسانیت لپاره وجود نلری او جنت او شیطانی اعمالو لپاره کوم عوض اصلاً نشته.

زه ډیر تأسف کوم که چیری یو تمساح انسان خوړی زه نتوانیزم چی هغه تمساح ملامت کړم ځکه هغه یو تمساح ده نه انسان. پس نشو کولی چی کمونیستان ملامت کړو ځکه چی په دوی که هر ډول انسانی احساس له منځه ولاړ دی.

ما دهغوی څخه زده کړل چی دوی هیڅ ډول احساس په زړه کی دمسیح لپاره نلری لذا زه هم ډیر کوچنی جای به دشیطان لپاره پخپل زړه کی پرینږدم.

ما دامریکا دسنا مجلس دداخلی امنیت کمیتی ته خپل شهادت ورکړو. ما دمسیحیانو بسته کول په صلیب باندی دڅلورو شپو او ورځو لپاره چی ډیر وحشتناک وه واضح کړل. دا صلیبونه دکوټی په مخ باندی ایښودل کیدل او

سلوو بندیان مجبور وو چی خپل جسمی ضروریات دهغه ایماندارانو په مخ او وجود باندی پوره کړی بیائی دوم ځل لپاره صلیبونه درول او کمونیستانو دا ډول ټوکی کولی چی وګوری ستاسو مسیح! هغه څومره ښکلی دی څومره ښکلی بوی دآسمان څخه راوړلی دی. ما توضیع کړل چی پس دسختو زورولو څخه یو پیشوا ئی چی لیونتوب ته نیژدی وه مجبور کړلو چی غایته مواد او ادرار دخدای دمابښام لپاره تیار کړی او ایماندارانو ته ئی ور کړی. دغه کار درومانیا دپتستی په جیل کی وشولو. وروسته می دهغی پیشوا څخه پوښتنه وکړه چی ولی مو مرګ نه قلبولو ددی په ځای چی پداسی کار کی ګډون وکړی. هغی ځواب راکړو چی لطفاً په ما باندی قضاوت مه کوه ما دمسیح څخه زیات تکلیفونه ایستلی دی. ټول هغه تکلیفونه چی مقدس کتاب کی لیکلی شوی دی دهغی څخه زیات دکمونیستانو په جیلونو کی موږ تیر کړی دی. دا صرف دیو مثال په توګه سره چی دیکشنبی په ورځ باندی دپتستی په جیل کی دا کار شوی وه ډیر زیات مثالونه موجود دی که ټول هغه ووایم زړه به می له کار څخه ولویږی ځکه چی داسی وحشی کارونه سرته رسیدلی دی چی دباور وړ ندی.

یو دقهرمانانو څخه چی واقعاً ډیر عالی ایمان درلوده میلانانو مووسی کشیش وه. جیلونه ډک وو او دجیل ساتونکو موږ په خپلو نومو باندی نه پیژندلو. هغوی هغه چا ته غږ کولو چی هغه دجیل دقانون سره سم په جزاه باندی محکوم شوی وو. اکثراً وخت کشیش میلان دبل چا په ځای وهلو ته ورتللو پدی ترتیب ددغی کار په وسیله سره ئی نه یوازی دبندیانو درناوی ځانته حاصل کړو بلکه دمسیح لپاره هم ځکه چی دهغه استازی وه. که چیری ما غوښتل چی دکمونیستانو وحشی کارونه او دمسیحیانو قربانیو دوویلو ته دوام ورکړم زه هیڅ کله هغه نشم خلاصولی او نه یوازی هغه زورونی مشهور دی بلکه دهغوی اعمال هم مشهور

دی. یوه ځوانه انجلی چی په پټه کلیسا کی کارگوه وه دپټو پولیسو لخوا کشف شوه چی هغی کوچنیانو ته دمسیح په باب درس ورکوله او ضمناً په پټه ئی انجیل هم خپروله. دوی تصمیم ونیولو چی دا انجلی جیل ته واچوی خو ددی لپاره چی دهغی نیول دردناک او مؤثر کړی نو دوی تصمیم ونیولو چی دهغی نیول دیوڅو هفتو لپاره وځنډوی. ددهغی دواده په ورځ چی هغی ښکلی کالی اغوښتی وو ځکه چی دیو انجلی لپاره په ټول عمر کی دایوه دخوښی نه ډکه ورځ وی دفعتاً مخفی پولیس دواده محفل ته راننوتل. کوم وخت چی ناوی پولیس ولیدله نو خپل لاسونه ئی ور وړاندی کړل ترڅو زولنی ورته واچوی او خپل میړه خواته ئی وکتل او بیائی هغه زولنی ښکول کړی او دائی وویل چی زه دآسمانی زوم نه مننه کوم چی زه ددغی ارزښت لرم چی دهغی لپاره وزوریږم. حال دا چی ټول مسیحیان او میړه ئی په ژړا کی شاته پریښودل هغه ئی بوتلل. هر څوک پدی باندی پوهیږی چی دیوی ځوانی انجلی سره پداسی شرایطو کی دساتوونکو لخوا په جیل کی څه ډول کارونه سرته رسیږی. پس دپنځو کالو هغه آزاده شوه. یوه ښځه چی ډیره آرامه معلومیده لکه ډیرش کلن چی وی. میړه ئی هغی ته انتظار ایستلی وه. هغی وویل چی دغه ډیر لږ شی وه چی دمسیح لپاره می وکړی شو. پدی قسم سره ښکلی مسیحیان په پټه کلیسا کی شته.

## دمغزو پریمینځل څه ډول دی !

غربیانو حتماً دمغزو دمینځلو په هکله دکوریا او اوس هم دویتنام په جنگ کی اوریدلی دی. زه پخپله هم دمغزو دمینځلو څخه تیر شوی یم. دا ډیره سخته ده. په کالو کالو باید داولسو ساعتو لپاره هره ورځ کینسلی وی او دغه مو باید

اوریدلی وای:
کمونیزم ښه
کمونیزم ښه
کمونیزم ښه
کمونیزم ښه
مسیحیت احمقانه
مسیحیت احمقانه
مسیحیت احمقانه
پریزیده
پریزیده
پریزیده
پریزیده

د ۱۷ ساعتو لپاره هره ورځ په هفتو اومیاشتو.

ډیرو مسیحیانو له ما څخه دا پوښتنه کوله چې څنګه کولی شو چې دمغزو دپریمینځلو په مقابل کې مقاومت وکړو. ما ویل چې یوه طریقه دهغی دمقاومت لپاره وجود لری هغه دزړه مینځل دی. که چیری زړه دمسیح عیسی دمینی په وسیله سره پاک شوی وی نو کولی شی چې تولی او هر قسم زورونی قبولی کړی او مقاومت وکړی. ځکه چې یوه ناوی دخپل زوم لپاره او یا یوه مور دخپل کوچنی لپاره کوم کار نشی کولی. که چیری تاسو مسیح سره دهغی مریمی په شان چې مسیح په خپل غیږ کی لوی کړو مینه کوی نو تاسو کولی شی چې هر ډول زورونی تحمل کړی. خدای زموږ دتحمل سره سم پر موږ قضاوت نکوی بلکه زموږ دمینی په اندازه چې دهغی سره ئی لرو قضاوت کوی.

زه دهغی مسیحیانو لپاره چی په کمونیستی جیلونو کی دی شاهید یم چی دوی و کړی شول چی مینه و کړی همدارنگه وتوانیدل چی دخلکو او خدای سره مینه و کړی. زوروني او وحشت بدون دمعطلی څخه دوام درلوده. کله چی زه بی خوده وم او په خپل ځان نه پوهیدم او دوی ونتوانیدل چی زما څخه اقرار واخلی بیرته به ئی کوټی ته راوړلم او هلته به پروت وم او هیڅوک زما مرستی ته نه راتللو. ترهغی چی بیا می قوت اخیستلو ترڅو دوی بیاهم په ما باندی کار و کړی. زیاد خلک پدی ترتیب سره وژلی کیدل مگر ما به بیا قوت اخیستلو.

په آخیر کالو کی په مختلفو جیلونو کی دسختی زوروني لاندی زما دملا او دوجود دنورو حصو هډوکی ئی مات کړل او زما وجود ئی پری پری کړلو. هغوی زما دوجود ۱۸ برخی وسوزولی او سوری سوری ئی کړلی. ما ددی زخمونو نه علاوه تبر کلوز مریضی هم درلود. کله چی داکترانو په اوسلو کی معاینه کرم وویل چی نن ورځ ددوی دطبی کتابونو له مخی زه باید څو کاله مخکی مړ شوی وی مگردا یوه معجزه وه چی زه ژوندی پاتی شوم. زه پخپله هم پدی باندی پوهیږم چی دا یوه معجزه وه. زه ایمان لرم چی خدای دغه معجزه وکړه ترڅو زه تاسو ته دپټی کلیسا لخوا چی داوسپنی سرحد شاته ده آواز راوړم. ځکه چی خدای ژوندی وساتلم ترڅو په لوړ آواز سره دخپل دهغی ایماندار ورونو تکلیفونه تاسو ته ووایم.

## دلنډ مودی لپاره خلاصون ـ او بیا نیول کیدل

۱۹۰۴کال راورسیدو زه ده اته نیمو کالو لپاره په جیل کی وم او ښځه می دلاسه ورکړی وه. داغونه راباندی وو او ډیر زیات وهلی شوی وم. رنگارنگ

تکلیفونه راباندی تیر شول خو دکمونیستانو رضایت حاصل نشو. هغه وه چی په ډېر افسوس سره ئی زه خلاص کړم. او زه ئی فقط دیو هفتی لپاره پریښودم چی پخوانی ځای ته ولاړشم.

ما دوه سرودونه وویل او هغوی زه داخل ته وغوښتلم او وویل چه نور ته وعظ نشی کولی او نه په زیاتو مذهبی مجلسو کی ګډون کولی شی. ما څه وویل؟ ما صرف دا نصیحت خپلو دوستانو ته وکړو چی تحمل باید ولری. پولیس چیغه کړه یعنی دا چه تحمل وکړی او امریکایان به راشی او دوی به ټول خلاص کړی. ما داهم ویلی وو چه څرخ ګرځی او وخت به تغییر وکړی. هغوی پا ما باندی چیغی وکړی چی تاسو دا وائی چی کمونیستان به حکومت ته دوام ورنکړی. دا دانقلاب ضد دروغ دی. دغه وو زما دځرګند خدماتو آخیر. شاید حکومت پدی فکر وی چه زه به وترسیږم او دیپ بشارت سره یو ځای نه شم. دا هغه ځای وه چی دوی اشتباه وکړه. زه هغه مخفی کار ته چی ما پریښودلی وه بیرته راوګرځیدم او دخپل فامیل مرستی سره می دا کار شروع کړو. دوم ځل لپاره ما دایماندارانو لورته په شهادت ورکولو شروع وکړه او په قسم دیو روح دهغه چا دحمایت سره چی داعتبار وړ وو تلم او راتلم.

همدارنګه ما دمبلغینو یوه شبکه رهبری کولو چی دکمونیستانو پټی سترګی او دخدای په مرسته دانجیل دتوزیع کولو په کار کی می دنور سره مرسته کوله. دټولو نه مهمه خبره دادی چی هغه دومره ړوند وه چی نشی کولی دخدای هغه لاس چی پکار لګیا دی ووینی نو دیو مبلغ لاس هم نشی لیدلی. په آخیر کی دپولیسو همیشه توجو ماته او زما فعالیتو ته نتیجه ورکړه او زه بیا ونیولی شوم. په کوم نامعلوم علت سره دا ځل زما فامیل بندی نکړو شاید پدی سبب چی زه مشهور شوی وم. ځکه چی اته نیم کاله بندی شوم او بیا دری کاله

آزاد شوم. دا ځل زه دپنځه نیمو کالو لپاره بندی کیدم. دا واری زما حالت ښه نه وو. زه ښه پوهیدم چی دڅه انتظار ولرم. زما صحی حالت ډیر زر خراب شو ځکه چی ما دېتی کلیسا کار دکمونیستانو په پټ جیل کی سرته رسولو.

## موږ یوه معامله وکړه ـ موږ وعظ کوله او دوی به وهلو

وعظ نورو بندیانو ته بالکل منع وه. پدی پوهیدم چی هر څوک داسی کار وکړی سخت به ووهلی شی. موږ یو شمیر دغه تصمیم ونیولو چی دانجیل لپاره دا قیمت ادا کړو. پدی سبب موږ ددوی شرایط ومنل.

دا یوه معامله وه موږ به وعظ کوله او دوی به وهلو. موږ پخپل وعظ کی خوښ وو او دوی زموږ په وهلو خوښ وو. پدی ترتیب هر څوک خوښ وو. دا عمل زیات دهغی ښځه چی زه ئی په یاد لرم تکرار شوه. یو ورور دانجیل ښځه نورو بندیانو ته خبری کولی چی یوه ناڅاپه ساتونکی راننوتل او هغی دیو آیت په ویلو کی ولیدلواو کوټی ښځه ئی وایستل ترڅو دوهلو کوټی ته ئی بوځی. وروسته دزیاتو وهلو او ټکولو ښځه بیا ئی راوړو. دوینو ډک او پوستکی شین شوی وه او په داسی حال کی چی په ځان نه پوهیدو کوټی کی واچولو. کله چی په هوش راغی نو خپلو خبروته ته ئی داسی دوام ورکړو: «ما په کوم ځای کی درس پریښی وه». ځینی وختونه تبلیغ کوونکی کارگران او ساده خلک وو خو کله چی دروح القدوس ښځه ډکیدل ډیره ښکلی وعظ ئی کوله. ټول زړه ئی دکلمو ښځه ډک وه.

دا کومه لوبه نه وه چی په داسی حالت کی څوک وعظ وکړی ځکه چی ساتونکی به راتلل او وعظ کوونکی وړل او په مرگ به ئی وهل. دگیرلا په جیل

کی په نام دگریکو یو مسیحی په سزا دوهلو او ټکولو تر مرگه باندی محکوم شو. دا کار څو هفتو لپاره دوام وکړو هغه ئی ډیر ورو ورو وهل یو حل به ئی درابر سره په پښو ووهلو او بیائی پریښودو خو پس له څو دقیقو بیا به ئی وهلو. دا کار څوځلی دوام پیدا کړو وروسته یو داکتر هغه پیچکاری کړو، هغی صحت پیدا کړو او ښه خواړه ور کړل ترڅو هغه صحت پیدا کړی. بیائی دهغی په وهلو باندی شروع وکړه ترڅو هغه مړ شو.

کوم سړی چی داغه وهل او ټکول ئی کول دکمونیست گوند درهبری کمیټی غړی دریک په نام وو. کله واری ریک داسی خبری کولی چی اکثراً وخت به کمونیستانو مسیحیانو ته کړی لکه: «ته پوهیزی چی زه خدای یم او قدرت دمرگ او ژوند په تا باندی لرم هغه څوک چی په آسمان کی دی هغه نشی کولی چی تصمیم ونیسی او تا ژوندی وساتی. هرڅه په ما پوری مربوط دی. که زه و غواړم ته به ژوندی پاته شی او که نه مړ به شی. زه خدای یم».

پدی ترتیب سره هغه په مسیحیانو باندی لوبی وهلی. ورور گوریکو په هغه حالت کی یو ډیر دلچسپ ځواب ریک ته ور کړو چی وروسته ما پخپله دریک څخه واوریدو.

هغی وویل چی ته نه پوهیږی چی څومره دمعنی ډکه کلمه دی استعمال کړی دی. ته واقعاً چی خدای یی. داوریښمو هر یو چینجی په حقیقت کی یو پتنگ دی که چیری ښه لوی شی. تاسی ددی لپاره نه ئی پیدا شوی چی یو زورونکی چی خلک وژنی ووسیږی. تاسی دخدای په ډول سره پیدا شوی یی. عیسی مسیح یهودیانو ته په هغه وخت کی وویل چی تاسو خدایان یاست. دخدای خصلتونه دستاسی په زړه کی هم وجود لری. دستاسی په ډول سره زیات کسان وو زیات زورونکی دپولس په شان خو ټول په خپل ژوند کی کله چی پوه شول چی دا ډیر

دشرم ځای دی چې انسان جنایت کوي ځکه چې انسان کولی شی چې ډیر ښه کارونه وکړی نو دوی دخدای په طبیعت کې شریک شول. تاسو باور وکړی ښاغلی ریک ریښتیا آواز ستاسو لپاره دا دی چې خدای ووسیږی. په قسم دخدای نه زورونکی. په هغه وخت کې ریک دخپلی قربانی خبروته زیاته توجو ونکړه لکه شاول چې داستیفان ښکلی شهادت ته چې دهغی په مخ کې مړ شو توجو ونه کړله.

اما دهغی خبرو دده په زړه کې ځای ونیوه او ریک وروسته پوه شو چې دا آواز دحقیقت دده لپاره وه. یو ډیر عالی درس مو دټولو زورونو ـ وهلو ټکولو دکمونیستانو څخه واخیست چې روح دبدن خاوند دی. اکثراً وخت چې زوریدو هغه مو احساس کولو خو کوم شی دلیری نه زموږ دروح څخه ټول دردونه په حضور او جلال دمسیح لږ کیدل. کله چې موږ ته یو ټوټه ډوډی دیوی هفتی لپاره او څټل سوپ هره ورځ راکول تصمیم مو ونیولو چې په ډیره وفادرای سره یو لسم برخه ور کړو.

هره لسمه هفته کې مو هغه یوه ټوټه ډوډی اخیستله او یو کمزور او بی توان ته مو ور کوله. دا زموږ یو لسم خدای ته وه. یو مسیحی په مرگ باندی محکوم شوه مخکی له دینه چې مړ شی هغی ته اجازه ور کړی شوه تر څو خپله ښځه ووینی اول خبری چه خپلی ښځې ته وکړه دا وه: «ته باید پوه شی چې زه په داسی حال کې مرم چې دهغی سړی سره چې ما وژنی مینه لرم. ځکه چې دوی نه پوهیږی چې څه کوی او زما آخری غوښتنه دا دی چې ستا په زړه کې هم باید ددوی په نسبت کر که نه وی چې دوی ستا مړه وژنی. موږ په آسمان کې یو دبل سره گورو. دغه خبری یو دپټو پولیسو افسر چې دهغوی دملاقات په وخت کې دکنترول لپاره حاضر وه دتاثیر لاندی راوست او دغه قیصه هغی پخپله موږ ته په

جیل کی وکړه.

دتیر گواکنا په جیل کی یو ځوان په نامه د ماتچوویکی بندی وه. هغه اته لس کلن وه. ډیر وهلو او زوروله دلاسه هغه دتبرکلوز په مریضی اخته شو. دهغی کورنی خبر ترلاسه کړو چی هغه په کوم حالت کی دی نو هغی ته یې سل بوتله ترپیتومایسین ولیږل چی دهغی دژوند او مړینی په مینځ کی فرق راوستی شوه. دجیل سیاسی افسر هغه وغوښتلو او خپل پارسل ئی ورته وښودلو او ورته ئی وویل چی دغه دوا ستا ژوند ساتلی شی. خو ته هیڅ اجازه نلری چی دخپلی کورنی څخه پارسل ترلاسه کړی.

اما زه نه غواړم چی ته په جیل کی مړ شی. زما سره مرسته وکړه ترڅو زه وکړی شم چی ستا سره مرسته وکړم. دخپلو ورونو په خلاف ما ته معلومات راکړه او دغه کار به زما سره مرسته وکړی چی زه ځان خپل لوی افسر ته حق په جانب وښایم چی ولی می تاته دوا درکړه. ماتچوویکی سمدلاسه ځواب ورکړو چی زه نه غواړم ژوندی پاتی شم او دشرم دلاسه خپل وجدان ناقراره کړم. زه دغی شرط په مقابل کی مرگ منم. دپولیسو افسر هغی سره لاس ورکړو او وویل چی مبارک ما دستا څخه دبل ځواب انتظار نه درلوده خو زه غواړم چی یو بل پیشنهاد وکړم. هغه دا چی یو تعداد بندیان زما جاسوسان شوی دی او دوی دعوا لری چی کمونیستان دی او تاسو نه پیژنی. هغوی دواړو خواوته کار کوی. زه په هغوی باندی یقین نلرم او زه غواړم چی پوه شم چی هغوی څومره ښه دی. دستاسو لپاره هغه خائنین دی. او دوی دستاسو لپاره زیات نقص رسوی او موږ ته دستاسو په هکله معلومات راکوی. همدارنگه زه پوهیږم چی تاسو نه غواړی چی دخپلو ملگرو په هکله معلومات راکړی. خو دهغی چا په هکله چی دستاسو په خلاف دی معلومات راکړه. او زه تا ته نجات درکوم.

ماتچوونکی فوراً داول په شان څواب ورکړو او وی ویل چی زه دعیسی شاگرد یم. کوم څخه ئی چی ما ته رازده کړی دی چی حتی دخپلو دښمنانو سره باید مینه وکړم او هغوی که ما رسوا کوی او یا څه نقص را رسوی خو زه نشم کولی چی دبدی په مقابل کی بدی وکړم. زه نشم کولی چی دهغوی په خلاف تاسو ته معلومات درکړم. زه په هغوی باندی رحم کوم ضمناً نه غواړم چی دکمونیستانو سره ارتباط ولرم. دهغی افسر دخبرو څخه را وگرځیدو او په هغه کوټه کی چه زه وم مړ شو. ما هغه دځنکندن په وخت کی ولیدلو چی دخدای ثنا او صفت ئی ویل. مینه دژوندانه طبیعی تږی توب دانسان له منځه وړی.

که چیری غریب سړی دموسیقی سره ډیره مینه ولری هغه به خپلی وروستی پیسی هم دکنسرت لیدلو لپاره ورکړی پس له هغی به هیڅ پیسی ونلری خو خوښ به وی ځکه چی هغی ښکلی شیان لیدلی دی. زه هم خپگان نه احساس کوم چی ووایم ډیر کلونه په جیل کی وم. خو دا افتخار لرم چی دهغی قهرمانان ایماندارانو سره چی پیړی پیړی مخکی رسولانو سره برابر شوی دی په جیل کی وم. هغوی دمرگ په لور یعنی دمسیح په لور تلل. زه نشم کولی چی ددغه رسولانو او دایمان قهرمانانو روحانی ښکلی توب توضیع کړم. کوم څه چی زه دلته وایم استثنائی نه ده. دپټی کلیسا مسیحیانو ته هغه څه چی طبیعی نه وو طبیعی شول. پټه کلیسا هغه کلیسا ده چی ددوم ځل لپاره داولینی مینی په شان تیاره شوی ده. مخکی دهغی څخه چه زه جیل ته ولاړ شم ما مسیحیان ډیر خوښیدل خو وروسته دجیل څخه دا ویلی شم چی پټه کلیسا دومره زیاته راته گرانه ده لکه مسیح ځکه چی ما دهغی دقربانی روح ولیدلو.

## زما ښځې او زوی ته څه پېښ شول :

زه یې دخپلې ښځې ځخه لرې کړم. پس له هغې زه نه پوهېدم چې هغې ته څه پېښ شول. خو پس له څو کالو څخه خبر شوم چې هغه ئې هم جیل ته اچولې ده. مسیحي ښځې نسبت مسیحي سړیو ته په جیل کې تکلیف وینې.

وحشي ساتوونکي به ښځې بې پته کولې او دوی سره به ئې لوبې وهل. بندي ښځې ئې په یو تونل کې چې نوی جوړیدو دغلامانو په شان کارته مجبور کول او دسړیو په شان ئې کار وربانـدې کولو. زما ښځې دوزې له لاسه واښه خوړلي وو.

ځکه چې پدې تونل کې ایمانداران دلوږې دلاسه مجبوریدل چې موږک او منګارونه وخوري. دساتوونکو یوه خوښې دیکشنبه په ورځ باندې دا وه چې ښځې داوبو ډنډ ته واچوي و پس له هغې ماهي ونیسي او هغوی باندې وخاندي او لانده صورتونه ئې وګوري. زما ښځه هم اوبو ته اچولې شوې وه.

هغه وخت چې زه او ښځه مې بندیان شولو نو زما کوچنی زوی په کوڅو کې سرګردان وه. میهای دکوچنۍ والۍ ځخه مذهبي وو او دایمانداری سره ئې مینه درلوده. کله چې مور او پلارئې په ۹ کلنۍ کې بندیان شول هغه دیوه مسیحي ژوند له کشمکش څخه تیریدو او ډیر تریخ هلک وه. او دمذهب په هکله پوښتنې ئې کولې. هغې پدې عمر کې مشکلات درلودل چې نور کوچنیان ئې نلري. هغې باید دخپل ژوند په هکله فکر کړی وای. دا یو جرم وه چې څوک دمسیحي شهیدانو کورنیو سره مرسته وکړي. دوه ښځې چه زما دزوی سره ئې مرستې وکړې ونیولې شوې او دومره ووهلې شوې چې ورروسته دپنځلس کالو څخه بیا هم هغه ګوډاده. یوه بله ښځه چې خپل ژوند ئې په خطر کې واچولو او

میهای خپل کورته بوتللو.

هغه په ۸ کالو جیل محکومه شوه. او پدی سبب هغه ټول غاښونه دلغتی په واسیله دلاسه ور کړل ځکه چی دبندیانو کورنیو سره مرسته کول. هلته کی ورته مات کړل او هیڅکله به بیا ونتوانیږی چی کار وکړی او ټول عمر به گوډ پاته شی.

## «میهای په عیسی باندی ایمان راوړه!»

پس د پوولس کلنی څخه میهای دیو کارگر په صفت په کار شروع وکړه. پیسی ئی درلودلی خو دده په ایمان کی کمزوری او تکلیفونه پیدا شول. زما دښځی دده کالو بندخانی وروسته هغی ته اجازه ور کړی شوه چی خپله مور وگوری.

هغه دکمونیستانو جیل ته ولاړو ترڅو خپله مور داوسپنی سیخو شاته وگوری. مورئی ډیره دنگره او چټله وه او لاسونه ئی بیحسه وو. او هغه زاړه دبندیخانی کالی چی دهغی په غاړه وو په ډیر مشکل سره ئی خپله مور وپیژنده. دمور اولنی خبره خپل زوی ته دا وه چی زویه په عیسی مسیح باندی ایمان راوړه. دزندان ساتوونکی په قهر شول او مورئی کش کړه او بیرته ئی بوتلله. میهای چی خپله مور ئی لیدله او دهغی څخه لری کیدله وی ژړل. دا هغه وخت وه چی هغی ایمان راوړو. هغه پوهیده چی که چیری دمسیح سره دومره مینه په داسی حالت کی کیدی شی نو هغه واقعاً نجات ور کوونکی دی.

هغه وای چی که دمسیحیت په گټه بل هیڅ دلیل وجود ونلری نو دا به زما لپاره بس وی چی زما مور په هغی باندی ایمان لری. داهغه ورځ وه چی هغی

بالکل په مسیح باندی ایمان راوړو. په مکتب کی هغی دخپل ژوند لپاره همیشه یوه جګړه درلودله. هغه یو ښه زده کوونکی وه او هغی ته ئی یوه سره نکتائی چی دکمونیست ځوانانو دپیشاهنګانو غړیتوب دی ور کړی شوه. زوی می وویل زه دهغی چا نکتائی نه په غاړه کوم چی زما مور او پلار ئی بندی خانی ته اچولی دی. پدی سبب ئی هغه دمکتب څخه خارج کړو او وروسته دیو کال څخه بیا شامل شوه خو دا ځل ئی داخبره پته کړه چی دی دیوه مسیحی بندی زوی دی. بیا هغی باید یو مضمون دمقدس کتاب په خلاف لیکلی وای.

هغی ولیکل چی مباحثات دمقدس کتاب په هکله ضعیف دی. اقتباسات دهغی په خلاف باندی حقیقت نلری. یقیناً پروفیسر مقدس کتاب نه وه ویلی او مقدس کتاب دساینس سره مطابقت لری. هغی بیا دمکتب څخه خارج کړو. دا ځل هغی دوه تعلیمی کاله له لاسه ور کړل. په آخر کی هغی ته اجازه ور کړی شوه چی په پوهنتون کی درس ووائی. هلته دمار کسیسزم دایدلوژی درس ور کول کیده او هرڅه دمارکس دایدلوژی سره سم تشریح کیدل. میهای ددی په خلاف باندی اعتراض وکړو او نور شاګردان هم ورسره ودریدل. نتیجه دا چه هغه بیاهم اخراج شولو او ونتوانیدو چی خپلو درسونه دوام ور کړی. هغی به همیشه داخبره پته وله چی هغه دمسیحی بندی ورمبراند زوی دی. مګر اکثراً خلک په دی خبریدل.

زه صرف دهغی کورنی حالت بیان کوم چه زه ئی پیژنم. یو ورور دپښتی کلیسا دکار په سبب جیل کی واچولی شو. هغی سڼځه او شپز کوچنیان درلوده. دهغی دوی لوی لورګانی چه یوه ئی ۱۷ کلن او بل ئی ۱۹ کلن وه ونتوانیدی چی کار پیدا کړی ځکه چی په یوه کمونیستی هیواد کی کار بدون دحکومت څخه نه پیدا کیږی او دا دول حکومت هیڅ کله دمسیحیانو (جنایتکارانو)

کوچنیانو ته کار نه ور کوی. لطفاً په دی قیصه باندی داخلاقی موازینو له مخی
قضاوت ونکړی. صرف حقایقو ته وگوری. دا انجلی دیوه قهرمان مسیحی لور
او په خپله هم مسیحی وه. ددی لپاره چی مریضه مور او کوچنی وروڼه ئی ساتلی
وی فاحشی شولی. څوارلس کلن ورورئی چی دغه حالت ولیدلو لیوانی شو او
هغی دلیوانیانو کوټی ته واچولو. وروروسته د څوکالو کله چی پلار ئی دجیل
څخه خلاص شو او کور ته راغلو نو هغی هم صرف دا دعا ئی کوله چی خدایه
زه دغه حالت لیدلی نشم خوښ یم چی بیرته جیل ته ولاړ شم. دهغی دعا قبوله
شوه او هغه اوس په جیل کی دی ځکه چی هغی کوچنیانو ته دمسیح په هکله
شهادت ور کړی وه. دهغی دواړه انجلی اوس فاحشی ندی په ډیره کامیابی سره
دهغی پټو پولیسو سره ئی کار پیدا کړو. هغوی جاسوس شول او دیوه شهید
مسیحی دلورگانو په حیث هر کورته چی ځی په ډیر درناوی سره قبلیږی. هغوی
غوږ نیسی او هرڅه چی اوری هغه بیا پټو پولیسو ته وائی. صرف دا مه وائی چی
دا بدکار او یا بد اخلاقی دی. تبعاً دی خو دخپل ځان څخه وپوښتی چی آیا دا
دستاسی گناه هم نده چی دا ډول تراژیدی منځ ته راځی او دا ډول دمسیحی
کورنی یوازی پاتی کیږی. البته بدون دستاسی دمرستی څخه چی آزادی اوسیږی.

# دریم فصل

ما ټول ۱۴ کاله په جیل کی تیر کړل. پدی ټول وخت کی ما مقدس کتاب او یا کوم بل کتاب ونه لیدلو. ما هیر کړی وو چه څنګه ولیکم. دلوږی او سختو زورونو په خاطر ما آیتونه هم هیر کړی وو. خو پس د ۱۴ کالو بندخانی څخه دا آیات می یاد ته راغلو: «یعقوب دراحیل لپاره ۱۴ کاله کار وکړو او دا وخت دهغی لپاره ډیر لږ معلومیده ځکه چی دراحیلی سره ئی مینه درلوده».

پس له لږ وخت څخه په یوه عمومی عفوه کی آزاد شوم چی زیات تأثیر دامریکی عامه افکار وو.

ما ددوم ځل لپاره خپله ښځه ولیدله. هغی دټولی وفاداری سره ۱۴ کاله زما لپاره انتظار ایستلی وه.

موږ دسختی غریبی څخه خپل نوی ژوند شروع کړو ځکه چی هر څوک چی بندی کیږی هرڅه دلاسه ور کوی.

کشیشان او رهبران کله چه آزاد شول و توانیدل چی کوچنی کلیساوی شروع کړی. ما ته یوه کلیسا د اوسووا په ښار کی راکړی شوه. دمذهب په څانګه کی کمونیست مسوول راته وویل چی دا کلیسا ۳۵ غړی لری او باید ۳۲ نشی او دائی هم راته وویل چی زه باید هغوی جاسوس ووسپږم او دکلیسا دهر غړی په مورد باید پټو پولیسو ته راپور ور کړم. او ځوانان باید لری وساتم. کمونیستانو پدی ډول سره کلیساوی دیوی کنترولی وسیلی په ډول استعمال کولی.

زه پوهیدم که چیری وعظ وکړم شاید ډیر خلک راشی. مگر ما کوشش

ونکړو چې په رسمي کليساو کې شامل شم. بيامې په پټه کليسا کې کار شروع کړو او ټول خطرونه او ښکلا مې ددغه کار قبول کړو.

هغه کالونه چې زه بندي وم خدای کار کړی وه. پټه کليسا نوره داسې کليسا نه وه چې هيره شوې وی ځکه چې امريکايانو او نورو مسيحيانو دعا او مرستې زموږ سره شروع کړې وی.

يوه غرمه ښځه زه ديو ورور په کور کې چې په ولايتي ښار کې وه بيده وم. زه هغې ويښ کړم او وی ويل چې ورونه دبهر ښځه راغلې دی. هغوی غربي مسيحيان وو چې موږ ئې نه وو هير کړی. مسيحيانو يو پټ شرکت دمسيحي شهيدانو دکورنيو دمرستې او قاچاقي مسيحي نشرياتو لپاره جوړ کړ وه.

په بله کوټه کې ما شپږ ورونه وليدل چې ددې کار لپاره راغلي وو او زما سره يې خبرې وکړې ورسته دزيات وخت هغوی ما ته وويل چې دوی اوريدلي وو چې په دغه پټه باندې داسې يو سړی ژوند کوی چې ۱۴ کاله ئې په جيل کې تير کړې دی. دوی غوښتل چې دهغې سره ووينی. ما هغوی ته وويل چې زه هغه سړی يم. دوی وويل چه موږ ديوه مأيوس سړی انتظار ايستلو تاسو هغه سړی نه شې کيدی ځکه چې دخوښي ښځه ډک ياست. ما دوی مطمئين کړل چې زه هغه بندي يم مگر داچې زما خوښي ددوی دراتلو لپاره او يا داچې موږ نور هير شوی نيو وه. دپټې کليسا سره دوامداره او ټينگې مرستې شروع شولې. دپټو شبکو له لارې مقدس کتابونه او نور نشريات همدارنگه دمسيحي شهيدانو دکورنيو لپاره مرستې تر لاسه کيدلې. دا وخت کې زموږ سره ددوی له طرفه مرسته کيدله موږ په پټه کليسا کې زياد ښه کارونه کولی شول.

يوازې دانوه چې هغوی موږ ته دخدای کلام راکولو بلکه موږ وليدل چې زموږ سره مينه کيږي او دوی دتسلی لپاره موږ ته کلام راوړو.

په هغه وخت کی چی زموږ مغز پریمنځل کیدل موږ اوریدلی وو چی تاسو سره نور هیڅوک مینه نلری، تاسو سره نور هیڅوک مینه نلری. اوس موږ ولیدل چی امریکائی او انګلیسی مسیحیانو خپل ځانونه په خطر کی واچول ترڅو موږ ته وښائی چی موږ سره مینه لری. دوی هغه کورونو ته چی دپولیسو لخوا ښخه تر کنترول لاندی وو تلل بدون له دی نه چی پولیس پوه شی هغه کور ته ننوتل.

دمقدس کتابونو په قیمت چی پدی طریقو سره قاچاق کیدل یو امریکائی او یا انګلیسی چی په مقدس کتابونو کی لمبو وهی نه پوهیږی.

زه آو کورنی می بدون د دغه خارجی مسیحیانو دمالی مرستی او دعاګانو ښخه ژوندی نه پاتی کیدو. په همدی ترتیب سره نور کشیشان چی په مسیحی هیوادو کی دی. زه کولی شم چی هغه تجربی چی دمالی مرستو او حتی عالی معنوی مرستو نه چی په واسطه داورپایانو او پخوانی بریتانیه دمسیحیانو له لاری چی ماموریت درلودلو زموږ سره وکړل شهادت ور کړم. زموږ لپاره هغوی لکه فرستی وی چی دخدای له طرفه رالیږلی شوی وی.

په علت دنویو کارونو پټه کلیسا بیرته په خطر کی لیدلی کیده. ددی امکانات هم موجود وو چی ونیولی شم. پدی وخت کی دناروی دمسیحی یهودانو دماموریت شرکت او دعبرانی مسیحی اتحادیی ۲۵۰۰ پونده زما لپاره ور کړل ترڅو چی زه درومانیه ښخه ووځم.

## ولي ما کمونیستی رومانیه پریښوده :

ما هغه نه پریښوده که چیری دپټی کلیسا رهبران ماته دخطرونو په اساس امر نه وی کړی. پدی اساس می له دغی موقع ښخه استفاده وکړه ترڅو دپټی کلیسا

غز تولی نړی ته ورسوم. هغوی امید درلودلو چی زه تاسوته دغربی نړی دتکلیفونو او ضروریاتو له په هکله دهغوی په نوم خبری وکړم. زه غرب ته راغلم خو زړه می هلته دی. که چیری ما دغه لور ضرورت چی تاسو دپټی کلیسا دکارونو او ضرورتیاتو څخه خبر کړم نوی احساس کړی ما به هیڅ کله رومانیه نه وی پرښودلی. دا زما ماموریت دی.

مخکی له دی څخه چی زه رومانیه نه ووځم پټو پولیسو دویم ځل لپاره احضار کړم. هغوی ماته وویل چی پیسی موږ ته رسیدلی دی (رومانیه خپل ښاریان خرڅوی پدی علت چی ډیر ضعیف اقتصاد ورته دکمونیزم څخه په میراث پاتی شوی دی) هغوی ما ته وویل چی غرب ته ولاړ شه او هرڅومره چی کولی شی دمسیح په هکله وعظ وکړه خو په موږ باندی خبری مه کوه. یوه کلمه خبره هم زموږ په ضد ونه کړی.

زه واضحاً تا ته وایم چی موږ دستا لپاره څه پلان لرو. که چیری هغه څه چی دلته پیښ شول هلته هم ووایی نو موږ کولی شو چی یو جنایت کار ته پنځه سوه پونده ور کړو چی تا له منځه یوسی او یا هم تا وتیښتوی (زه په هغه کوټه کی بندی وم چی یو ارتودوکس اسقف دواسیلی لون په نامه له استرلیا څخه تیښتولی شوی او رومانیه ته راوړل شوی وه. دهغی هم نو کان ئی ایستل شوی وو. او داسی چا سره هم وم چی دبرلین څخه راوړل شوی وه. په آخر کی داسی څوک هم وو چی دایتالیا او پاریس څخه ئی راوړی وو)

هغوی مخکی ما ته وویل چی موږ کولی شو چی تاسو داخلاقی له نظره هم لکه دکوم انجلی سره، غلا او یا دستاسو دځوانی په کوم غلط کار دقیصه پواسطه خراب کړو. غربیان او بلخصوص امریکایان په آسانی سره غولیږی. وروسته دهغی څخه چی زه ئی تهدید کړم ما ته ئی اجازه راکړه چی غرب ته

راشم. هغوی دمغزو په پریمینځلو چی زه دهغی ټخخه تیر شوی وم زیات ایمان درلودلو. په غرب کی زیاد خلک شته چی ددغی سلسلی ټخخه تیر شوی دی مگر غلی دی. یو تعداد حتی وروروسته دکمونیستانو دزوررونو ټخخه ښه شیان دهغوی ټخخه وائی. کمونیستان ډیر متیقن وو چی زه به هم ټخه ونه وایم.

پدی سبب په کال ۱۹۶۵ ددسمبر په میاشت کی ما دخپل فامیل سره یو حای رومانیه پریسوده.

آخرین کار چی مخکی دتلو ما وکړو دا وه چی هغه چا قبر ته ولاړ شم چی زما دنیولو او زوررولو امر ئی کړی وه. دهغی په قبر می گلان کیښودل. پدی ترتیب سره ما خپل ژوند کمونیستانو ته چی روحاً خالی دی دهغی خوښی ورکولو لپاره چی زه ئی په خپل ژوند کی لرم وقف کړو.

زه دکمونیستی سیستم ټخخه کرکه کوم ولی هغه خلک می خوښیږی. زه دگناه ټخخه کرکه لرم ولی گناهکار سره مینه لرم. زه په ټول زړه سره کمونیستانو سره مینه لرم. کمونیستان کولی شی چی مسیحیان په قتل ورسوی خو دوی نشی کولی چی دمسیحیانو مینه چی حتی دخپل دښمنانو سره ئی لری له منځه یوسی. زه ډیره کوچنی کینه او تریخوالی دکمونیستانو په ضد او حتی ددوی دوهلو او ټکولو ټخخه نلرم.

# څلورم فصل

یهودیان یو داستان لري کوم وخت چې ددوی اجداد له مصر حخه خلاصون پیدا کړو او مصریان په بحیره کې غرق شول فرښتې په سرودو نو کې دهغوی سره یو ځای شوی وی. هغه سرودونه چې اسرائیلو ویل. خدای فریښتو ته وویل: «یهودیان خو انسانان دي او کولی شي چې دخپل آزادی لپاره خوښي وکړي اما له تاسو څخه زه ډیر زیات ددرک او احساس امید لرم. آیا مصریان زما مخلوق ندی؟ آیا زه دوی سره مینه نلرم؟ څنګه نشی کولی چې زما غم دهغوی دخراب تقدیر په هکله احساس کړی؟»

هغه وخت چې یوشع اریحا ته نیژدی وه هغی پاس وکتل او ویلیده چې یو سړی دهغی په سر ولاړ دی او خپله تورهٔ په لاس وه. یوشع هغی ته ورغی او ورته ئی وویل چې دوست یې که دښمن؟

که چیری هغه سړی یو انسان وای نو خُواب دا کیدلی شوه چې ووائی: دوست یم، دښمن یم او یا بیطرفه یم. دا ځوابونه دیوه انسان له خوا کیدلی شول. مګر هغه سړی چې یوشع دهغی څخه پوښتنه وکړه دبلی نړی څخه وه. کله چې پوښتنه ځیني وشوه چې داسرائیلو دوست دی که دښمن هغی یو داسی ځُواب ورکړو چې ډیر سخت او غیرمنتظره وه: «نه» دغه نه څه معنی لري؟ هغه دداسی یو نړی حخه راغلی وه چې هلته دوست او دښمن نشته ځکه چې هغه داسی یو ځای دی چه هرڅوک هر شی پیژنی او درک کوی او دیو بل سره مینه او محبت کوی. دا فکر انسان لری چې دهغی په اساس باید دکمونیستانو پرضد سخت وجنګیږی.

ددی نظری سره موږ باید دکمونیستانو پرضد وجنګیږو ځکه چی دوی ډیر وحشتناک دی او دا فکرونه قوی کیدونکی دی. ولی مسیحیان نه دا چه انسانان دی بلکه دخدای ماشومان او دخدای دطبیعت وارثین هم دی. پدی ترتیب هغه زورونی چی ما دکمونیستانو په جیلونو کی لیدلی دی زه ئی نه یم مجبور کړی چی دکمونیستانو ښخه کرکه وکړم ځکه چی هغوی هم دخدای مخلوق دی. همدارنګه نشم کولی چی دهغوی سره دوست وسیږم. دوستی یو ځای کیدل دروح په دوه انسانانو کی دی. زما روح دکمونیستانو سره یو ندی. هغوی دخدای ښخه کرکه لری او زه دخدای ښخه کرکه نلرم. که چیری زما ښخه پوښتنه وشی چی تا دکمونیستانو پرضد یی؟ باید زما ځواب هغی ته پیچیدلی وی. کمونیزم ډیر خطرناک ګواښ دانسان لپاره دی. زه بالکل دهغی پرضد یم او غواړم چی تر آخره پوری دهغی پر ضد وجنګیزم خو زه په روح کی دعیسی سره په لور آسمانی مقام کی ناست یم په هغه نړی کی چی «نه» دی. هغه ځای که ناست یم چی بدون دکمونیستانو دجنایتونو په نظر کی نیولو ښخه دهغوی سره مینه کیږی. هغه نړی کی چی هلته فرښتی دی چی دغه کوشش کوی ترڅو دهر چا سره مرسته وکړی چی دژوند مقصد پلاس راوړی. دمسیح په شان دکیدلو مقصد.

پدی ترتیب سره زما مقصد دانجیل رسول کمونیستانو ته دی ترڅو دآبدی ژوند ښخه هغوی خبر کړم. مسیح چه زموږ خدای دی کمونیستانو سره هم مینه لری او خپله هغی ویلی دی چی هر چا سره مینه لری او زیاته ترجیع ور کوی چی ۹۹ میږی پریږدی او هغه یوه پسی وګرځی چی ورکه شوی ده. رسولانو او ټولو مسیحی معلمینو موږ ته دا درس راکړی دی. مکری وویل: «که چیری یو سړی ټولو سره ډیره زیات مینه وکړی خو دیو سړی په مورد کی ووایی چی هغه سره

مینه نشی کولی هغه نو مسیحی ندی. ځکه دهغی مینه ټولو سره نده».

اگستاین وائی: «که چیری ټول خلک پاک وی خو یو سړی گناهکار وی عیسی دومره هر چا سره مینه لری چی دهغی لپاره هم راتللو او هغه صلیب ئی دهغی لپاره منلو. دعیسی مسیح تعلیمات روښانه او ښکاره دی. کمونیستان انسانان دی. مسیح هغوی سره هم مینه لری. پدی علت هر هغه څوک چی دمسیح په باره فکر وکړی حتی که موږ دگناه څخه کر که کوو خو گناه کارانو سره مینه لرو.

موږ دخپلی مینی په اساس کولی شو چی کمونیستانو ته دمسیح مینه وروپیژنو. ما داسی مسیحیان لیدلی دی چی ۴۴۸ گرامه زولنی په پښو وی، داوسپنی سیخونو سره زوریدلی دی، دهغوی په خولو کی چی په قاچغو مالگه ور کول کیده او بیا داوبو نه لری ساتلی کیدل، وږی، ووهلی شوی او دساړه نه په تکلیف وو خو دکمونیستانو لپاره به ئی په ډیره مینه دوعا کوله. دانسان له نظره دا لری او بدون دتوضیح ده. دا دمسیح وینه وه چی زموږ په زړونو کی دتل لپاره ځای ونیوه. وروسته هغه کمونیستان چی موږ ئی زوررولو هم بندیان شول.

عموماً دکمونیستی حکومت تر لاس لاندی ددښمنانو په شان کمونیستان حتی دهغوی رهبران هم جیل ته اچول کیدل. اوس هغه څوک چی زورول ئی کول او هغه چی زوریدل په یوه کوټه کی وو. اوس هغه څوک چی مسیحیان نه وو دهغوی څخه ئی بدل اخیستو او وهل به ئی مگر مسیحیانو دهغی څخه ساتنه کوله کله واری حتیٰ دخپل ځان په خطر کی اچولو سره.

ما داسی مسیحیان هم لیدلی دی چی یو ټوټه ډوډی چی دیوی هفتی لپاره دوی ته ور کولی کیده او ددوی دژوندی پاتی کیدلو لپاره وه هغوی به یو ناجوره کمونیست ته ور کوله. هغه کمونیست چی اوس دده سره په یوه کوټه کی وه.

درومانیه صدراعظم چی مسیحی وه او په جیل کی مې شو آخرینی خبری دا وی: «که چیری کمونیستان زموږ په وطن کی دقدرت څخه ولویږی دمسیحیانو پاکه او ښه وظیفه دا دی چی دخپل ځان په قیمت سره کوڅو کی وګرځی او دکمونیستانو په خلاف دخلکو احساسات چی ډیر تکلیفونه یی لیدلی دی دفاع وکړی. هغه ورځو کی چی زه ایماندار شوم فکر می کولو چی زه نور ژوندی نه شم پاتی کیدی. هر وخت می چی بیرون کی قدم وهلو هره ښځه او سړی چی زما دخوا څخه تیریدلو ما دا احساس کولو چی آیا هغی خلاصون پیدا کری دی که نه. داسی یو درد را ته پیدا کیدو لکه زما په زړه باندی چی کوم چاقو لیګیدلی وی. که چیری دکلیسا کوم غړی ګناه کولو نو زه په ساعتو ژریدم او اوس می هم زړه دا غواړی چی ټول خلک باید خلاصون ومومی او کمونیستان له دی څخه بیل نه دی.

په جیل کی موږ دپخوا په شان دوعا کولی نشوه. موږ ډیر وږی وو او تر هغه وخت پوری وږی ساتلی کیدو چی زموږ څخه احمقان جوړ شی.

زموږ وجود ډیر ضعیف شوی وه. دخدای لپاره دوعا کول موږ ته ډیره اوږده شوی وه. موږ نشو کولی چی دوعا وکړو. څو څو ځل چی موږ دوعا تکرار کولی شوه دا وه چی عیسی تا سره مینه لرم. څه وخت وروسته یوه ورځ دجلال څخه ډکه ورځ وه وه ما دعیسی څخه ځواب واخیست. (ما سره مینه لری؟) اوس به زه تاته وښایم چی تا سره څومره مینه لرم. دفعتاً ما پخپل زړه کی دا اوس احساس کړو چی دلمر دشغلو په شان سوزونکی وه.

رسولان چی دعمواس په لاره تلل هم وویل چی کوم وخت چی عیسی دهغوی سره خبری وکړی زړونه ئی اور واخیست. همداسی په ما هم وشول.

دهغی چا مینه چی خپل ځان ئی په صلیب باندی دټولو لپاره قربان کړو پیژنم.

پدی شان مینه نشی کولی چی کمونیستان ددوی دډلو گناهونو سره سره مستثنا کړی. کمونیستانو زیات گناهونه کړی دی او کوئی ولی زیاتی اوبه نشی کولی چی دمینی تیزتوب لری کړی او نه مینه په دریابه کی دوبیږی.

خلک دډلو نیژادونو، ملیتونو او دهر ډول سیاسی فکرونو، رسولانو او جنایت کارانو مینه یو ځای دډلو مینی. دمسیح مینه چی دجسم په شکل دآسمان نه راغلو هیڅ کله هم ندریږی ترڅو کمونیستان دخپل ځان نکړی. یو وزیرئی زما کوټی ته راوچلو نه ژوندی وه او نه مړ. دمخ او وجود څخه ئی وینی روانی وی هغی ډیر وهلی او ټکولی وه. موږ هغه پریمینځلو خو ځینو بندیانو کمونیستانو ته ډیر بد وویل. هغی وویل نه: «لطفاً هغوی ته بد شیان مه وایی غلی اوسیږی زه غواړم چی هغوی ته دوعا وکړم».

## څنگه موږ کولی شو چی په جیل کی هم خوښ ووسیږو؟

کله چی هغی څوارلس کالو جیل ته گورم کله واری مو ډیر سڼه درلودل. نور بندیان او ساتوونکی به حیران پاته وو او دافکر ئی کولو چی دڅومره تکلیف لاندی ژوند کوی مگر بیاهم مسیحیان خوښ دی. که چیری موږ ئی دسرود ویلو لپاره وهلو او ټکولو علاوه پدی هم هیڅوک نتوانیدل چی زموږ مانع شی. زه فکر کوم چی حتی دشپی موجوداتو به هم دا ویل. مسیحیان پوهیدل چی وروسته دسرود څخه موږ وهلی کیږو. مسیحیان په جیل کی خوشی کوله او ناځیدل. څنگه هغوی کولی شول چی پداسی سختو شرایطو کی خوښ وی. ما عموماً دهغی کلماتو په باب په جیل کی فکر کوه چی عیسی دشاگردانو سره کړی وی: «دچا سترگی هغه څه چی تاسولیدلی دی او وینی برکت ئی پیدا کړی

دی.» په هغه وخت کی شاګردان دسفر څخه دفلسطین دسفر څخه راغلی وو. هغه ځای که چی دوی وو ډیر شیان ئی ولیدل. فلسطین ډیر یو ستم لیدلی وطن وه. هرځائیکه غریبی، وژنه، بربادی ظلم او داسی نور زیات مشکلات لیدلی کیدل. شاګردان په مرضی، وزیتوب او غم مخامخ شول. هغه یوه کور ته ننوتل چی دهغی ځای څخه وطن پالوونکی ئی وتړلی وو. ښځو ژړل.

بیاهم عیسی وائی هغه سترګی چی دا شیان لکه تاسو چی لیدلی دی وینی برکت ئی موندلی دی. دا پدی خاطر چی هغوی صرف خراب شیان لیدلی وو نه وو بلکه هغوی همدارنګه نجات ورکوونکی ښه حاصل کوونکی پدی مقصد چی انسان به هغی ته ورسیږی ولیدل. داولین ځل لپاره څو دوریښمو چنجیان ولیدل چی په پاڼو باندی خوزیدل په قسم دیو الوتونکی به شروع شی. هغه الوتونکی چی دیوه ګل څخه بل ګل ته په ډیره آسانی سره ولوزی. دا زما خوښی هم وه. زما په څنګ کی دایوب په ډول ډیر وو. حینی دهغی څخه زیات مریض ولی زه دایوب داستان په آخر باندی پوهیدلم چی څنګه هغی هرڅه چی درلودل دوه برابری واخیستل.

زما په خوا کی دایلعازر په شان زیات وو. وږی، تږی او دزخمونو څخه ډک بدون دتداوی ولی زه پوهیدم چی هغه به فرښتی دابراهیم غیږ ته یوسی. ما هغه په دا ډول لیدل چی په راتلوونکی که به وی.

ما په ضعیفو او کثیفو بندیانو کی دراتلوونکی یو تاجدار رسول لیدلو. ولی دداسی خلکو په لیدلو سره نه څنګه چی دی بلکی څنګه چی وی به ما وکړی شول چی دشاول په شان پولس رسول ووینم. ځینی دا اوس لکه پولس شوی دی. دمسیحیانو دشهادتونو په سبب پټو پولیسو ایمان راورو. دمسیح لپاره په عذاب ایستلو خوښ وو. هغوی چی موږ ئی وهلو او وروسته ئی ایمان راوړو. موږ

خوب لیدلو چی په لږ وخت کی هغوی به پوښتنه وکړی چی موږ څه وکړو چی نجات پیدا کړو ؟

هغوی چی مسیحیان په صلیب بسته کړیٔ وو او دانسان په چټلی باندی ککړ کړی وو لوبی په وهلی. موږ دجلجتی جماعت ولیدلو چی ډیر زر به په خپلو سینو باندی ووهی چی گناه ئی کړی دی.

په جیل کی موږ دکمونیستانو لپاره دا امید پیدا کړو چی دوی به نجات پیدا کړی. هغه وه چی په طرف دکمونیستانو یو احساس دمسولیت مو پیدا کړو. ددوی زورونو له مخی موږ دهغوی سره مینه پیدا کړه.

یو تعداد زیات زموږ دکورنی غړی وژل شوی دی خو زموږ په کور کی وه چی دهغوی وژونکی په مسیح ایمان راوړو. زه فکر کوم چی زموږ کور ددغی کار لپاره ډیر مناسب ځای وه. پدی سبب په جیل کی کمونیستانو ته دبشارتی خدمتونو فکرونه په موږ کی نمو وکړه. خدای په بل نظر سره شیانو ته گوری. دمثال په توگه ددی لکه میږی چی وینی. دانسان له نظره په صلیب باندی تړلی کیدل پداسی حال کی چی په غایته موادو باندی ککړ شوی وی ډیر خراب شی دی. مقدس کتاب دشهیدانو تکلیفونه او غمونه روښانی بولی. ۱۴ کاله تیره ول په جیل کی زما لپاره ډیر زیات وخت وه. ولی مقدس کتاب دغه یوه لحظه چی موږ دجلال لپاره کار کوی بولی او موږ ته دغه حق راکوی لکه دکمونیستانو حیوانی جنایات چی زموږ لپاره دبښنی وړندی. دهغی څه لپاره چی باید ریښتنی تر آخره وجنگیږی دخدای په نظر کی دهغی څخه سپک دی چی موږ ئی وینو. زیاته له نیمی پیړی هغوی دظلم تیری شوی دی. ولی په زرگونو کلونه دخدای لپاره لکه یوه ورځ دی. دگمراهی یوه لحظه. دا امکان تر اوسه وجود لری چی هغوی نجات پیدا کړی. آسمانی اورشلیم لکه دمور مینه بولی. دجنت دروازی

دکمونیستانو په مخ ته‌ړلی نه دی او نه دهغوی لپاره روښنای کمه شوی ده. هغوی دنورو په شان کولی شی توبه وکړی.

ولی موږ باید هغوی توبه ته وهڅوو. مینه کولی شی کمونیستان بدل کړی. ولی باید واضحاً دکمونیستانو سره ملگرتیا څخه چی یو تعداد رهبران دکلیساوی لری تفکیک وشی. هتلر دکمونیزم ضد وه خو کرکه ئی درلوده.

پدی سبب دکمونیستانو سره ئی مرسته وکړه چی دنړی یو په دریمه برخه ونیسی. موږ دمینی سره یو بشارتی خدمت په جیل کی پلان گذاری کړو. او دټولو څخه اول مو دکمونیستانو درهبرانو په مورد فکر وکړو. معلومیدله چی زموږ ځینی خدماتی مدیران زموږ دکلیسا په تاریخ څه نه پوهیدل. ناروی څنگه مسیح ته راورلی شوه؟ داولاف پادشاه پواسطه. کوم وخت چی دپخوانی روسیه پادشاه ولادیمیر مسیح ته راورلی شوه داول ځل لپاره انجیل روسیه ته ورسید. هنگری دستیفن پادشاه پواسطه مسیح ته راورلی شوه. پدی ترتیب سره پولند. په افریقا کی دقبائلو رئیسانو په مسیح باندی ایمان راوړو او ټولی قبیلی دهغوی څخه ملاتړ وکړو. موږ خدمتونه دټیټو خلکو څخه شروع کوو. امکان لری چی هغوی ښه مسیحیان شی ولی دوی لږ تأثیر لری او نشی کولی چی حالاتو ته تغییر ورکړی. موږ باید سیاسی حاکمان، اقتصادی او لوړ رتبه شخصیتونه مسیح ته راوړو. هغوی ژوندی او جوړونکی دی. هغوی دخلکو روح نرم کوی. په راوړلو دهغوی په اصل کی خلک مسیح ته تاسو راوړی دی او په هغوی باندی تأثیر اچوی. دبشارتی کار له نظره کمونیزم یوه گټه نسبت نورو اجتماعی سیستمو ته لری. هغه داچه کمونیزم په مرکزیت پوری تړلی دی. که چیری دامریکا رئیس جمهور په مورمونیزم ایمان راوړی نور امریکایان دا نه منی. ولی که چیری ماوتیستونک په مسیح باندی ایمان راوړی یا بیژنیف یا چاوسیزکو نو

کیدای شی چی ټول هیوادو ته ورسیږی.

رهبران دومره عالی تأثیر لری. خو کیدای شی چی کمونیست رهبران په مسیح ایمان راوړی؟ ولی نه ځکه چی په مثل دقربانی هغه هم غمگین دی او محفوظ ندی. تقریباً تول کمونیستی رهبران دشوروی په جیلونو کی اویا دملګرو په واسطه سره مړه شول. په همدی ترتیب په چین کی حتی دبهرنیو چارو وزیر ایگودا ابیوف چی فکر کیدو ټول قدرت په لاس کی لری دانقلاب ضد په شان مرمی په سر ولګیده او مړ شوو. بیاهم سپیلین دشوروی اتحاد دبهرنیوچارو وزیر اوورانکوویک دیوګوسلاویا دبهرنیوچارو وزیر لکه چټلو قالینو په شان لری واچول شول.

## څنگه کولی شو چی په کمونیزم باندی روحاً حمله وکړو

کمونیستی رژیم هیڅوک خوښ نساتی حتی هغه څوک چی په هغی کی گټی لری. هره شپه دوی ویریږی چی دپټو پولیسو موتر رانشی او هغوی یونسی ځکه چی حزبی سیاست تغییر کړی دی. ما په خپله ډیر رهبران دکمونیستانو پیژندل چی درانده بارونه ئی درلودل. یوازی عیسی کولی شی چی هغوی ته آرامی ورکړی.

دکمونیستی رهبرانو راوړل مسیح ته امکان لری چی نړی ته داتومی جګړی څخه نجات ورکړی. دوزیتوب څخه دانسان آزادی ځکه چی هغوی دا اوس زیاتی پیسی په سلاح باندی مصرف کوی. دکمونیستی رهبرانو راورل مسیح ته یعنی نړی دخطراتو څخه خلاصول. دکمونیستی رهبرانو مسیح ته راوړل یعنی دمسیح او فرینښتی دخوښی څخه ډکول. دا دکلیسا دکامیابی په معنی هم ده مثال

په توګه دګینیا و ماداسکار په ساحاتو کی کار دمبلغینو لپاره چی ډیر سخت کار کوی آسان به شی که چیری کمونیستی رهبران مسیح ته راوړل شی. ځکه چی دا کار دمسیحیت دتحریک لپاره به کاملاً نوی کار وی.

زه په خپله کمونیستان پیژنم چی په مسیح باندی ایمان راوړلی دی او زه په خپله په ځوانی کی یو بی دینه وم چی سلاح می په لاس درلودله. بی دینان او کمونیستان چی ایمان راوړی مسیح سره ډیره زیاته مینه کوی ځکه چی هغوی زیات گناه کړی دی. په بشارتی کار کی یوه ستراتیژیکی فکر ضروری ده. دنجات له مخی ټول خلک سره یو دی خو دبشارتی کار له مخی هغوی سره برابر نه دی.

دا مهمه ده چی یو تکړه سړی مسیح ته راوړی ددی څخه چی یو وحشی سړی سره چی په ځنګل کی اوسیږی خبری وکړی ځکه چی نجات صرف دهغی لپاره پاتی کیږی. پدی سبب عیسی وغوښتل چی خپل ماموریت په اورشلیم کی چی دنړی روحانی مرکز دی آخر ته ورسوی نه په یوه کوچنی ښار کی. پدی سبب پولس زیات کوشش وکړو چی روم ته ورسیږی. مقدس کتاب وائی: «دښځی تخم به دمنګوره سر وټکوی» موږ دمنګوره په ګیله باندی لاس وهو. دغه کار هغه خنده وي. دمنګوره سر په مسکو او یا پیکینګ کی دی نه په تونیست اویا ماداکاسکار کی.

کمونیستی نړی باید ډیره لویه دتوجو وړ نقطه دکلیساو رهبرانو، هغه مدیرانو چی ماموریتونه په غاړه لری او همدارنګه نور مسیحیان په فکر کی ولری. موږ باید روزانه کارونه پریږدو «لعنت دوی په هغه چا باندی چی دخدای کارونه په نیرنګ سره سرته رسوی». دا په مقدس کتاب کی دی . یوه مستقیمه روحانی حمله په کمونیزم باندی دکلیساو له طرفه ضروری ده.

جنگونه کولی شی چی یوازی په حمله یوسو. نه په دفاعی ستراتیژی. تراوسه پوری کلیسا دکمونیزم په طرف دفاعی حالت درلوده. او یو ملک ئی په بل پسی دکمونیزم په گټه له لاسه ورکړو. دا شی باید په کلیسا کی کاملاً بدل شی. مزامیر یو وائی چی خدای سیاسی پردی او فکرونه چیری کوی نو یوه داوسپنی پرده هغی لپاره هیڅ څه ندی. اولینی کلیسا په پټه او غیرقانونی کارکولو. ولی بریالی شوه. موږ باید زده کړو چی پدی ترتیب سره کار وکړو.

زه دکمونیزم تر وخته پوری نه پوهیدم چی ولی شاگردان په نوی عهد کی په اصلی نامونو سره یاد شوی نه دی. مثلاً: یوحنا مرقس په نوم سره یادیزی او داسی نور. زه هیڅ وخت پوه نشوم چی ولی عیسی نه غوښتل چی شاگردانو ته دوډی تیاره کړی هغوی ته ئی شته ورنکړل. مگر ویی ویل چی ښار ته ولاړ شی او دهغی چا تلاش وکړی چی یو صبو لری. اوس موږ هم همداغسی پټی نشانی دپټی کلیسا په کار کی استعمال کوو. که چیری موږ قبول کړو چی داسی کار وکړو یعنی داولینو طریقو او لارو دمسیحیت څخه موږ کولی شو چی ډیر ښه او مؤثر کار په کمونیستی هیوادو کی دمسیح لپاره وکړو. مگر کله چی ما یو تعداد دغرب کلیساو او رهبران ولیدل. دوی کمونیستانو سره مینه چی له پخوا به په کمونیستی هیوادونو کی دیو بشارتی شرکت دتشکیل سبب گرځیدلی وای نلری او ما په دوی کی یوه پالیسی دکمونیستانو خواته پیدا کړه. ما مهربان ښه سامری چی په طرف دور کسوشویو ځانونو دکارل مارکس کور کی پیدا نکړو. واضعاً یو سړی په هغه څه چی په خپل مذهب کی وائی ایمان نلری. مگر په هغه څه ایمان لری چی تیار دی دهغی لپاره مړ شی. دپټی کلیسا مسیحیانو ثابته کړی ده چی تیار دی چی دخپل ایمان لپاره مړ شی.

موږ خپل کار ته په کمونیستی هیوادو کی دوام ورکوو چی شاید په معنئ

دنویو زورونو او مړینی وی او دجیل یوه بله دوره ووسیږی. ځکه چی موږ یو پټ ماموریت داوسپنو پردو شاته رهبری کوم. سره ددی چی ټول خطرونه می پخپل ځان اخیستی دی په هغه شیان چی زه ئی لیکم ایمان لرم. زه دا حق لرم چی پوښتنه وکړم: «آیا دامریکا دکلیساو رهبران چی دکمونیستانو سره ملگرتیا لری تیار دی چی ددی کار لپاره مړ شی. عقیده ددوی؟ څوک دهغوی مانع شوی دی چی هغه لوړی چوکی په غرب کی پریږدی او شرق ته درسمی کشیشانو په شان راشی. څوک دکمونیستانو سره هلته همکاری کوی؟ پدی ډول دایمانداری ثبوت تر اوسه پوری دغربی کلیسا رهبری ندی ور کړی. هغه کلمی چی انسان په هغه باندی خبری کوی دضرورت له مخی په خطر، دپیژندنی دیو بل، په ښکار دماهی نیولو همدارنگه دژوند دضروری شیانو په تولید کی دخپل ژوند لپاره چی خپل احساسات یو بل ته ظاهر کړی منح ته راغلی دی. هیڅ ډول کلمه دانسان لپاره وجود نلری چی راز دخدای او لوړوالی دروحانی ژوند ظاهر کړی. په همدی ترتیب هیڅ ډول کلمه دانسان لپاره وجود نلری چی دشیطان دحیوانتوب توضیح کړی.

آیا کولی شی چی په خبرو کی دهغی سړی احساس چی په وخت دنازیانو کی اورته اچولی شوی وه یا زامن ئی ولیدل چی اچولی کیږی توضیح کړی. پس بی فایده دی چی شرح ور کړی چی مسیحیانو څه تکلیفونه لیدلی دی او تر اوسه هم دکمونیستی حکومتونو له لاسه ئی وینی. زه په جیل کی دلو کریتو پټی اسکانو سره چی کمونیزم ئی په رومانیه کی قدرت ته ورسولو وم. ملگروئی په اچولو ئی په جیل کی دهغی احترام ئی پرځای کړی وه. اگرچه هغه لیوانی نوه مگر هغه ئی دلیوانیو کوټی ته واچولو. ترڅو هغه هم لیونی شوه. همدا عمل ئی اناپاو کر پخوانی سکرتر هغی سرته ورسوه. دمسیحیانو سره هم همدا ډول عمل

کیږي. هغوی ته برقي شاک ور کوي او په مستقیمو صندوقو کی اچوي. نړی له هغې څه څخه چې دچین په سر کونو کی پیښیزي وحشت لري. دهرچا په نظر سره قوا ترس پیدا کوي.

اوس فکر وکړی چې دچین په جیل کی چې هیڅوک نشي تلی دمسیحیانو به څه حالت وي. وروستی خبر دی چې یو مسیحی مبلغ او لیکوونکی چې دخپل ایمان څخه ئی انکار نکړو دواړه غوږونه، ژبه او پسی ورته قطع کړی. ولی ډیر خراب کار چې کمونیستانو سرته رسوی دا نه دی چې هغوی زوروني وژني کوی هغوی دخلکو فکرونه په دروغو باندی بدلوی او ځوانانو او ماشومانو ته زهر ور کوي. هغوی خپل نفر په کلیسا کی مقرر کړی دی چې مسیحیان رهبري کړی او کلیسا خراب کړی. هغه ځوانانو ته ور زده کوي چې نه یوازی په مسیح باندی ایمان را نه وړی بلکی ددی نام سره باید کر که پیدا کړی. پدی ډول کله چې یو قهرمان او ایماندار مسیحی دجیل څخه خلاص شي او کورته ځی دخپلو ماشومانو دبدسلوک سره مخامخ کیږي. دغه کتاب دومره په رنگ نه دی لیکلی شوی بلکی دزوړنو په وینو لیکلی شوی دی. لکه ددانیال وخت چې دری سړی داور په کوره کی واچول شول ولی وروسته دنجات څخه داور بوی نه ور کولو داسی مسیحیان لرو چې دکمونیستان په جیلونو کی وو ولی دهغوی په ضد باندی هیڅ فکر نه کولو. که چیزی تاسو گل دپښو لاندی کړی دخپلی خوشبوی سره تاسو ته ځواب در کوي. مسیحیان هم همداسی دی کمونیستانو دوی زوروی خو دوی مینی سره ځواب ور کړی دی. موږ زیات بندیان مسیح ته راوړل. یوه آرزو لرو چې هغه کمونیستان چې موږ ئی زورولو هغه نجات چې له طرفه دخدای عیسی مسیح راځي هغوی ته ور کړو. زه دغه امتیاز لرم چې دنورو وروڼو په شان دخپل ایمان په خاطر په جیل کی وم. زه آزاد شوم او کولی شم چې درومانیه

ځخه غرب ته ولاړ شم. په غرب کی ما دډیرو کلیساو رهبران ولیدل چی فکروز ئی دپښی کلیسا درهبرانو ځخه مختلف وو. زیات مسیحیان په غرب کی د کمونیستانو سره مینه نلری. ددی ثبوت دا دی چی هغوی هیڅ کار دهغو دنجات لپاره ندی کړی چی په کمونیستی هیوادو کی دی نه ئی کوی. هغوی دیهودیانو، مسلمانانو او بودیستانو لپاره خدمت کوی. هغوی ماموریتونه لری چی مسیحیان دیو طریقی ځخه بل ته تشویقه کړی خو دوی هیڅ ماموریت دکمونیستانو لپاره نلری چی هغوی سره مینه و کړی. ځکه چی دوی کوم ماموریت دوی لپاره ندی جوړ کړی. کیرې دهندوانو سره ځنگه مینه درلوده او هدسن تیلور چینایانو سره ئی مینه درلوده او خپل ځانو لپاره ئی مخصوص ماموریتونه جوړ کړل. خو دغه کافی نه ده چی هغوی کمونیستانو سره مینه نلری او دهغو په باب ځه کار نکوی. دوی دخپلی خوښی لپاره دځینو سره ملگرتیا کوی په دی اساس غربی کلیساو کی دکمونیستانو سره مرسته کوی ترڅو دکلیساو رهبران هغوی وټاکی او بلاخره په غرب کی کلیساو ته دکمونیستانو له طرفه کفر داخل شی او رهبری په لاس کی واخلی. په همدی ډول په ټوله نړی کی. هغوی مسیحیان دکمونیزم دخطر ځخه بی خبره ساتی. پدی ترتیب سره چی هغوی کمونیستانو سره مینه نلری او هیڅ کار نکوی چی هغوی مسیح ته راوړی. (ددی بهانی په اساس چی هغوی اجازت نلری) دمثال په ټوگه اولینی مسیحیانو له (نهرو) ځخه اجازت اخیستی وه چی انجیل خپور کړی. هغوی خپلی میږی سره هم مینه نکوی. ځکه که چیزی موږ کمونیستان مسیح ته رانه وړو دوی به په غرب باندی هم حکومت پیدا کړی او مسیحیت به هم په هغه ځای کی له مینځه یوسی.

## دتاریخ درسونه نالیدلی نیولی کیږی :

په اولینو پیړیو کی په شمالی افریقا کی مسیحیت په حال دمخته تګ کی وه. اګستای، کپریان، اتاناسیس او تیرتولیان دهغی ځای څخه وو. دشمالی افریقا مسیحیانو یوه کار ته پاملرنه ونکړه چی محمدیان مسیح ته راوړی. نتیجه دا وه چی محمدیانو په شمالی افریقا باندی حمله وکړه او مسیحیت ئی په پیړو هلته له مینځه یوړو. شمالی افریقا تراوسه هم دمسلمانانو په لاس کی ده. مسیحی مبلغین هغوی ډیر لوی کسان چی ایمان نه راوړی بولی. راشی چی دتاریخ څخه څه زده کړو! دمذهبی ګټو بدلول په وخت لوتر وکالوین داروپا خلکو دګټو لپاره چی غوښتل چی دپاپانو سیستم څخه آزاد شی چی وروسته په یوه ستمګر سیاسی او اقتصادی قدرت باندی بدل شوه تکړی وکړو. په همدی ترتیب سره نن ورځ دپټی کلیسا ګټی دانجیل په خبرولو کمونیستانو ته او دهغوی قربانیان دټولو آزادو خلکو دیو آزاد ژوند ددوام ورکولو دحیاتی ګټو سره ټکر کوی. هیڅ سیاسی قدرت وجود نلری چی کمونیستان له مینځه یوسی. کمونیستان اتومی سلاح لری په هغوی باندی حمله په معنی دنوی جهانی جګړی شروع کول دی چی ډیر زیات خلک به قربانی شی. په همدی ترتیب دځینو غربی رهبرانو مغزونه پرمینځلی شوی دی او نه غواړی چی کمونیستان له مینځه لاړ شی. هغوی دغه څو ځلی ویلی دی. دوی غواړی چی مخدره مواد، سرطان او تبرکلوز مرضونه له مینځه یوسی نه کمونیزم چی دټولونه زیات قربانیان لری. الیا اهرینبرګ روسی لیکوونکی وائی: «که چیری ستالین دخپلو بی ګناه قربانیان دنومونو لیکلو نه پرته هیڅ بل کار نه وی کړی بیا هم ژوند ددی کار لپاره لنډ وه.

کروسچیف په شلمه کنګره دحزب کمونیست وویل چی ستالین په زرهاو

بی گناه او اخلاصمند کمونیستان ووژل له دغی جملی څخه ۱۳۹ غړی دمرکزی کمیټی غړی او استازی وو چی په اولسمه کنګره کی ټاکلی شوی وو. د۹۸ څخه ۱۷ فیصده استازی وروسته ونیول او مړه ئی کړل.

اوس فکر وکړی چی هغی به دمسیحیانو سره څه کړی وی.

کروسچیف دستالین څخه انکار وکړو. په کال ۱۹۵۹ کی دشوروی نیمی کلیساوی چی تر هغه وخت پوری خلاصی وی وتړلی شوی. په چین کی یوه نوی څپه چی ستالین له وخته څخه زیاته ویروونکی او خرابکوونکی ده شروع شوی ده. درسمی کلیسا ژوند بالکل ختم دی په شوروی او رومانیه کی نوی نیول شروع شوی دی. (موږ اوس اطلاع حاصله کړه چی په شوروی که په عامه توګه مسیحیان نیولی شوی دی) هغه ملکونه چی یو بیلیون نفوس لری په ترس او فریب سره ځوان نسل دکرکی سره دغربی بلخصوص دمسیحیت خواته لویږی. دراتلوونکی وخت خرابکوونکی دمسیحیت په غرب کی په ډیر احتیاط او په خاصه توګه تربیه کیږی. یو قوت شته چی کولی شی کمونیزم له مینځه یوسی. دا هغه قوت دی چی ایالات دمسیحیانو سره ئی مرسته وکړه چی دروم بټ پرست امپراتوری ونیسی. دا دانجیل قوت دی چی دپټی کلیسا په واسطه چی په ټولو کمونیستی هیوادونو کی شته دی ورپیژنی ددی لپاره چی دغه کلیسا وساتل شی دهغی سره مرسته وشی. فقط پوښتنه داتحاد دوروښو سره په زحمت کی ندی. دغه دمرینی او ژوند معنی دستاسی هیواد او کلیسا ته لری. ددغی کلیسا ساتل نه یوازی دآزادو مسیحیانو په ګټه دی بلکی دآزادو هیوادو سیاست هم باید وی. پټی کلیسا دپخوا څخه کمونیستی حاکمان مسیحیت ته راوړی دی.

ګیورګیودیچ درومانیه صدراعظم دیوه ایماندار په صفت وروسته دګناهونو داقرار څخه او دیوه نوی ژوند بدلولو وروسته مړ شو. په کمونیستی هیوادونو

کی دکمونیستی دولت غړی شته چی پټ مسیحیان هم دی. دا کیدلی شی چی پرخوال وکړی او وروسته موږ کولی شو چی دا امید ولرو چی په کمونیستی دولت کی سیاسی تغییر پیدا کړی شی. ولی نه دتیتووگومولکا په شان چی وروسته دبدلیدو څخه بیا هم حیوانتوب او بی دینی دوام پیدا کړو. ددی لپاره استثنائی کامیابی وجود لری. اگرچه کمونیستان دمسیحیانو په ډول سره په خپله عقیده کی ټینګ دی خو دا اوس دیوه امتحان څخه تیرېږی. هغوی واقعاً ایمان درلوده چی کمونیزم نورو هیوادونو ته دوستی راوړو.

اوس هغوی گوری چی کمونیستی هیوادونه دسپیو په شان دیو بل سره جگړی کوی. هغوی واقعاً دا باور کړی وه چی کمونیزم دځمکی په مخ یو جنت جوړ کړی. البته دهغی دآسمانی دروغجن جنت پرضد. اوس دهغوی خلک وږی دی او مجبور شول چی غنم دسرمایداری هیوداونو څخه وارد کړی. کمونیستانو پخپلو رهبرانو باندی باور وکړو. اوس دوی پخپله ورځپانو کی ویلی دی چی ستالین یو جمعی وژونکی وه او کروسچیف هم یو بت پرست وه. په همدی ترتیب دملی قهرمانانو په باره کی لکه راکوسی، گیرو، آناپاوکر، رانکوویسی او داسی نور.

کمونیستان نور دخپلو رهبرانو په کافری باندی اعتماد او ایمان نلری. هغوی کاتولیکانو په شان بدون دکومی پاپ دی. یو خالی ځای دکمونیستانو په زړونو کی وجود لری او دغه خالی ځای صرف عیسی کولی شی ډک کړی. دانسان زړه طبیعی دی چی خدای لټوی او یو خالی روحانی ځای په هر انسان کی شته. ترڅو چی دعیسی پواسطه ډک نشی. دغه دکمونیستانو لپاره هم ریښتیا ده.

په انجیل کی قدرت دمینی موجود دی چی کولی شی هغوی هم دتاثیر لاندی راوړی. زه تر آخره پدی کار پوهیږم او دا کار امکان لری. مسیحیان چی

دکمونیستانو پواسطه زوریدلی دی هغه ځه چی پخپله په دوی او ددوی په کورنیو باندی وشول هیر کړی دی.

هغوی زیات کوشش کوی چی کمونیستان له دغه کشمکش څخه تیر کړی او دوی مسیح پیدا کړی. ددی کار لپاره هغوی زموږ مرستو ته ضرورت لری. دمسیحیانو مینه دټولی نړی سره ده دمسیحیانو لپاره تقسیمات وجود نلری. عیسی وویل چی خدای په بدکارانو او نیکو کاراونو باندی یو ډول لمر راخیږوی. په همدی ترتیب مسیحی مینه هم ده.

هغه مسیحی رهبران چی دکمونیستانو سره ملګرتیا کوی داسی وائی چی عیسی ویلی دی چی خپل دښمنانو سره مینه وکړی خو زه وایم چی عیسی هیڅ وختی داسی ندی ویلی چی دښمانانو سره مینه وکړی او خپل ورونه هیر کړی. هغوی خپله مینه دهغی چا سره چی خپل لاسونه ئی دمسیحیانو په وینو باندی سره دی په خواړلو ددوی او نورو شیانو ښایی نه دانجیل دپیغام په ورکولو او هغه مسیحیان چی دکمونیستی حکمتونو دستم لاندی دی هیره وی. دهغوی سره مینه نکوی.

غربی جرمنی بشارتی کاتولیکی کلیساو په آخرو اووه کالو کی ۱۲۵ میلیونه دالره هنګری ته ورکړی دی. دامریکا مسیحیانو له دغی څخه زیات مرستی کړی دی. خلک زیات وږی دی خو زه نشم کولی چی فکر وکړم چی بل څوک دمسیحی شهیدانو دکورنیو څخه ډیر زیات وږی دی او یا هم دآزادو مسیحیانو څخه ډیر مستحق دی. په جرمنی، انګلستان، امریکا او نورو اروپائی هیوادو کلیساو کی زیاتی پیسی دخلکو دمرستو لپاره ورکوی. مګر اول باید دغه پسی او مرستی دمسیحی شهیدانو کورنیو ته ورسیږی. آیا اوس داسی کیږی؟ زما دنجات لپاره مسیحی شرکتونو له خوا پسی ورکړی شوی چی په ثبوت

رسوی چی کولی شو مسیحیانو ته دپسیو په واسطه نجات ور کړو. اگرچه زه یوازی دخپل وطن څخه یم چی دمسیحی شرکتونو دپیسو په بدل کی می نجات پیدا کړو. او دغه حقیقت زیات غربی مسیحی شرکتونه چی خپلی وظیفی هیره وی خو مسیحیان دخپل ځان څخه پوښتنه کوله چی آیا نوی کلیساوی یوازی دیهودیانو لپاره وی یا دنورو لپاره هم وی.

ددغی پوښتنی لپاره صحیح ځواب راغلو دغه مشکل په بل شکل سره په شلمه پیړی کی مینځ ته راغلی دی. مسیحیت یوازی دغرب لپاره ندی. همداسی عیسی یوازی په امریکا، انگلستان او په نورو دموکراتیکو هیوداو پوری مربوط ندی. کوم وخت چی هغه مصلوب شو یولاس ئی دغرب خواته وه او بل لاس ئی دشرق خواته اوږد کړی وه. عیسی غواړی چی نه یوازی دیهودیانو پادشاه بلکی دغیر یهودیانو پادشاه هم وی.

په همدی ترتیب سره نه یوازی دغربیانو پادشاه بلکی دکمونیستانو پادشاه هم ووسیږی. عیسی وویل: «پدی سبب ټولی نړی ته ولاړ شی او هر انسان ته انجیل ورسوی. هغوی ټولو لپاره وینه تویه کړه او ټولو ته باید دده پیغام ورسیږی ترڅو په انجیل ایمان راوړی. کوم شی چی موږ هڅوی ترڅو کمونیستی نړی ته انجیل وروسو دا دی چی هغه چا چه هلته ایمان راوړو دمینی او غیرت څخه ډک دی. ځوان کمونیستان کیدای شی چی دمسیح لپاره ښه شاگردان ووسیږی. مسیح دکمونیستانو سره مینه لری او غواړی چی هغوی دکمونیزم څخه خلاص کړی. لکه څنگه چی ټول گناهکارانو سره مینه لری او غواړی چی هغوی دگناه څخه آزاد کړی.

دغربی کلیساو رهبران په دی ویاړی چی دښه فکرونو ته ځای ور کوی یعنی خپله خوښی کمونیستانو ته. او هغوی کمونیزم سره مرسته کوی ترڅو بریالی

شی او دخپلو قربانیانو دخلاصون مانع شی.

## کله چی آزاد شوم څه می پیدا کړل؟

کله چی دجیل څخه خلاص شوم ددوم ځل لپاره دخپلی ښځی سره یوځای شوم هغی زما څخه پوښتنه وکړه چی دراتلوونکی لپاره څه پلانونه لری؟ ما ځواب ورکړو کوم خیال چی زه ئی دخپل ځان لپاره لرم یو آرام او یوازی روحانی ژوند دی. ښځی می ځواب راکړو چی ما هم دا فکر کولو.

زه په ځوانی کی قوی وم خو په جیل کی هغه هم په یوه کوټه کی زما فکر او غوښتنی په دعا بدلی شوی وی. ټول دزړه طوفانونه می آرام شوی وو. ما دکمونیزم په هکله فکر نکولو حتی هغوی ته می هیڅ نه کتل او ما په ډیره علاقه سره هغه چاته چی زه ئی زورولم دعا کوله او ومی کړی شول چی هغوی سره مینه وکړم. ما هر وخت فکر کولو چی وروسته دآزادی څخه کار نکوم او په یوه څواره اتفاق دآسمانی زوم سره یوځای په صحرا کی دوام ورکوم. خدای حقیقت دی، مقدس کتاب حقیقت دی دحقیقت په هکله، الهیات حقیقت دی دحقیقت په هکله دحقیقت په هکله، بنیادگرایی حقیقت دی دحقیقت په هکله دحقیقت په هکله دحقیقت په هکله. مسیحیان په دی ټولو حقیقتونو کی دحقیقت په هکله ژوند کوی. خو په همدی علت حقیقت نلری. وږی او وهلی شوی موږ الهیات او مقدس کتاب هیر کړی وو. موږ حقیقت دحقیقت په هکله هیر کړی وه لذا موږ په حقیقت کی ژوند کولو. پدی ډول لیکلی شوی دی چی زوی دانسان به یو وخت راشی چی تاسو به هیڅ فکر نشی کولی. هغه ورځ به راشی چی تاسو نه پوهیږی. موږ نور کوم فکر کولی نشو. په ډیرو تیارو

وختو کی زموږ زوروانی چی دانسان زوی زموږ خواته راغلو دیوالونه دجیل دالماسو په شان وځلیدل او دجیل کوټی دروښنائی ځخه ډکی شوی. زموږ په وجود کی دزورونی زخمونه وو مگر موږ دخدای سره خوښحالی کولی. موږ هغه خوښحالی دپادشاهانو په قصرونو باندی نه ورکولی.

آیا دچا پرضد وجنگیږم یا کوم شی پرضد؟ ما له دغه نه زیات فکر نشو کولی ما نه غوښتل چی وجنگیږم بلکی ما غوښتل چی دمسیح لپاره ژوندی کورونه تیار کړم. دا آرزو می پخوا درلوده کالونه آرام وو کله چی زه دجیل ځخه خلاص شوم ولی وروسته دهغی آزادی ورځی ځخه زه دکمونیستانو په راتلوونکی وخت سره چی ما دجیل په وخت کی هم نوه لیدلی مخامخ شوم. یو په بل پسی دوی تبلیغ کوونکو، دکلیساو کشیشان او اسقفان سره لیدنی وکړی چه په غم سره دا اقراری وکړو چی موږ دخپلو میزو په ضد او دپولیسو جاسوسان یو. ما دهغوی ځخه پوښتنه وکړه چی تاسو تیارئی چی دټولو خطرونو سره او جیل ته تک په بدل کی دغه جاسوسی پریږدی. ټولو وویل چی نه او تشریح ئی ورکړل چی دا دترس په وجه نه وه بلکی یوه نوی تبدیلی په کلیسا کی چی زما دبندی کیدو نه مخکی نه وو وه او هغه دا چی هر هغه څوک چی دجاسوسی ځخه انکار وکړی په دی معنی دی چی هغه کلیسا ترلی کیږی.

په هر ښار کی یو دحکومت استازی وه چی روحانیون ئی کنترول کول. هغه سړی چی دکمونیستانو دپټو پولیسو ځخه وه دا حق درلوده چی هر یو کشیش او یا رهبر احضار کړی. هر وخت چی هغی غوښتل چی پوښتنه وکړی چی څوک کلیسا ته راغلی وو، څوک هر وخت دخدای شام خوری او څوک په مذهبی مسایلو کی قوی دی او څوک په نجات ورکولو کی فعالیت کوی او یا دکوم شی ځخه توبه کوی او داسی نور. که چیری ځواب نه ورکوی تاسو دکار ځخه

ایستلی کیږی او بل خادم به ستاسو په ځای مقرر کړی چی ستاسو څخه ډیر معلومات ورکړی. چیرته چی دحکومت استازی داسی سړی نه درلود (چی ډیر لږ داسی کیږی) په ساده گی سره به کلیسا بندیده.

زیاتو خادمینو پټو پولیسو ته معلومات ور کول. ولی یو تعداد دا کار په زړه نا زړه سرته رسولو او ځینی کارونه به ئی نه ښکاره کول خو دځینو لپاره دا کار عادت گرځیدلی وه او زړونه ئی سخت شوی وو او یو تعداد داسی هم وه چی زیات معلومات ئی ور کول.

ما دمسیحی شهیدانو دکوچنیانو اقرارونه واوریدل چی اعتراف ئی کول چی هغوی مجبور شول دهغو کورنیو پرضد چی په خوښی سره دوی منی جاسوسی وکړی. هغوی تهدید کیدل چی دوی به ونه کړی شی چی درسونه په مخ یوسی.

زه دبپتستانو یوی کنگری ته ولاړم چی دسره بیرغ لاندی ترتیب شوی وه هلته کمونیستانو تصمیم نیولی وه. وروسته زه پوه شوم چی په ډیرو پاکو ځایو کی ما ویرانی لیدله چی دهغی په هکله عیسی خبری کوی.

هروخت کشیشان او واعظان ښه او خراب وو. خو اوس دکلیسا په تاریخ کی داولینی ځل لپاره دیوه گوند په مرکزی کمیته کی چی اولینی مقصد ئی دمذهب له مینځه وړل دی تصمیم نیولی کیږی چی څوک کلیسا رهبری کړی. دچا لپاره رهبری کړی؟ یقیناً دمذهب له مینځه وړلو لپاره کار او مرسته کړل.

لینین ولیکل: «هر مذهبی فکر حتی هره مفکوره چی خدای ته نیږدیوالی ښکاره کوی ډیره بده او میلیونهاو گناهونو، کثیف عملونه، او هغه جسمانی مریضی چی یو سړی څخه بل ته ورتلی شی ډیر لږ خطر لری نسبت دروحانی غلوونکی فکرونو څخه. ټول کمونیستی گوندونه دپخوانی شوروی په ټولو منطقو کی لینینیست دی. دهغوی لپاره مذهب ډیر بد دی له سرتان او تبرکلوز

ځخه هم بد او اوس دوی تصمیم نیسی چی څوک مذهبی رهبر شی.

درسمی کلیساو رهبران هم دهغوی سره لږ یا ډیره همکاری او صلح کوی. ما لیدلی دی چی کوچنیانو او ځوانانو ته دبی دینی لپاره زهر ور کولی کیږی ولی رسمی کلیساوی ډیر لږ امکانات هم نه درلودل چی دهغی سره مقابله وکړی. موږ وروسته ددغی دلیدلو ځخه دکمونیزم نه دومره بد یوړل چی دزورونو په وخت کی می هم نه وه وړی.

زه کمونیزم ځخه نه پدی چی څه ئې کړی دی بلکی ددی لپاره چی دخدای جلال ته نقص رسوی بد وړم. په نوم دمسیح او روح یو بیلیون خلک چی دهغوی دحکومت لاندی ژوند کوی.

خلک دکلیو او دهیواد هر برخی ځخه ما ته راغلل او وی ویل چی هغوی اوس دخپلو فارمونو او ځمکو لپاره وږی دی. هغوی ډوډی نه درلوده او کوچنیانوئی میوه او شیدی نه لرلی. هغه هم په داسی هیواد کی چی لکه دنوی عهد دکنعان په شان هر شی لری.

وروښو موږ ته اقرار وکړو چی کمونیستی حکومت دهغوی ځخه دروغجن او غله جوړ کړل. دوږی ځخه له هغی ځای نه چی اصلاً پدوی پوری مربوط نۀ خو اوس هغه په حکومت پوری تړلی شوی وو غلا کوله او وروسته ئی باید درواغ ویلی وای ترڅو خپله غلا پټه کری. کارگرانو دفابریکی دترس په هکله ما ته وویل او دکار دویرانولو دقدرت په هکله وویل چی‌سرمایه دارانو دهغی په باب هیڅ فکر نشو کولی هغه دا چی کارگرانو هیڅ حق نه درلوده چی اعتراض وکړی. ټول ژوند او فکر دنړی ۱/۳ برخی خلک ئی خراب یا دروغجن کړی دی.

ځوانی انجلی موږ ته راغلی چی شکایت وکړی چی هغوی دځوان

کمونیستانو شرکت ته غوښتلی شوی دی او تهدید شوی دی ځکه چې هغوی یو هلک چې مسیحی وه ښکول کړو او دبل چا نوم هغی ته ورکولی کیلو چې باید ښکلی ئی کړی.

هر شی مایوس کوونکی، غلط او بد وو.

وروسته ما دېتې کلیسا دجنگیالیو سره لیدنه وکړه. زما پخوانی ملگری ځینی نیولی شوی وو او ځینی وروسته دکالو تیرولو په جیل کې چې بیرته په جگړو شروع کړی وه. هغوی له ما ځخه وغوښتل چې ددوی سره په جنگ کې یوځای شم. ما دهغوی په پټ مجلس کې گډون وکړو. چیرته چې هغو دسرودو کتابونو څخه چې په لاس لیکلی شوی وو سرودونه ویلی کیدی.

ما لوی انتونی په یاد راوړو. هغه ۳۰ کاله په دشت کې وه. او ټوله نړی پریښودلی وه او خپل ژوند ئی ددوعا او روژی سره تیرولو خو کله چې داتاناسیس او اریوس په مینځ کې دعیسی دالاهیت په هکله جگړه روانه وه پوه شوو هغی خپل دوعائی ژوند پریښودلو او الیکساندریه ته لاړو ترڅو دریښتیا په بریالیتوب کې مرسته وکړی. ما برنارد دی کلیرواکس په یاد راوړو. هغه هم داسی یو سړی وه چې په غرونو کې ئی ژوند کولو خو هغی دصلیبی جگړو دحماقت په هکله واوریدل. دهغو مسیحیانو په هکله چې یهودیان، عرب او حتی خپل ورونه ئی دیوی خالی قبر دترلاسه کولو لپاره وژل. هغی خپل زاهدانه ژوند پریښودلو او دخپل ارتفاعاتو څخه لاندی راغی چې دصلیبی جگړو پرضد وعظ وکړی.

ما تصمیم ونیولو چې داسی یو کار وکړم چې ټول مسیحیان یی کوی یعنی دمسیح او پولس رسول مثال تعقیب کړم او دکینستلو فکرونه پریږدم او جگړه شروع کړم.

دا به ځنګه جګړه وی.

مسیحیانو تل په جیل کی دخپلو دښمنانو لپاره دوعاوی کړی دی او ښکلی شهادتونه ئی دوی ته ور کړی دی. زموږ دزړه غوښتنه دا وه چی دوی باید نجات پیدا کړی او هر وخت چی دا کار کیدو موږ به خوښی کوله.

خو دکمونیزم دشیطانی سیستم څخه کرکه کوم او ما غوښتل چی پته کلیسا قوی کړم. یوازنی قوت چی کولی شی دا وحشتناک قدرت دانجیل دقوت سره له کاره واچوی.

ما یوازی درومانیه په هکله فکر نه کولو بلکه دټولی نړی په باره کی می فکر کولو خو زه ډیره بی تفاوتی په غرب کی وینم.

لیکوونکی دنړی اعتراض وکړلو کله چی دوه لیکوونکی سینیاوسکی او دنیل خپلو ملګرویی جیل ته واچول. خو حتی کلیساوی اعتراض نکوی کله چی مسیحیان دخپل ایمان لپاره جیل ته اچولی کیږی.

څوک دورور کونیک په هکله چی په جیل محکوم شوه ځکه چی هغی دا جنایت کړی وه چی مسیحی نشریات لکه توری کتابونه او مقدس کتاب ځینی برخی ئی خپور کړی وی پوهیږی؟ څوک دورور کووفیف په هکله چی سرودونه په لاس لیکلی وو او هغه ئی توزیع کړل پوهیږی؟ څوک دهغی عبرانی مسیحی په هکله پوهیږی (ګرونوالد) چی دهمداسی یو کار لپاره په جیل محکوم شو او کمونیستانو دهغی کوچنی زوی ووژلو؟ زه پوهیږم چی څه احساس می وکړو کله چی زه ئی دمیهای څخه بیل کړم. زه دورور ګرونوالد، ایوانیکو، ګرانی شیوچک، تازیاتاچیکو، ایکاتیرین ویکازینا، ګیورګی ویکازین یوه ښځه او میره دلاتوانیا څخه او نور رسولان او دایمان قهرمانان دشلم پیړی سره یوځای زوریدلی یم. زه تیت شوم ترڅو ددوی زنجیرونه ښکل کرم هماغسی چی اولیه

مسیحیانو خپلو ملګری په زنجیرونه کی ښکلول کله چی دوی ئی وحشی حیواناتو ته داچولو لپاره وړل.

دغربی کلیساو ځینی رهبران دهغوی په هکله توجه نکوی. دشهیدانو نوم ددوی ددوعا په لست کی نشته. کله چی دوی زوریږی او شکنجه کیږی دروسی رهبران دارتودوکس او بپتست کلیساو چی دوی ئی رسوا کړی دی په ژینوا، نوی دهلی، او نور کانفرانسو کی په احترام سره هر کلی ویلی کیږی. دوی هلته خلک مطمئین کوی چی په شوروی کی مطلق مذهبی آزادی شته.

دنړی دکلیساو دکانګرس یو بولشیویک سراسقف په نوم دنیکودیم ئی ښکل کړو کله چی هغی په دی هکله اطمینان ورکړو. وروسته دوی دنړی دکلیسا دکانګرس په نامه یو مجلس جوړ کړو پداسی حال کی چی رسولانو په جیل کی نامینځلی شوی کرم ئی خوړل. هماغسی چی ما دعیسی په نامه خوړلی وو.

دا هماغسی پاتی نشوه. پټی کلیسا تصمیم ونیولو چی زه باید هیواد پریږدم که موقع پیدا کړم او تاسو مسیحیانو ته دهغی شیانو په هکله چی پیښیږی معلومات درکړم.

ما تصمیم نیولی دی چی کمونیزم ختم کړم اګرچه زه کمونیستانو سره مینه کوم. زه فکر کوم چی دا به درست نوی چی بدون دکمونیزم دوهلو څخه دانجیل څخه وعظ وکو.

ځینی ما ته وای چی (دخالص انجیل څخه وعظ وکړه) زه زما په یاد راوړی چی دکمونیست پټ پولیسو هم ما ته وویل چی یوازی دعیسی څخه وعظ وکړم خو دکمونیزم څخه خبری ونکړم. آیا داسی دی چی هغه خلک چی دانجیل دخالص وعظی طرفداران دی دهماغی روح څخه چی په کمونیست پټ پولیسو کی شته الهام اخلی؟

زه نه پوهیږم چی دا خالص انجیل څه دی. آیا دبپتسمه کوونکی یوحنا وعظ خالص وه؟ هغی یوازی ونه ویل چی توبه وکړی ځکه دخدای پادشاهی نیږدی دی. هغی دا هم وویل چی تاسو هیرودیان بد یاست. دهغی سر ئی قطع کړلو ځکه چی هغی ځان صرف درس ورکولو ته محدود نه کړو. عیسی یوازی دخالص بیانیو ښخه ئی په غره باندی وعظ ونه کړه بلکه داسی یوه بیانیه ور کړه چی دکلیسا حقیقی رهبرانو هغه بیانیه به یوه منفی بیانیه ونوموی. «وای ستاسو په حال ای دینی عالمان او فریسیان! ښومره چلباز یی! ... دمنگور نسل». دداسی یو ناخالص وعظ لپاره وه چی هغه ئی مصلوب کړلو. فریسیان په غره باندی دبیانی په هکله هیڅ فکر هم نکولو.

گناه باید دهغی نوم سره یاد شی. کمونیزم په نړی کی یو دټولو ښخه خطرناک گناهونو ښخه دی. هر هغه انجیل چی دا محکوم نکړی خالص انجیل نه دی. پټه کلیسا دا محکوموی. دځان او آزادی دخطر په نظر کی نیولو سره. خو غرب ډیرغلی دی.

ما تصمیم ونیولو چی کمونیزم ختم کړم نه هغسی چی نور چی ځانونه دکمونیزم ضد بولی کوی. هتلر دکمونیزم ضد وه خو یو ظالم هم وه. موږ دگناه ښخه کرکه کوو خو گناهکار سره مینه کوو.

## ولی زه په غرب کی زوریږم :

زه ډیر دهغی ښخه چی په کمونیست هیواد کی زوریدم په غرب کی زوریږم.

زما زورونه اول پدی کی دی چی زه غواړم دپټی کلیسا دښکلا په هکله

خبری وکړم هغه کلیسا چی یو لاتنی مثال چی«لوح عیسی او لوح هغه تعقیب کړی» عملی کوی.

دکمونیستسانو په کمپ کی دانسان زوی او هغو نور کسان چی په هغی پوری مربوط دی هیڅ ځای نلری چی خپل سرونه پری کیږدی. مسیحیان هلته ځانوته کورونه نه جوړه وی. ولی؟ په اولینی نیولو کی دا ټول به دهغوی څخه واخیستی شی او یوازی دا حقیقت چی تاسو یو کور لری ستاسی دنیولو سبب به شی. ځکه چی کمونیستان ستاسو کور غواړی. هلته تاسی خپل پلار نه ښځوی او مسیح پسی دتلو څخه مخکی دخپل فامیل څخه اجازت نه اخلی. ستاسو مور، ورور، خویندی څوک دی؟ تاسی په داسی شرایطو کی لکه عیسی یی. مور او ورور تاسو لپاره صرف هغه خلک دی چی دخدای غوښتنه ترسره کوی. دطبیعی رابطی په حساب آیا کولی شی چی په دوی باندی حساب وکړی کله چی دا یو عادی شی دی چی ناوی دزوم څخه انکار وکړی، ماشومان دپلار او مور څخه او ښځی دخپلو میړو څخه؟ صرف روحانی رابطه پاتی کیږی.

پټه کلیسا په غریبی او زورونو کی دی خو دهغی هیڅ یو غړی شیرگرم ندی. یو مذهبی مجلس په پټه کلیسا کی داسی دی لکه ۹۰۰ کاله مخکی چی په اولیه کلیسا کی وه. استاد په هیڅ تیالوژی باندی نه پوهیږی. هغه هیڅ دلکچر په هکله نه پوهیږی لکه پطرس چی نه پوهیدو. دالهیاتو هر یو پروفیسور شاید پطرس ته دهغی دبیانیی لپاره دپینطکاست په ورځ صفر ورکړی وی. مقدس کتاب آیات په کمونیست هیوداو کی یو آشنا شی نه دی ځکه چی مقدس کتابونه لږ دی او شاید واعظ کالونه په جیل کی تیر کری وی بدون ددی څخه چی مقدس کتاب ولری.

کله چی دوی خپل ایمان په یو پلار کی ښایی دا ډیری معناوی لری. ځکه

چی دهغی شاته یوه درامه ده. په جیل کی هغوی ددی قادر پلار څخه هرډورځ ډوډی غوستلی دی خو دهغی په ځای یوه چټل کرم ور کړی شوی دی. مگر هغوی ایمان لری چی دا پلار دمینی پلار دی. هغوی لکه ایوب دی چی وویل که خدای دهغی سر هم ووهی په هغی به ایمان ولری. لکه عیسی چی خدای ته ئی پلار وویی کله چی داسی په نظر راتلو چی خدای هغی هیر کړی دی.

هر هغه چا چی دپټی کلیسا روحانی سټکلا لیدلی دی نشی کولی نور دځینو غربی کلیساو دخلا سره راضی وی. زه په غرب کی ډیر له هغی څخه چی په کمونیست جیل کی وم زوریږم. ځکه اوس زه په خپلو سترگو وینم چی غربی تمدن مړ کیږی.

اوسوالد سپینگلر په (دغرب سقوط) کی ولیکل: «تاسو مری. زه په تاسو کی دگنده گی نښانی وینم. زه کولی شم تاسو ته په ثبوت ورسوم چی تاسو عالی مال او غریبی، ثرمایه او گلهون، جگړی او انقلابونه، بی دینی او بدبینی، عیب لټول او بداخلاقی، هغه واده گانی چی له مینځه تللی دی او ځیگیدی باندی کنترول چی ستاسو څخه وینی تویوی او ستاسو دمغز دپاسه وژنی ټول دپخوانی هیوادو لکه الیکساندریه، یونان او روم دمړینی نښی وی».

دا په کال ۱۹۲۶ کی لیکلی شوی وو. دهغی وخت څخه تر اوسه پوری تمدن او دیموکراسی دپخوا څخه داروپا په نیمه کی مړ شوی دی حتی په کیوبا کی. دغرب نوری برخی بیده دی. خو یو قوت شته چی هیڅ نه بیدیزی یعنی دکمونیستانو قوت. اگرچه په شرق کی دوی مأیوس شوی دی او خپل فکرونه ئی دلاسه ور کړی دی په غرب کی دوحشیگریو، حقارتونو، او زورونو باندی په کمونیست هیوادو کی باور نه کوی. هغوی خپل ایمان په نه ستړی کیدونکی کوښښ هر ځای کی خپوره وی په دلورو خلکو په کورو کی، په پوهو خلکو په

کلپونو کی، کالجونو کی، په کوڅو کی او په کلیساو کی. موږ مسیحیان عموماً په زړه نا زړه ټول زره سره دحقیقت خواته اوسیږو. دوی په ټول زړه ددرواغو خواته دی.

دالهیاتو پوهان په غرب کی دبی ارزښتو شیانو په هکله بحث کوی.

دا زما په یاد راوړی چی کله په کال ۱۴۹۳ کی دماهومیت عسکرو دوم کانستانتینوپل محاصره کړو او دا تصمیم باید نیولی شوی وی چی آیا دبالکان منطقی دقرونو لپاره په مسیحی حکومت لاندی به وی او که دمحمدیانو یو محلی کلیسا په هماغه ښار کی چی محاصره شوی وه په دی پوښتنو باندی بحث کول: «دمقدس مریمی دسترگو رنگ څه وه؟ فریښتی کوم جنس لری؟ څه پیښیزی که کوم مگس په مقدس اوبو کی ولویزی؟ آیا مگس پاک کیږی او که اوبه چټلیږی؟ ددهغی په نظر کی نیولو سره دا شاید یو قیصه وی خو که دنن ورځی دکلیساو ورځپانی تعقیب کړی همداسی پوښتنی به پیدا کړی چی دبحث لاندی راځی. دکمونیزم خطر او دپټی کلیساو زورونه ډیر لږ ذکر کیږی.

بی پایانه مباحث دالهی مسایلو په هکله شته دشیانو په هکله چی لازمی نه دی او دعبادتی مراسمو په هکله.

یو مجلس وه. یوه سړی پوښتنه وکړه: «که تاسو په یوه کشتی کی وی چی غرق کیږی او تاسو کولی شی چی یوی خالی جزیری ته وتښتی او دا امکان هم ولری چی صرف یو کتاب دکشتی دکتابخانی څخه ځان سره یوسی کوم کتاب به تاسی واخلی؟» یو وویل چی مقدس کتاب بل وویل چی دشکسپیر کتاب. خو یو لیکوونکی درست ځواب ور کړو. «زه به داسی یو کتاب واخلم چی ماته وښایی چی څنگه یو کشتی جوړه کړم او ساحل ته ورسیږم. هلته به زه آزاد ووسیږم چی هر څه غواړم ووایم.

دتولو طریقو او تیالوژیو لپاره دآزادی ساتل او پیسمانی کیدل دهغی ځای په مورد کی چیرته چی دا شیان دکمونیستانو دزوورونو په علت ورک شوی دی ددی څخه ډیر مهم دی چی په مشخص تیالوژی مفکورو باندی تاکید وشی.

عیسی وویل: «حقیقت آزاد کیږی.» ولی همداسی آزادی یوازی حقیقت راوړی شی او دجګړی په ځای دهغوی شیانو لپاره چی مهم نه دی موږ باید نور هم یوځای شو ترڅو دآزادی لپاره او دکمونیزم دظلم پرضد وجنګیږو. زه داوسپنی دپردی شاته دپټی کلیسا دتکلیفونو او پرمختګ په خپوررولو کی هم زوریږم. ددی لپاره چی زه هغو شیانو څخه تیر شوی یم کولی شم دهغی تصویر په یاد راوړم.

دتیری جون په میاشت کی دشوروی ایزوستیا او دیریوینسکایسجین ورځپانی دشوروی بپتست کلیساوی متهم کړی چی خپلو غړیو ته درس ورکوی چی خپلو گناه لپاره ماشومان ووژنی. دا کار پخوانی تهمت دمذهبی مراسمو باندی دی چی په یهودیانو باندی وهلی کیدو.

خو زه پوهیزم چی دا څه معنی لری. زه دکلوج په جیل کی دیو بندی سره په نوم دلازرویسی چی دیو انجلی په وژنه متهم شوی وه په کال ۱۹۵۹ کی یوځای وم. هغه صرف ۳۰ کاله درلود خو دسر ویستان ئی دزوورونی په اثر سپین شوی وو. هغه لکه یو سپینګیرٔی سړی معلومیدو او نوکونه ئی هم نه درلود. هغه ډیر زوریدلی وه چی اقرار وکړی چی دا جنایت ئی کړی دی کوم چی هغی نه وو کړی. پس دیو کال زورونو څخه هغه بی گناه ثابت شوه او آزاد شو خو دهغی لپاره خلاصون هیڅ معنی نه درلوده. هغه دتل لپاره یو مات شوی سړی وه.

نور دورځپانی یوه برخه لولی او پدی احمقانه تهمتونو چی دشوروی مطبوعات دبپتستانو پرضد وایی خاندی.

ډیر سخت دی چې په غرب کې سړي وي او داسې تصاویر هروخت دخپلو سترګو په مخ کې ولري.

اوس سراسقف پریرموګون دکالوګا او ۷ نور اسقفان چې دبې حده همکاري پرضد دشوروي درژیم سره لکه څنګه چې رئیس الیکسي او سراسقف نیکودیم درلود او دکمونیستانو دلاسو آله جوړ شوي وو اعتراض وکړلو چیرته دی؟ که ما هغه اسقف چې په رومانیه کې اعتراض کړی وه او په جیل کې مړ شو نه وي لیدلی ددې اسقفانو په هکله به مې فکر نه وي کړی.

وزیران نیکولای ایشلي مان او کلیب یاکونین دهغې رئیس پواسطه تربیه شول څکه چې دوي یو آزاده مذهبي کلیسا وغوښتله. غرب پدې پوهیږي خو زه دپلار آیون ولادیمیریشتي درومانیه په جیل کې وم هغې چا ته چې همداسې پیښ شوي وو. په سطح باندې صرف دکشیشانو یو نظم وه. خو درسمي کلیساو رهبران په کمونیست هیوادو کې لکه دنورو رسمي کلیساو درهبرانو په شان لاس په لاس دپټ پولیسو سره کار کوي. هغه کسان چې دکمونیست لخوا تربیه کیږي دموثري تربیې لاندې لګ وهل او ټکول او زورونې په جیل کې هم راځي.

زه دهغو زورونو لپاره چې زوریدلي دکمونیستانو په کمپونو کې اوباسي درګیږم. زه ددوي دتل لپاره راتللونکې په هکله په فکر کولو درګیږم. زه دغربي مسیحیانو لپاره چې خپل ورونو سره چې په زورونو کې دي مرسته نه کوي درګیږم.

په خپل زړه په ژورتیا کې زه غواړم چې دخپل دتاکستان ښکلا وساتم او نه غواړم چې پداسې یو لویه جګړه کې مصروف ووسم. زه ډیر زیات غواړم چې چیرته په آرامې کې ووسیږم. خو دا ممکن نه دی. کمونیزم په دروازه کې دی. کله چې کمونیستانو په تبت باندې تجاوز وکړلو ټول هغه کسانې چې یوازې په

مکمل روحانی مسایلو کی دلچسپ وو ختم کړل. زموز په هیواد کی هم دوی هغه کسان چی ځانونه ئی دریښتیا څخه لری نکړل ختم کړل. کلیساوی له مینځه لاړی یوازی څو کلیساوی چی دخارجیانو دبازی ور کولو لپاره ضروری وه پاتی شوی. دا آرامی او راحت چی زه غواړم شاید یوه تیښته دریښتیا څخه وی او دا زموږ لپاره هم خطرناک وی.

زه باید دا جنگ مخته بوځم اگرچه شخصاً راته خطرناک دی. که زه ورک شم تاسو مطمئین ووسیږی چی کمونیستانو دا کار کړی دی. هغوی زه په کال ۱۹۴۸ کی دسړک څخه اغوا کړم او په یو غلط نوم ئی زه جیل ته واچولم. آناپارکر په هغه وخت کی دحکومت سکرتر دسویدن سفر سرپاتریک ته وویل: «ورمبراند اوس دکوپنهاگن په سرکونو کی گرځی.» دسویدن سفر هغه لیک چی زه بریالی شوم چی دجیل څخه واستوم په خپل جیب کی درلود. هغه پوهیدو چی ورته درواغ ویلی کیږی. دا کار بیاهم کیدی شی. که زه ووژلی شوم زما قاتل به دکمونیستانو لخوا مقرر شوی وی. هیڅ بل څوک نه غواړی چی ما ووژنی. که زما دغلا، همجنس بازی، زنا، سیاسی نامحکمی، درواغ او یا هر بل څه مو واوریدل دا به دپټ پولیسو دتهدید پوره کیدل وی چی وویل: «موږ به داخلاقی له نظره تاسی خراب کړو.»

یوه ښه معتبره منبع وایی چی درومانیه کمونیستانو تصمیم نیولی دی چی پس له زما دشهادت څخه دامریکی دسنا په مجلس کی ما په قتل ورسوی. هغوی به کوښښ وکړی چی زما دا بدن ووژنی او یا زما شهرت له مینځه یوسی. هغوی به کوښښ وکړی چی زما دملگریو په ویرولو ما تهدید کړی. هغوی قوی لاری لری خو زه نشم کولی غلی پاتی شم او ستاسو وظیفه دا دی چی هغه څه چی وایم په آرامی سره تحلیل کړی. حتی که فکر وکړی چی بلاخره زه ددی ټولو شیانو

 څخه تیر شوی یم. زما تکلیف دا دی چی تاسو باید له ځانه پوښتنه و کړی چی دا ترسناکه قدرت څه دی چی خپل ښاریان مجبوروی چی دداسی ډول شیانو څخه وزوریږی. څه قوت دی چی دشرقی جرمنی سرې مجبوروی چی دخپلو ماشومانو سره په بلدوزر کی په خارداره دیوالونو باندی دمړینی دګواښ دمنلو سره یوځای دخپل فامیل سره جګ شی؟

غرب بیده دی او باید ویښ شی.

هغه خلک چی زوریږی یو ملزم لټوی په چا باندی چی دوی تهمت کیږدی. دداسی یو سړی پیدا کول پیتی ډیر لږ کوی. زه نشم کولی چی دا کار وکړم. زه نشم کولی چی ملامتی دغربی کلیساو په څو رهبرانو باندی واچوم چی کمونیزم سره صلح کوی. بد کارونه په هغوی کی نه راځی؟ دا یو ډیر پخوانی شی دی. دا رهبران خپله ددی پخوانی شیانو قربانیان دی. هغوی په کلیسا کی ګمراهی نه پیدا کوی. هغوی هغه پیدا کړل.

دهغی وخت څخه چی په غرب کی یم ډیرو دالهیاتو پوهنتونو ته تللی یم. هلته ما دزنګونو او دعبادتی سرودونو دتاریخ په هکله او یا په کلیسا کی دنظم په هکله چی نور وجود نلری او یا دارتودوکس قوانینو په هکله لکچرونه اوریدلی دی. ما دالهیاتو داسی شاګردان لیدلی دی چی زده کول چی په مقدس کتاب کی دنړی دپیدا کیدو قیصه ریښتیا نه ده، نه دآدم قیصه، نه دموسی دمعجزاتو او طوفان قیصه ریښتیا ده او دا چی پیشګوئی پس له ترسره کیدو څخه لیکلی شوی دی، دا چی دباکره څخه ځیګیدل یوه قیصه ده. همداسی دعیسی دمړو څخه ژوندی کیدل او دا چی هغی اړو کی چیرته په کوم قبر کی پاتی شول، دا چی رسولان ریښتنی نه دی او دمکاشفی کتاب یوه‌ لیونی سړی لیکلی دی خو انجیل یو مقدس کتاب دی. (دا کار یو داسی مقدس کتاب په ځای پریږدی چی دهغو

درواغو ښخه ډیر چی په کمونیست ورځپانو کی وی په هغی کی شته.)

دا هغه څه دی چی دننی ورځی دکلیساو رهبران کله چی په پوهنتونو کی وو زده کړی دی. دا هغه فضا ده چی دوی پکی ژوند کولو. ولی دوی داسی یو سړی ته چی داسی عجیب شیان دهغی په هکله ویلی کیږی وفادار پاتی شی؟

هغوی درسمی کلیساو رهبران دی نه دمسیح ناوی. هغوی دداسی کلیساو رهبران دی چی په هغی کی ډیر غړی خپل آقا رسوا کوی. کله چی هغوی څوک دپټی کلیسا ښخه وینی نو هغه ته لکه یو ناآشنا موجود شانتی گوری.

دویم دا درسته نه ده چی خلک دهغوی دعمالو دیوی خوا په حساب قضاوت کړو. که موږ داسی وکړو موږ لکه فریسیان به شو چی عیسی دوی بد وو ځکه چی هغی به ددوی قوانینو ته دسبات په ورځ احترام نه کولو. دا کار دهغوی سترگی دهغی شی په مخ چی په مسیح کی دمینی ور وو بند کړو.

دغه دکلیساو رهبران چی یوه غلطه رویه دکمونیزم خواته لری شاید په ډیرو شیانو کی درست وی او شاید شخصاً صمیمی اووسیږی او حتی په هغی شی کی چی دوی غلط دی بدلون راوړی.

یو ځلی ما دیو ارتودوکس اسقف سره په رومانیه کی وم. هغه دکمونیستانو سره وو چی خپلی میزی افشا کولی. ما دهغی لاسونه په خپل لاسو کی ونیول او دمسرف دزوی مثال می ورته وویل. مازدیگر وه او دهغی په باغ کی ناست وو. ما وویل: «وگوره چی څومره خدای هغه گناهکاران چی بیرته راشی منی. هغه په خوښی حتی یو اسقف هم منی. که هغه توبه وکړی». ما هغی ته مسیحی سرودونه وویل. دا سړی بدل شوه.

زه په جیل کی په هماغه کوټه کی وم چی یو ارتودوکس کشیش پدی امید چی خلاص به شی بی دینی لکچرونه ئی لیکل وو. ما دهغی سره خبری وکړی او

هغې ټول هغه لکينې چې کړې وې چيرې کړې او پدې ترتيب خپل ځان ئې دتل قيد په خطر کې واچولو.

زه نشم کولی څوک ملامت کړم او پدې ترتيب هغه پيټی چې زه په خپل زړه باندې لرم سپک کړم.

زه يو بل درد لرم. حتی زما ډير نږدې ملګري ما غلط درک کوی. ځينی ما په تريخوالی سره دکمونيستانو سره په کينه محکوم کوی خو زه پوهيږم چې داسی ريښتيا نه ده.

يو ليکونکی په نامه دکلاود مونتيفيور ويل: «چې دعيسی رويه ددينی علما او فريسيان خواته عامو خلکو په مينځ او دهغوی محکوم کول دهغی امر پرضد دی چې خپلو دښمنانو سره مينه وکړی او هغوی سره چې موږ ته بد رسوی برکت ورکړو. داکتر دبليو. آر. متيو په لندن کی دپولس رسول دپوهنتون متقاعد مدير داسی ختموی چې دا يوه بی ارتباطی او ناموافقت په عيسی کی دی. هغه دا بهانه راوړی چې عيسی پوه نه وه.

دمونتيفيور فکر دعيسی په هکله غلط وه. عيسی فريسيانو سره مينه درلوده. اګرچه هغوی ته ئی په عام ميدان کی بد ويل. زه هم دکمونيستانو او دهغوی دخلکو سره په کليسا کی مينه کوم خو هغو ته بد وايم.

هر وختی ماته ويلی کيږی چې کمونيستان هير کړه! صرف په روحانی شيانو کی کار وکړه!

ما ديو مسيحی سره ليدنه وکړه چې دنازيانو په لاس زوريدلی وه. هغه ما ته وويل چې بالکل ما سره دی تر هغه وخته پوری چې زه صرف دمسيح لپاره شهادت ورکړم خو بايد دکمونيستان پرضد هيڅ څه ونه وايم. ما دهغی ځخه پوښتنه وکړه چې آيا مسيحيان چې دهتلر پرضد په جرمنی کی جنګيدل غلط وو

او داچې هغوی باید صرف دمقدس کتاب څخه په ویلو محدود شي بدون ددی نه چې یوه کلمه دظلم پرضد ووایي؟ ځواب دا وه چې هټلر ۶ میلیون یهودیان ئې وژلي دي یو څوک باید دهغی پرضد دریدلی وای. ما ځواب ورکړو چې کمونیزم هم ۳ میلیون روسان، په میلیونهاو چینایان او نور وژلي دي او هغوی یهودیان هم وژلي دي. آیا باید هغه وخت اعتراض ورکړو چې یهودیان وژلي کیږي او یا دا هغه وخت چې روسان وژلي کیږي؟ ځواب دا وه چې دا بالکل بیل شی دی. هیڅ توضیح می ترلاسه نکړه.

زه دپولیسو لخوا دهتلر او کمونیستانو په وخت کی وهلی او ټکولی شوی یم خو ما ونکړی شو چې ددی دو په مینځ کی کوم فرق ووینم. دواړه ډیر دردونکی وو.

مسیحیت باید دگناه دمختلفو اشکالو پرضد وجنگیږي. موږ صرف ددی مشکل پواسطه زوریدلی نه یو.

خو کمونیزم په اوسنی وخت کی یو دټولو څخه خطرناک او لوی دښمن دمسیحیت دی او دهغی پرضد موږ باید یوځای شو.

آیا کولی شم چې دا بیا ووایم؟ دانسان مقصد دا دی چې لکه مسیح شي. ددی شي مانع کیدل دمسیحیانو یوازنی مقصد دی. هغوی په ابتدایه شکل سره دمذهب پرضد دی. هغوی باور لري چې انسان پس له مړینی هغه په مالگه او نور موادو بدلیږي نه په کوم بل شي. هغوی امید لري چې دمادی په اساس یو ژوند ولري.

هغوی صرف تلولو باندی پوهیږي. دهغوی کلمات هماغه دي چې شیطان په نوی عهد کی ځواب ورکړو کله چې دهغی څخه پوښتنه وشوه چې نوم ئې څه دی «موږ فوج یو» شخصیت چې دټولو څخه لویه تحفه ده چې خدای انسان ته

ور کړی ده له مینځه تللی دی. هغوی یو سړی جیل کی اچوی ځکه چی دهغی سره ئی دالفریدادلر (فردی روانشناسی) کتاب ئی پیدا کړو. دپټ پولیسو افسران چیغی ووهلی: «انفرادی هروخت انفرادی ـ ولی نه جمعی؟»

عیسی غواړی چی موږ شخصیتونه ووسیږو. پدی علت دی هیڅ دموافقی امکان زموږ او دکمونیستانو ترمینځ وجود نلری. کمونیستان پدی پوهیږی. دهغوی دساینس او مذهب مجله لیکی چی مذهب دکمونیزم سره موافق نه دی او دیو بل پرضد دی. دکمونیست حزب دپروگرام موضوع دا دی چی یو مړ کوونکی انفجار مذهب ته ور کړی. دا یوه پروگرام دیوی بی دینی ټولنی دجوړولو لپاره دی چیرته چی خلک دتل لپاره دمذهب دبند څخه به خلاص شی.

آیا کمونیزم او مسیحیت کولی شی یو بل سره ژوند وکړی؟ کمونیستان دی پوښتنی ته ځواب ورکوی چی کمونیزم مذهب ته یو مړ کوونکی انفجار دی.

# پنځم فصل

زه به اوس دېتې کليسا په هکله خبرې وکړم. دا کليسا په ډېرو سختو شرايط کې ژوند کوي. بې ديني دکمونيستي هيوادو رسمي دين دی. هغوی کم يا زيات آزادي دهغو شيانو ته چې زاړه خلک پر ايمان لري ورکوي خو ماشومان او ځوانان بايد ايمان ونه لري. اگرچه پدې هيوادو کې لکه راډيو، تلويزيون، سينما، تياتر، مطبوعات دا هدف لري چې په خدای ايمان له مينځه يوسي. پټه کليسا ډېرې کمې لارې لري چې ددې لوی قوت پرضد کار وکړي. پټ خدمت کوونکي دروسيه هيڅ تعليم نه دی ليدلی. داسې کشيشان هم شته چې مقدس کتاب ئې ترآخره پورې نه دی ويلی.

زه به تاسو ته ووايم چې څو نفره دهغوی رسمي دستور لري. ما يو ځوان روسي وليدو چې پټ خادم وه. ما دهغې څخه پوښتنه وکړه چې چا هغې ته دستور ورکړی دی. هغې ځواب راکړو چې موږ هيڅ يو رينښتيني اسقف نلرو چې موږ ته دستور راکړي. زموږ رسمي اسقف هيڅ هغه څوک چې دکمونيست حزب لخوا مقرر نشي نټاکي. نو موږ ۱۰ نفره ځوانان ديو شهيد اسقف اديرې ته لاړو. دو نفرو خپل لاسونه دهغې په اديرې باندې کيښودل او نور زموږ چار چاپيره ټول شول او موږ دروح القدوس څخه وغوښتل چې موږ رهنمائي کړي. موږ اطمينان لرو چې دمسيح دلاسونو په واسطه موږ ته دستور راکړی شو.

زما په فکر دا دستور چې دی ځوان سړی ته ورکړی شوی دی دخدای په حضور کې اعتبار لري.

خلک دداسی دستوراتو سره چی هیڅ تعلیم نلری او عموماً دمقدس کتاب په هکله هم ډیر کم پوهیږی دخدای کار مخ ته وړی.

دا داولنی پیرو دکلیساو په شان دی. په کم پوهنتون کی هغو چی نړی ئی دمسیح لپاره سرچپه وگرځول درس ویلی وه؟ آیا دوی ټول باسواده وو؟ او له کوم ځایه دوی مقدس کتابونه تر لاسه کړل؟ خدای دهغوی سره خبری وکړی.

موږ په پټه کلیسا کی هیڅ لوی تعمیر نلرو خو آیا دآسمان څخه ښکلی او لوی دی کله چی موږ په ځنگلونو کی ټولیږو او هغی ته گورو. دالوتونکی آوازونه زموږ موسیقی وی، دگلان زموږ خوشبو وی، او دیو قهرمان کالی چی په دی اواخرو کی له جیل څخه خلاص شوی دی دکشیشانو دکالیو څخه ښکلی وی. موږ دشمع په ځای ستوری او سپوږمی لرو. فریښتی هغه کسان دی چی هغه روسانه وی.

زه هیڅکله نشم کولی چی ددی کلیسا ښکلا توضیع کړم.

عموماً پس له داسی مجلسو څخه وی چی مخفی پولیس مسیحیان نیسی او جیل ته ئی اچوی. هلته مسیحیان زنجیرونه اغوندی خو په داسی خوښی سره چی یوه ناوی هغه دسرو زروگانی چی زوم ورته استولی دی اغوندی. په جیل کی اوبه آرامی دی. تاسی دهغی هڅونه به واخلی او خپل ځای به دپادشاهانو سره هم بدل نکری. ما اصلی مسیحیان په مقدس کتاب، پټه کلیسا او جیل کی لیدلی دی. پټه کلیسا زوریدلی ده. ولی ډیر ملگری لری حتی دمخفی پولیسو او ددولت غړیو په مینځ کی هم. کله واری ایمانداران دپټی کلیسا ساتنه کوی.

په دی اواخرو کی دشوروی مطبوعاتو دشوروی دظاهری ایماندارانو دمخ په زیاتیدو شکایت کوی. دشوروی مطبوعات توضیع ورکوی چی ډیر سړی و ښځی داسی دی چی دکمونیستانو په قصرونو، دولتی دفترونو، دپروپاگندا په

ځایونو کی او هر ځای کی کار کوی چی په ظاهر کی کمونیستان دی خو په باطن کی ایمانداران او دپتی کلیسا غړی دی.

کمونیستی ورځپانه دیوی ځوانی ښځی قیصه چی دپروپاگندو په ځای کی کار کولو داسی لیکی: پس له کارنه به هغه خپل میړه سره لیدل. وروسته دشپی دوړی نه هغه او دهغی میړه یو ډاله دځوانان به ئی دنیزدی کورونونه راټولول او دمقدس کتاب پټ درسونه به ئی ورته ویل او دوعا به ئی کوله. دا کار په ټول کمونیستی نړی کی کیږی. په زرهاو داسی ظاهری بی ایمانان ژوند کوی. دوی دا باندی سه پوهیږی چی دنمونی کلیساو ته ولاړ نشی چیرته به هغوی تعقیب شی او داوبو سره یو فلتر شوی انجیل به واوری. دهغی په ځای دوی په لوی او قدرت مند مقاماتو کی پاتی کیږی. او دهغی ځای څخه دمسیح لپاره شهادت ور کوی.

وفاداره پټه کلیسا په داسی ځایو چی په زرهاو نفر لری. دوی پټ مجلسونه په پټو کوټو، اپارتمانو، او کورنو کی جوړه وی.

په شوروی نور هیڅوک دځوانانو او ماشومانو دبپتسمه په هکله څه په یاد نلری. هغوی‌نشی کولی چی پیشگوئی ژباړنه وکړی او دهغوی په هکله بحث وکړی ولی زه عموماً حیران پاتی کیږم چی څومره ښه دوی کولی شی چی بی ایمانانو ته دخدای حضور په ثبوت ورسوی.

دهغوی ځوابونه بی ایمانانو ته ساده دی: «که تاسو یو مجلس ته دعوت شی او هر قسم سه غوښی ولری آیا ایمان به ولری چی دا هیڅ چا نه دی پاخه کړی. طبیعت یوه میلمستیا ده چی زموږ لپاره تیار کړی شوی دی. تاسو رومی بادنجان، سیب، شیدی او شات لری. چا دا ټول شیان دانسان لپاره تیار کړی دی. طبیعت روند دی. که تاسو په هیڅ خدای ایمان نه لری څنگه کولی شی چی توضیح

ور کړی چی روند طبیعت کامیابه شو چی شیان موږ لپاره په مختلفو قسمونو او تعداد سره چی موږ ورته ضرورت لرو تیار کړی؟»

هغوی کولی شی چی په ثبوت ورسوی چی ابدی ژوند موجود دی. ما دیوه ځخه واریدل چی دیو بی ایمان سره ئی خبری کولی چی فکر و کړه چی تا کولی شول چی دیو جنین سره دمور په رحم کی خبری و کړی او دا چی تاسو به هغی ته وویل چی دا ژوند لنډی دی او پدی پسی به حقیقی او اوسد ژوند شروع شی. جنین به ځه ځواب ور کړی چی تاسو بی ایمانان موږ ته ووایی کله چی موږ تاسو سره خبری کو. جنین به ووایی چی دمور په رحم چی یو ژوند دی اونور هر ځه مذهبی حماقت دی. ولی که جنین کولی شوی چی فکر و کړی نو به ئی ځانته ویلی وی چی دلته زما بازوان لویږی. زه هغو ته ضرورت نلرم. زه حتی نشم کولی چی هغوی وخوځم. نو ولی دا نمو کوی؟ حتماً دیو راتلوونکی ژوند لپاره چیرته چی زه باید دهغوی سره کار و کړم. پسی نمو کوی خو زه ئی دخپلی سینی په طرف ساتم نو دوی ولی نمو کوی؟ حتماً کوم ژوند په یو لوی نړی کی راتلوونکی دی. چیرته چی زه باید دهغوی سره و گرځم. ستر گی نمو کوی اگرچه زما شا او خوا ته تیاره ده او هغوی ته ضرورت نلرم نو ولی ستر گی پیدا کیږی؟ حتماً یو نړی شته دروښنائی او رونگونو سره. نو که جنین کولی شوی چی دخپل نمو په هکله فکر و کړی او دبهرنی ژوند په هکله هم پوهیدو بدون دلیدلو ځخه. داسی موږ هم یو. ترڅو چی ځوان یو قوت لرو او هیڅ فکر نلرو چی درست ئی استعمال کړو. کله چی موږ په ټول عمر کی دانش و عقل کی نمو کوو مرگ زموږپه انتظار کی وی چی موږ قبر ته یوسی. ولی دا لازمی وی چی موږ په پوهه او عقل کی نمو و کړو که نور دهغی ځخه استفاده نشو کولی؟ ولی پسی او لاسونه په جنین کی نمو کوی؟ دهغه شی لپاره چی راتلوونکی دی.

موږ تیار یو چې په یوه لوړه درجه کې کار وکړو چې پس له هغې نه مرګ دی.

دعیسی په هکله رسمی کمونیسست نظریې دادی چې هغه هیڅ موجود نه وو. دپټې کلیسا کارګرانو په ساده ګی سره دی ته ځواب ورکوی: «کوم ورځپانه په جیب کی لری؟» دا پراودا ورځپانه ده دنن ورځی او یا پرون. «اجازت شته چی ویې ګورم. هو، ۱۴ جنوری ۱۹۷۴ ئی دڅه وخت نه شمارلی دی؟ دهغی سړی دتولد دورځی څخه شماری چی هیڅ موجود نه وو. دهغی څخه مخکی هم وخت موجود وو خو کله چی هغه راغی نړی ته معلومه شوه چی هر شی له مخکی بی فایده وه او دا چی ریښتیا وخت اوس شروع شوه. کمونیست ورځپانه دستاسو په خپله دا په ثبوت ورسوی چی عیسی صرف یوه قیصه نده.

کشیشان په غرب کی عموماً وایی چی هغه خلک چی ددوی په کلیساو کی دی په ریښتیا دمسیحیت مهمو حقایقو په هکله مطمئن دی خو داسی نه ده. په مشکل به داسی یوه بیانیه چی دایمان حقیقت ثابت کړی.

ولی داوسپنی پردو شاته هغه سړی چی هیڅ وخت دا کار ئی نه دی زده کړی خپل نوی ایمانانو ته یو ټینګ بنسټ ورکوی. په ډیرو کمونیستی هیوادو کی داسی نه دی چی تاسو ووایی چی پټه کلیسا چیرته ده ، یو ټینګ ځای دمسیحیت لپاره ده، دهغی آخر چیرته دی او یا دکوم ځای نه شروع کیږی. دا کار مخلوط کار دی. ډیر کشیشان دنمایشی کلیساو یو پټ خدمت په عین وخت کی مخ ته وړی چی دهغه حدودو څخه چی دکمونیستانو په واسطه تعیین شوی دی تیریږی.

رسمی کلیسا یعنی دکمونیستانو سره یوځای کلیسا یو اوږد تاریخ لری دا پس دشوروی انقلاب څخه دژوندی کلیسا سره چی دسیرګین په نامه یو رهبر پواسطه رهبری کیدو پیل شو.

دا ژوندی کلیسا په هغه وخت کی په واضح توګه په مسکو کی اعلان وکړو چی زموږ هدف دکلیسا جوړول نه دی بلکه دهغی له مینځه وړل دی ترڅو ټول مذهبونو ته انفجار ورکړو. سنکلی پروګرام دیو کلیسا لپاره دی.

موږ په هرملک کی داسی سیرګین په شان خلک لرو. په هنګری کی دکاتولیکانو په مینځ کی پلار بالوغ وو. هغه او ځینی نور پرتستان خادمین دکمونیستانو سره مرسته ورکړه چی په ټول ملک باندی کنترول ترلاسه کړی.

په رومانیه کی کمونیستان دیو ارتودوکس پیشوا په مرسته دبوردوسیا په نامه قدرت ته ورسیدل. هغه سابق یو فاشیست وو چی باید دخپلو رئیسانو نه دخپلو ګناهونو لپاره دروسیانو پرضد ډیر سره شوی وی. دا پیشوا دویشینسکی دشوروی ددولت سکرتر وو ولاړ وو او کله چی هغی دیو کمونیست حکومت دمقرری علان وکړو هغه په تأیدی شکل سره وخندل. دا حکومت یو جنت په ځمکه باندی به جوړ کړی او تاسو به نور آسمانی جنت ته ضرورت ونه لری.

دشوروی سراسقف نیکودیم په هکله هیڅ شک نشته چی هغه دحکومت جاسوس نه وه. جنرال دیریابین یو افسر چی دشوروی دپټو پولیسو څخه تښتیدلی وه شهادت ورکړو چی هغه ددوی جاسوس وه.

دا حالت تقریباً په ټول طریقو کی شته. درومانیه اوسنی بپتست رهبری په زوره تحمیل شوی دی چی رینښتنی مسیحیان رد کوی. په شوروی کی دبپتستانو رهبری هم دا کار کوی. درومانیه دادویستانو رهبر په نامه دتاچیسی په خپله ما ته وویل چی دهغی ورځی نه چی کمونیستانو په قدرت رسیدلی دی دهغوی جاسوس دی.

دکلیساو دټولو په ځای اګرچه دوی په زرهاو کلیساوی وتړل کمونیستانو یو څو کلیساو ته اجازه ورکړه چی نمایش لپاره خلاص پاتی شی او دهغوی څخه

دیوه‌کړ کی په شان دملاحظاتو او کنترول لپاره او بلاخره دمسیحیانو دخرابی لپاره استفاده وکړی. هغوی تصمیم ونیولو چی ښه به وی چی دکلیسا تعمیرونه پریږدی او دکمونیستانو دیو الی په شان چی مسیحیان کنترول کړی ورنه استفاده وکړی ترڅو یو لاره وی چی هغوی ته چی دنورو هیوادو څخه راځی بازی ورکړی. ما ته داسی کلیساو راکولی کیدی ولی په یو شرط چی زه دیو کشیش په حیثیت دکلیسا دغړو په هکله پټو پولیسو ته خبر ورکړم. داسی معلومیږی چی غربیان په تور او سپین باندی عادت دی او دا باندی نه پوهیږی خو پټه کلیسا هیڅ وخت دکنترول لاندی او نمایشی دمؤثر بشارت یه ځای دځوانانو په شمول قبول نکړی.

ولی په رسمی کلیسا کی درهبرانو دخیانت پرضد یو واقعی روحانی ژوند روان دی. (زه فکر کوم چی په ډیرو غربی کلیساو کی دا حالت دی. دایماندارانو جماعتونه دی نه ددوی درهبرانو په خاطر بلکه دهغوی پرضد)

دارتودوکس عبادتی رهبرانو گروپ بدون دکومی بتدیلی پاتی شوی دی او دکلیسا دغړیو زړونو ته خوراک ورکوی حتی که په خپل بیانیو کی دکمونیستانو چاپلوسی کوی. لوتیران، پرتستان و دپرتستان نور طریقی هماغه پخوانی سرودونه وایی او بل دا چی حتی دجاسوسانو بیانی هم دکلام څخه څه ولری. هغوی پوهیږی چی دهغوی کسانو په واسطه چی دوی ایمان راوری شاید خائنین وی او پټو پولیسو ته ددوی دایمان په هکله خبر ورکړی. دهغوی باید خپل ایمان دهغه چا نه چی دخپل خراب بیانی سره ورکړی دی پټ کړی. دا دخدای عالی معجزه ده چی دلاویانو په دویم فصل کی په رمزی ژبه ویلی شوی دی: «که دلاشی کوم برخه (دموسی دشریعت په حساب سره نجس دی) په هغه تخم باندی چی کرلی کیزی وغورځی پاک به شی».

صداقت موږ مجبوره وی چی وو ایو چی درسمی کلیساو ټول رهبران او حتی دهغوی لوړ سړی دکمونیستانو نه دی.

دپټی کلیسا غړی هم درسمی کلیساو ډیر ښه غړی دی. بغیر دهغو نه چی ځانونه پټ باید وساتی. هغوی وینی چی مسیحیت ضعیف نشی بلکه یو جنګی ایمان ولری. کله چی پټ پولیس راغلل چی ولادیمیریشتی په رومانیه کی وتړی او همداسی په نور ځایونو کی په شوروی کی دوی مشکل درلودل. ځینی کمونیستان دمذهب له مینځه وړلو دجنایت لپاره خپل ځانونه ور کړل.

خو رسمی کلیساو نور هم کمیږی. زه به حیران شم که چیری په ټول شوروی کی تراوسه هم پینځه او یا شپز زره کلیساوی وی. امریکا هماغه نفوسو کی ۳۰۰۰۰۰ کلیساوی لری. دا کلیساوی عموماً په کوچنی اطاقونو کی وی نه هسی کلیساوی چی موږ فکر کوو. هغه خارجیان چی مسکو ته ځی یو ډک کلیسا وینی چی دپرتستانو یوازینی کلیسا په هغه ښار کی دی او دا ښایی چی آزادی څه دی. هغوی په خوښی راپور راکوی. غم دا دی چی یو پرتستان کلیسا د۷ میلیون خلکو لپاره. دا خلک یا باید هیر شی اویا باید دپټو بشارتی لارو څخه دوی ته ورسیږو. بل هیڅ لاره نشته. هرڅومره چی کمونیزم په یو ملک چی نمو کوی په هماغه اندازه باید کلیسا پټه شی.

درسمی کلیساو په ځایو کی چی تړلی شوی دی دمذهب ضد مجلسونه جوړیږی.

## څنګه پټ کلیسا دکمونیست نشریاتو څخه استفاده کوی

خو پټ کلیسا پوهیږی چی څنګه دا هم استعمال کړی. دټولو نه اول دبی دینانو دنشریاتو څخه استفاده کوی. دقیقاً لکه الیاس چی دکلاغ نه ئی ډوډی

لاس ته راوړه. کمونیستان هر هنر او ډیر زیات کار دمقدس کتاب دآیاتو په مسخره کولو او تنقید کی په کار اچوی.

هغوی داسی کتابونه دکومیدی مقدس کتاب اویا دایمانداران او بی ایمانانو دمقدس کتاب نامونو سره چاپ کړل. هغوی کوښښونه وکړل چی وسایی چی دمقدس کتاب آیتونه څومره احمقانه دی او ددی کار لپاره هغوی ډیر زیات آیتونه دمقدس کتاب په هغه کتاب کی نقل کړی وو. څومره موږ ددی په هکله خوښ وو. دا تنقیدات دومره احمقانه وو چی هیڅ چا جدی ونه نیول. خو په میلیوناو کاپی ددی کتاب چاپ ته ورسیدلی چی دمقدس کتاب دآیاتو څخه ډک وو چی حتی که کمونیستانو کوښښونه کړی وو چی مسخره ئی کړی ډیر ښکلی وی په قدیم کی هغه بدعت گذاران چی دغیرمساواتو پواسطه سوزول به ئ یو پایه ته وړل او پداسی حال کی هر رنگ مسخره کالی په دوی باندی اغوښتل او داور شعلی او دشیطان په هغی باندی اوباسل. نو دمقدس کتاب آیات ریښتیا پاتی کیږی. حتی که دشیطان لخوا نقل شوی وی.

دکمونیستانو مطبعه دډیرو خطونو په اخیستلو چی ددی بی دین کتاب دچاپ غوښتنه ئی کوله ډیر خوښ وو. هغه کتابونه چی په کی دمقدس کتاب آیات نقل شوی وه ترڅو هغه مسخره کړی. مگر دهغوی نه پوهیدل چی دا خطونه دپټ کلیسا نه وو. پټ کلیسا بل هیڅ لاره نه درلودله چی دمقدس کتاب آیات ترلاسه کړی. موږ په دی هم پوهیدو چی څنگه دبی دینانو دمجلسونو څخه استفاده وکړو.

یو کمونیست پروفیسور په یو مجلس کی وویل چی عیسی بغیر دیو جادوگر نه هیڅ څه نه وه. دپروفیسور مخی ته یو اوبو ستل وو. هغه په دی اوبو کی پودر واچول او هغه اوبه سرې شولی. هغی وویل: «دا ټول معجزه ده.» هغی

وویل چې: «عیسی په خپل لستونی کی داسی پودر کیښودلی وو او بیائی وښودل چې یعنی په یوه عجیبه معجزه کی اوبه په شرابو بدلی شوی. خو کولی شم چې دعیسی نه هم ښه کار وکړم. زه کولی شم چې شراب په اوبو بدل کړم». هغه یو بل پودر په اوبو کی واچول او اوبه سپینی شوی. وروسته ئی بل پودر واچول او اوبه بیا سری شوی.

یو مسیحی ودریدلو او وپوښتل: «تاسو موږ دهغه شی سره چې تاسو کولی شی حیران کړو ملګری پروفیسور! موږ دستاسو نه دیو بل شی پوښتنه کوو: لږ دخپلو شرابو څخه وڅیښئ». پروفیسور وویل چې دا کار نشم کولی ځکه چې دا پودر زهرناک دی». هغه مسیحی ځواب ورکړو چې دا فرق دستاسو او عیسی په مینځ کی شته. هغه دخپلو شرابو سره موږ ددوو زرو کالونو لپاره خوښ ساتلی یو او تاسی خپل شرابو سره موږ ته زهر راکوی. هغه مسیحی جیل ته لاړو خو دغه خبر هر ځای کی خپور شو او ایمان ئی قوی کړو.

موږ کوچنی داودان یو خو دبی دینانو دجلیات څخه زور کی یو ځکه چې خدای زموږ سره دی. ریښتیا په موږ پوری مربوط دی.

یو ځل یو کمونیست لکچر ورکونکی دبی دینی په هکله لکچر ور کولو. دفابریکی ټول کارګران باید په مجلس کی ګډون کړی وای. په هغوی کی ډیر شمیر مسیحیان وو. هغوی په آرامی سره ناست وو او دخدای او په مسیح کی دایمان لرلو احماقت پرضد بحث غوږ نیولی وو. لکچر ورکونکی وغوښتل چې دا ثبوت کړی چې هیڅ روحانی نړی، خدای او هیڅ آخرت وجود نلری. انسان یوازی یوه ماده ده بدون دکوم روح. هغه دا هر واری وویل.

یو مسیحی جګ شوه او دغه ویلو اجازت ئی وغوښتو. اجازت ورکړی شو. هغه مسیحی خپله چوکی واخیستله او په ځمکه یی واچوله او بیا معتل شوه

پداسی حال که چی چوکی ته کتل. وروسته هغه دلکچر ورکونکی خواته لاړو او دهغی په مخ ئی یوه خپیره ووهلو. لکچر ورکونکی ډیر په قهر شو او دزیات قهر نه دهغی مخ سور شوه. هغه بد شیان وویل او دنورو کمونیستانو څخه وغوښتل چی هغه مسیحی ونیسی. هغی وویل: «څنگه دجرأت وکړو چی ما په خپیره ووهی؟ او په کوم علت؟»

هغه مسیحی ځواب ورکړو چی تاسو په خپله ځان درواغجن ثابت کړو. تاسو وویل چی هرشی ماده ده او نور هیڅ نه دی. ما چوکی اوخیسته او په ځمکه می واچوله. په ریښتیا چی هغه ماده ده هغه په قهر نشوه. چوکی صرف ماده ده. کله می چی تاسو په خپیره ووهلې‌تاسو لکه چوکی عکس العمل ونه ښایلو. تاسو یو بیل عکس العمل وښایلو. ماده په قهر یا لیونی کیږی نه. نو په دی اساس سره ملگری پروفیسور تاسو غلط یاست. انسان مادی نه دی. موږ روحانی اجسام یو.

پداسی طریقو به عادی مسیحیان دبی دینانو مباحثات غلط ثابتول.

په جیل کی سیاسی افسر له ما څخه وپوښتل: «ترڅو پوری به خپل دا احمقانه دین ته ادامه ورکوی؟» ما هغی ته وویل چی ما ډیر بی دینان لیدلی دی چی دمرگ په بستر کی پښیمان شوی دی چی بی خدایه وو او مسیح ته آواز ورکوی. آیا کولی شی فکر هم وکړی چی کوم مسیحی دمړینی په وخت کی پښیمان شی چی مسیحی وو او مارکس او لینین ته آواز ورکړی چی هغوی دایمان څخه خلاص کړی. هغه په خندا شروع وکړه او ویی وویل چی هوښیارانه ځواب دی. ما ادامه ورکړه کله چی یو انجنیر یو پل جوړه وی دا چی یوه پشه کولی چی په هغه باندی تیر شی دهغی پل دټینگوالی ثبوت نه ده. یو ریل باید دهغی څخه تیر شی ترڅو دهغی قوت په اثبات ورسوی. دا حقیقت چی تاسو کولی شی چی یو بی دین وسویزی کله چی هر شی سم دی دبی دینی ریښتیا نه

ثبوته وی. دا په مشکلاتو کی دریدی نشی. ما دلینین کتابونه استعمالول ترخو دوی ته په ثبوت ورسوم چی حتی پس له هغی نه چی لینین دشوروی صدراعظم شو کله چی کوم خراب شی پیښیدو هغه به دوعا کوله.

موز چپ یو او په آرامی سره کولی شو انتظار وباسو. دا کمونیستان دی چی آرام نه دی او نوی پروگرامونه دمذهب لپاره جوره وی. ولی هغوی داگستاین خبری ثابته وی: «زړه نا آرامه دی ترخو په تا کی آرام نشی».

## څنگه کولی شو حتی کمونیستان مسیح ته راوړو

په کلیسا دستاسو آزادو مسیحیانو په مرسته دکمونیستانو زړونه به مسیح ته راوړی او دنړی شکل ته به تغییر ورکړی. دا کلیسا هغوی به راوړی ځکه چی دا غیر طبیعی دی چی سری کمونیست وی. حتی سپی هم غواړی چی خپل ادوکی ولری. دکمونیسنانو زړونه دهغوی درول پرضد چی دوی باید ولری او نور خراب شیان پاحون کوی.

کله چی کمونیستان وایی چی ماده هر شی دی، موږ یو دکمیاوی موادو دیوه جملی څخه په خاص شکل سره جور شوی یو او پس دمرینی څخه به مالگه او نور معدنی مواد موږ څخه جوړ شی دا کافی دی چی دهغوی څخه پوښتنه وکړو چی څنگه کمونیستانو په ډیرو هیوادو کی خپل ځانونه ورکړی دی؟ آیا دکمیائی موادو یوه مجموعه فکرونه لری؟ آیا مواد کولی شی چی دنور دښه والی لپاره ځانونه قربان کړی؟ دی ته دوی هیڅ ځواب نه لری.

او وروسته دهغوی وحشی توب! انسان ددی لپاره نه دی پیدا شوی چی وحشی ووسیزی او نشی کولی دی کار ته زیات دوام ورکړی. موږ دا دنازیانو په سقوط کی لیدلی دی. دهغوی څخه ځینی خپل ځانونه ووژل او نورو توبه

وکړل او په خپلو جنایاتو اقرار ور کړل.

یو مثبت شی په ډیرو شراب خوړو کی په کمونیستی هیوادو کی شته. په هغه کی یوه وغوښتنه دیوه آزاد ژوند لپاره شته. داسی ژوند چی کمونیزم نشی کولی ور کړی. یو عادی روسی دخلاص او ژور زړه والا او سخی وی. کمونیزم خالی او بی حسه ده. هغه سړی دیوه ژور ژوند تلاش کوی. هغه په الکول کی خپل وحشت دداسی چل او وحشت نه ډک ژوند په نسبت چی دیی باید ولری ښایی. دځو دقیقو لپاره الکول دوی آزاده وی خو رینبتیا به هغه دتل لپاره آزاد کړی که هغه پوه شی.

په بوخارست کی دشوروی دحکومت په جریان کی یو ځل ما یوه کشش احساس کړو چی باید یوی شراب خانی ته ولاړ شم. ما دخپل سنځی ځخه وغوښتل چی ما سره لاړه شی. کله چی داخل شولو ومی لیدل چی یو روسی افسر هرځوک دتوپک سره تهدیده وی چی هغی ته شراب ور کړی شی. هغوی دا کار نه کولو ځکه چی هغی افسر ډیر نشه وو. ټول په اضطراب کی وو. زه دهغی شراب خانی مالک ته چی می پیژندلو لاړم او ورنه ومی غوښتل چی هغی افسر ته شراب ورکړی خو وعده می وکړه چی زه به هغی سره کینم او دهغی متوجه وم. یو بوتل په بل پسی هغی ته ور کولی کیدل. په میز باندی دری گیلاسونه وو چی هغی په ادب دکول اوځیښلی. ما او زما سنځی ونه چیښلو. هرځه چی دی ډیر نشه وو خو فکر ئی کار کولو. هغه الکول سره عادت وو. ما دهغی سره دمسیح په هکله خبری وکړی او هغی په ډیره توجه سره چی ما امید نه درلود ما ته غوږ ونیولو.

په آخر کی هغی وویل: «اوس چی تاسو ماته وویل چی ځوک یی زه به تاسو ته ووایم چی ځوک یم. زه دهغو اولینو ارتودوکس پیشوایانو ځخه یم چی کله

دستالین دحکومت لاندی سخت زورونی شروع شوی دخپل ایمان ځخه انکار وکړو. زه دیوه کلی نه بلی کلی ته تلم او لکچر می ورکولو چی هیڅ خدای نشته او دا چی دیو پیشوا په حیث زه هم چلباز وم «زه چلباز یم او لکه زه ټول نور خادمین چلباز دی». زه ئی ددی کار لپاره ډیر تشویق کړم او دپټو پولیسو افسر شوم. زما جزا دخدای په واسطه دا وه چی پدی لاسو مسیحیان پس له زورونو ځخه ووژنم. اوس زه ځیښم او ځیښم چی هغی شی می چی سرته رسولی دی هیر کړم. خو دا کار نه کیږی.

ډیرو کمونیستانو لکه مشهور شاعران ایسینین او مایاکوونکی ځانونه ووژل. هماسی لوی لیکوونکی دفادیو په نامه. هغه تازه خپل داستان په نامه دخوښی لیکلی وو چی پکی داسی ویلی وو«حوښی یعنی نه ستری کیدونکی کار دکمونیزم لپاره دی» خلاص کړی وو. هغه خپله دومره خوښ وو چی ددغی داستان دختم کولو ځخه ځانه ئی په توپک ووژلو. دهغی روح لپاره ددی درواغو ځغمل ډیر سخت وو. تامکین دکمونیست لوی رهبر او نور کمونیست قهرمانان دنازیانو په وخت ونه توانیدل چی دا وځغمی چی کمونیزم په واقعت کی ځه دی. هغوی هم ځانونه ووژل. کمونیستان خوښ نه دی. همداسی حتی ددوی عالی دیکتاتوران کله ستالین ځومره ناخوښه وه. پس له تقریباً دخپلو ټولو پخوانی ملګرو ځخه هغه په خپله دمړینی په خطر کی وه. هغی اته دخوب بسترونه درلودل چی لکه صیف دبانک قفل کیدل. هیڅوک نه پوهیدو چی هغه چیرته بیده ده. هغی هیڅکله ډوډی نه خوړه ترڅو چی اشپز دهغی په حضور کی هغه ډوډی نه وای خوړلی. کمونیزم هیڅوک نه خوښه وی. حتی دهغوی دیکتاتوران هم. هغوی مسیح ته ضرورت لری. دکمونیزم دله مینځه وړلو سره نه یوازی کولی شو چی دهغوی قربانیانو ته نجات ورکړو بلکه حتی خپله

کمونیستانو ته هم خلاصون ور کوو. پته کلیسا دغلام شوی خلکو ډیر ژور ضروریات بیانه وی. دهغی سره مرسته وکړی.

دپټی کلیسا یوه مشخصه ځیره دهغی صمیمیت په ایمان کی دی.

یو وزیر چی نوم ئی دبل نوم لاندی پټ شوی دی په خپل کتاب کی دخدای پټ کور په هکله دا حادثه بیانه وی. دشوروی داردو یو افسر دیو وزیر ته په هنگری کی ورغلو او ویی غوښتل چی دهغی سره یوازی ملاقات وکړی. هغه سړی درول په هکله دیوی اشغال گر په حیث ښه پوهیږو. کله چی هغه ئی دکانفرانس یوی کوچنی کوټی ته یوړو او دروازه یی بند کړله هغی خپل سر دهغی صلیب خواته چی په دیوال باندی کیږی وو ټیټ کړو. هغی وزیر ته وویل: «تاسو پوهیږی چی دا شی دروا غ دی. دا صرف دچل یوه ټوټه ده چی تاس وزیران ئی استعمالوی ترڅو غریب خلک گمره کړی او مالداره خلکو ته دا آسانه کړی چی هغوی بی خبره وساتی. اوس راشی موږ یوازی یو دا ومنی چی تاسو هیڅ وخت په ریښتیا ایمان نه دی راوړی چی عیسی دخدای زوی دی».

وزیر وخندل او وویل: « ولی ځوان سړی یقیناً زه په دی ایمان لرم دا ریښتیا ده».

هغه افسر چیغی ووهلی چی زه نپریږدم چی تاسو ما سره تکتیک ووهی زه جدی یم په ما باندی مه خاندی.

هغه خپله تپنچه وباسله او دوزیر خواته ئی ونیوله.

«که ونه منی چی دا دروا غ دی زه ډزی کوم.»

وزیر وویل: «زه نشم کولی چی دا ومنم. ځکه چی دا ریښتیا ده. زموږ خدای په ریښتیا سره دخدای زوی دی».

هغه افسر تپنچه په ځمکه واچوله او دخدای هغه سړی ئی په غیږ کی

ونیولو. دهغی په سترګو کی اوښکی ټولی شوی.

هغی چغی ووهلی چی دا ریښتیا ده. دا ریښتیا ده. زه هم دا ایمان لرم خو زه مطمئین نه وم چی خلک ددی لپاره مری ترڅو می چی ونه لیدل. مننه. تاسو زما ایمان قوی کړو. اوس زه هم کولی شم چی مسیح لپاره مړ شم. تاسو ماته وښودل چی څنګه.

ما داسی نور حالات هم لیدلی دی. کله چی روسانو رومانیه ونیولو دوه روسی عسکر په داسی حال کی چی په لاسونو کی ټوپک وو یوی کلیسا ته ننوتل. هغوی وویل: «چی موږ په دی شیان ایمان نه لرو. هغه کسان چی دا فوراً نه پریږدی وژلی کیږی». هغه چی خپل ایمان پریږدی ښی لاس ته لاړشی. ځینی ښی لاس ته شول. هغوی ته امر وشو چی کلیسا پریږدی او خپل کورونو ته ولاړ شی. هغوی دخپل ځانونو لپاره وتښتیدل. کله چی هغه روسان دمسیحیانو سره یوازی پاتی شول هغوی ئی په غیږ کی ونیول او ویی وویل: «موږ هم مسیحیان یو خو موږ غوښتل چی دهغوی کسانو سره پاتی شو چی فکر کوی چی دا ریښتیا دمړینی ارزش لری»

داسی خلک موږ په هیوادو کی دانجیل لپاره جنګیږی.

دغربی مسیحیانو په کورونو کی ساعتونه ددنیوی موسیقی اوریدلو لپاره تیریږی. زموږ په کورونو کی هم جګ موسیقی اوریدلی شی خو صرف ددی لپاره چی دانجیل او پټ کار په هکله خبری پټی کړی ترڅو ګاونډیان ئی وانوری او پټو پولیسو ته خبر ورنکړی.

څومره هغوی خوښی کوی کله چی په مشکل سره یو غربی مسیحی وینی.

هغه څوک چی دا حو خطه لیکی یو عادی سړی دی. خو زه دهغو آواز یم چی بی آوازه دی. دهغو آواز چی چپ شوی دی او هیڅ وخت په غرب کی

معرفي شوي ندي. دهغوي په نوم کی زه دمسیحیت دمشکلاتو دحل او دایمان دجدیت غوښتنه کوم.

موږ په کمونیستانو باندی بریالی کیږو. دا ځکه چی خدای زموږ سره دی.

دویم هغه کمونیستان چی دنازی حکومت په وخت په جیل کی وو په خپله ماته اقرار وکړل چی دوی په مشکلاتو کی دوعا کړله. ما حتی کمونیست افسران لیدلی دی چی دمړینی په وخت کی دهغوی په شندو باندی دمسیح نوم وو.

موږ به بریالی شو ځکه چی دخلکو ټوله کلتوری سرمایه موږ سره دی. روسان کولی شی ټول مدرن لیکنی منع کړی مگر دتولستوی او دوستویوسچی کتابونه شته او خلک دهغو څخه دمسیح روښنائی پیدا کوی. همداسی په شرقی جرمنی گویت کی، سینکویز په پولند کی او نور. درومانیه لوی لیکوونکی سادهووینو وو. کمونیستانو دهغی کتاب (درسولانو ژوند) درسولانو داستان په چاپ رسولی دی مگر حتی دداسی عنوان لاندی هم درسولانو دژوند مثالونه الهام ور کوونکی دی.

هغوی نشی کولی چی درافل، مایکلانگولو او لیناروداوینسی دهنرونو له تاریخ څخه بیل کړی. دا تصویرونه له مسیح څخه خبری کوی.

کله چی زه دکمونیستانو سره خبری کوم دهغوی دزړونو دټولونه ژور روحانی ضرورت زما همکار او مرسته کوونکی وی. دټولو نه لوی مشکل هغی ته دخپل دوجدان دآواز آرام کول وی هغه وجدان چی زما په طرف وی.

ما حتی مارکسست پروفیسوران لیدلی دی چی مخکی دخپل دبی دینی لکچر څخه دوعا کوی چی خدای ددوی سره مرسته وکړی. ما داسی کمونیستان هم لیدلی دی چی لری ځای ته دپټ مجلس لپاره تلل. کله چی دهغوی څخه پوښتنه

شوی دی هغوی درواغ ویلی دی چی په پټ کلیسا کی نه وو. وروروسته دوی ژړل چی دوی دا جرت نه درلودلو چی دهغی ایمان لپاره چی دوی مجبوره وی چی مجلس ته لاړ شی و کړی شی وریږی.

هغوی هم انسانان دی او کله کوم سړی ایمان ته رسیږی حتی که ایمان ئی ابتدایه هم وی دا ایمان وده کوی او مخته ځی. موږ مطمئین یو چی هغوی به بریالی شی ځکه چی موږ په پټه کلیسا کی دا هر ځل لیدلی دی.

مسیح دکمونیستانو سره مینه لری. موږ کولی شو او باید هغوی مسیح ته راوړو. موږ کولی شو چی یوازی دپټی کلیسا چی داوسپنی پردې شاته دی مسیح ته راوړو. هرڅوک چی غواړی چی دمسیح دزړه شوق دټول بشر دخلاصون لپاره پوره کړی باید دپټی کلیسا سره دهغی په کار کی مرسته و کړی. عیسی وویل: «ټولو هیوادو ته درس ور کړی». هغه هیڅ کله ونه ویل چی داوسپنی په پرده کی ودریږی. دخدای وفاداری او دهغی دامر ترسره کول موږ مجبوره وی چی داوسپنی پردی هغه خوا ته ولاړ شو.

موږ کولی شو هغوی ته دپټ کلیسا سره په کار کولو چی هلته کی دوخت نه موجود دی ورسیږو.

## دری گروپه پټه کلیسا جوړه وی:

## اول ایستل شوی خادمین او کشیشان دکمونیستانو لخوا

دری گروپه پټه کلیسا په کمونیستی هیوادو کی جوړه وی. اول گروپ دهغی زرهاو پخوانی کشیشانو او خادمین ځخه جوړ شوی دی چی دخپلی کلیسا څخه ایسستلی شوی دی او او دخپلی میزو څخه بیل شوی دی ځکه دوی به کمونیستانو سره موافقت نه کول. دیر پخوانی کشیشان او خادمین کالونه په

جیل کی وو او دخپل ایمان پخاطر زوریدلی دی. هغوی آزاد شوی دی او فوراً په موثره توگه خپل خدمت په پټه کلیسا کی شروع کړی دی. اگرچه کمونیستانو دهغوی کلیساوی تړلی دی او یا دهغوی په ځای بل کسان ئی مقرر کړی دی چی ډیر داعتماد وړ وی. اوس هغوی په مؤثره توگه په پټه په ښارونو، زیرخانو کی په شپه کی او داسی بل ځای کی چی ایمانداران را تولیږی کار کوی. دا سری ژوندی شهیدان دی چی خپل خدمات نه بنده وی او دزرویدلو او نیول کیدو خطرات قبوله وی.

## دویم غلی کلیسا :

دپټی کلیسا دویم برخه دښځو او سړو یوه وقف شوی اردو ده چی غلی دی. دا باندی باید یوه شو چی لږ گرم، نیمه زړه او یا په نامه دمسیحیانو په شوروی او چین کی نشته. هغه قیمت چی مسیحیان ئی ور کوی ډیر لوړ دی. بله دا چی زورونی یو داسی مسیحی چی ځانونو ته نجات ور کوی، شهادت ور کوی او ښه سړی جوړه وی. دکمونیستانو تعقیب وقف شوی او جدی مسیحیان چی په آزادو هیوادو کی کم دی جوړه وی. دا خلک نشی کولی چی یوه شی چی څنگه خلک کولی شی چی مسیحی ووسیږی په داسی حال کی چی څوک وینی او نجات نه ور کوی.

سره ستوری (دشوروی داردو مجله) داسی په مسیحیانو باندی حمله و کړه: «مسیحی عبادت کوونکی غواړی چی خپل لاسونه ئی هر چا ته ورسیږی». خو ددوی روښانه مسیحی ژوند دخپلو کلیوالو او گاوندیانو احترام او مینه ځانته را اړه وی. په هر ښار اویا کلی کی مسیحیانو سره دټولو نه زیات مینه کیږی. کله چی یوه مور بیماره ده او نشی کولی چی خپل ماشومان وساتی دا مسیحی

مور ده چی راځی ترڅو دوی وساتی. کله یو سړی دومره مریض وی چی نشی کولی ځان ته دسوزولو لپاره لرگی مات کړی دا مسیحی سړی دی چی راځی ترڅو هغی ته کار وکړی. هغوی یوه مسیحی ژوند لری او کله چی دوی دمسیح په هکله شهادت ورکوی تول خلک ورته غوږ نیسی او ایمان راوړی ځکه چی هغوی مسیح ددوی په ژوند کی لیدلی دی. ددی لپاره چی هیڅوک بدون دهغی سړی نه چی لیسانس لری نشی کولی چی په کلیسا کی وغږیږی په میلیونهاو وقف شوی او زړه ور مسیحیان په کمونیستی نړی کی په هر کنج کی ځانونه مسیح ته راوړی او په مارکیټونو، دکلیو داوبو په پمپونو کی او هر ځای ته ځی او دمسیح په هکله شهادت ورکوی. کمونیستی ورځپانی دا منی چی مسیحی قصابان دغوښی په کاغذ کی مسیحی نشریات خپره وی. کمونیستی مطبوعات دا منی چی هغه مسیحیان چی په لور مقاماتو کی کار کوی دشپی ناوخته دفتر ته راځی، ماشینونه چالانه وی او په زرهاو ورقعی مسیحی نشریات چاپ ته سپاری او مخکی دلمر ختونه هغه ځای بیرته بنده وی. کمونیستی مطبوعات دا هم منی چی مسیحی کوچنیانو په مسکو کی انجیل دکومی منبع نه ترلاسه کړی دی او دهغی ځینی برخی په لاس کاپی کوی او بیا دا لیکنی دمعلمینو په کورتیو کی ایږدی چی په مکتب کی کیږی وی.

په کمونیست کیوبا کی پخوانی مبلغینو ویلی دی چی یوه نوی پټه کلیسا په نمو په حال کی دی ځکه چی تول ریښتنی خادمین نیولی شوی او زوریدلی دی او یا دکمونیست خادمینو سره تبدیل شوی دی. دا میلیونهاو دحرارت ځخه ډک ایمانداران دی چی په ریښتیا دهغی اور پواسطه چی کمونیستان فکر کوی دوی به وسوزوی خالص جوړ شوی دی.

## دریم رسمي کشیشان او خادمین چې غلي او قید به نشي

دپټې کلیسا دریمه حیاتي برخه درسمي کلیساو دوفادار کشیشانو بدن دی خو دوی غلي یا قید کیږي نه. پټه کلیسا داسې یو شی نه دی چې بالکل درسمي کلیسا نه بیل وي. په کمونیست هیوادو کی لکه پولند، هنګري او یوګوسلاویا ډیر رسمي کشیشان دپټ کلیسا سره کار کوي. په ځینو هیوادو کی یوه همکاري ددوی ترمینځ موجوده ده. دکشیشانو ته اجازت نشته چې دخپل کلیسا نه بهر چې یو کوچنی کمره ده دمسیح په هکله خبری وکړي. دوی ته اجازت نشته چې دځوانانو او کوچنیانو مجلسونه ولري. بې ایمانان هم وېریږي چې دی مجلسونو ته ولاړ شي. دی کشیشانو ته اجازت نشته چې په خپل کور کی دمریضانو لپاره دوعا وکړي. دوی شا او خوا ته کمونیستانو یوه دیوال پخپلو محدودیتونو په واسطه جوړ کړی دی چې ددوی کلیسا بې معنی جوړه وي. ډیر ځلي دا کشیشان چې دداسې کنترول سره چې دمذهب آزادي مسخره کوي مخامخ کیږي نو په زړه ورتوب خپل آزادي دهمدارنګه یو کار په کولو په پټه کلیسا کی چې دکمونیستانو دحدودو څخه تیریږي په خطر کی اچوي. دا کشیشان دځوانانو او ماشومانو لپاره پټ خدمات مخته وړي. هغوی په پټه دمسیحیانو په کورونو او زیرخانو کی بشارت ورکوي. هغوی په پټه مسیحي نشریات لاس ته راوړي او وزو ځانونو ته یې توزیع کوي. هغوی رسمي محدودیتونه هیروي او دپټ خدماتو پواسطه دشا او خوا وږی ځانو لپاره خپل آزادي په خطر کی اچوي. هغه کسان چې رام شوي او تابع په نظر راځي په پټه خپل آزادي په خطر کی اچوي ترڅو دخدای کلام خپور کړي. ددوی په شان ډیر خلک په دی ورځو کی کشف او نیولي شوي دي. هغوی په څو کالونو لپاره بندي شول.

هغوی دپټی کلیسا دریم حیاتی برخه دی.

سابقه وزیران چی دکمونیستانو پواسطه ایسته او زورولی شوی دی او هغه رسمی کشیشان چی په ډیره پراخه توگه دهغی اندازی نه چی دوی ته اجازت ورکولی شوی دی کار مخته بوځی ټول په پټه کلیسا کی کار کوی. پټه کلیسا به ترهغه وخت پوری خپل کار ته دوام ورکړی چی کمونیزم ختم نشی. په ځینو هیوادو کی یو برخه دبلی په نسبت ډیر فعال وی خو ټول هلته دی او دمسیح لپاره په ډیرو خطراتو کی کار کوی.

یو سړی چی زیات وخت کمونیست هیوادو ته سفر کوی او دمذهبی پوښتنو سره ډیره علاقه لری بیرته راغی او ویی ویل چی هغه هیڅ پټ کلیسا نه دی لیدلی.

دا لکه چی مرکزی افریقی ته ولاړ شی دبی سواده قومونو مینځ کی او بیرته راشی اوووایی چی ما دټولو نه پوښتنه وکړه. ما ددوی څخه پوښتنه وکړه چی آیا دوی په ساده ژبه خبری کوی. دوی ټول وویل چی نه. ریښتیا دا ده چی دوی ټول بدون ددی څخه چی پوه شی په ساده ژبه خبری کوی.

داول قرن مسیحیان نه پوهیدل چی دوی مسیحیان وو. که تاسو ددوی دمذهب په هکله پوښتنه کړی وی هغوی به تاسو ته ویلی وی چی یهود، اسرائیلی، ایماندار دعیسی مسیح، وړونه، رسولان او یا دخدای زامن دی. ډیر وروسته دمسیحی نوم دنورو خلکو لخوا دوی باندی کیښودل شو. داول ځل لپاره په انطاکیه کی.

هیڅ یو دلوتر دسرو څخه نه پوهیدو چی هغه لوتیران دی. اوتر په خپله ددی نوم پرضد سخت اعتراض وکړو.

پټه کلیسا داسی یو نوم دی چی دکمونیستانو او یا غربی محققینو لخوا چی

دشرق دمذهبی حالت په هکله تحقیق کوی داسی یو پټ شرکت ته ورکړی شوی دی. داسی یو شرکت چی په یو وخت کی په ټولو کمونیستی هیوادو کی جوړ شو. دپټی کلیسا غړی ځانونه پدی نامه سره نه یاده وی. هغوی ځانونه مسیحیان، ایمانداران او دخدای زامن په نام یاده وی. خو هغوی یو پټ کار لری. هغوی په پټه لیدنی کوی او انجیل په پټ مجالسو کی خپره وی چی په هغو کی کله واری خارجیان هم ګډون کوی.

تاسو کولی شی په کالو په غرب کی سفر وکړی بدون ددی څخه چی دشوروی دجاسوسی کوم جالووینی او دا په دی معنی نه ده چی دجاسوسی جال وجود نه لری بلکه صرف دوی دومره احمق نه دی چی کنجکاور مسافرینو ته ځانونه وښایی.

زه په راتلوونکی فصل کی ځینی داسی واقعات شوروی دمطبوعاتو په هکله نقل کوم چی دزړه ور پټی کلیسا په مخ تلوونکی اهمیت او موجودیت په اثبات رسوی.

# شپږم فصل

ما تجربی دمسیح دپیغام په خپرولو کی په پټه توګه دشوروی په اردو او کمونیست رومانیه کی بیان کړی دی.

زه تاسو څخه درخواست کوم چی موږ سره مرسته وکړی چی دمسیح پیغام کمونیستانو او هغوی خلکو ته چی دهغوی پواسطه زوریدلی دی ورسو.

آیا زما دا چلنج کومه خوب دی او یا دا کار کیدای شی؟

آیا دا ریښتیا ده؟

آیا پټه کلیسای په روسیه او نورو هیوادو کی شته؟

آیا اوس هم دپټی کلیسا کار امکان لری؟

دپوښتنو ته موږ دیوی ښه خبر سره ځواب ورکوو.

کمونیستان دخپل حکومت دنیمی پیړی دتیریدولو لمنځنه کوی. خو ددوی بریالیتوب دهغوی ناکامی ده. مسیحیت بریالی دی نه کمونیزم. داولینی ورا لپاره پټه کلیسا دومره قوی شوی دی چی نیمه عام کار کوی او دا کمونیستان ویره وی. هغه معلومات چی موږ دنور منابعو نه ترلاسه کړی دی دشوروی دطبعه اطلاعات تائیده وی.

په یاد ولری چی پټه کلیسا لکه دیخ یوه شناور ټوټه ده چی برخی تراوبو لاندی وی خو عموماً یو قسمت ئی بیرون هم وی.

په بعدی صفحات کی به زه دمهمو خبرونو ځینی برخی بیان کړم.

## ددی شناور یخ دټوټې یوه نمونه

دکال ۱۹۶۲ دنومبر په ۷ تاریخ په سوهومی (کاوکاسس) پټه کلیسا یو لویه جلسه دآسمان لاندی جوړه کړه. ډیرو ایماندارانو دنورو سړارونو څخه راغلل ترڅو پدی مجلس کی ګډون وکړی. پس دکلیسا ددرخواست څخه ۴۷ ځوانان مسیحی شول او په هماغه ځای کی په تور سیند کی بپتسمه شول دمقدس کتاب دوختونو په شان.

هیڅ کوم هدایت ددی کار لپاره نه وو ورکړی شوی. پس د۵۰ کالو دکمونیست دیکتاتوری پداسی حال که چی هیڅ مقدس کتاب او نور مسیحی کتابونه نه لری او بدون دی کوم پوهنتون. دپټې کلیسا خادمین دالهیاتو په پوهنتون کی تربیه شوی نه دی. خو فیلیپ هم پوهنتون نه وه ویلی او پس د هغی څخه چی حبشی سړی چی فیلیپ سره ئی شاید یو ساعت لپاره خبری کړی وی دهغی څخه پوښتنه وکړه چی څه می مانع کیږی که زه بپتسمه شم. فیلیپ وویل: «که ته په ټول زړه ایمان لری کولی شی!» پس هغوی فوراً اوبو ته لاړل او حبشی سړی بپتسمه شوو. (اعمال رسولان ۸:۳۶ـ۳۸) په تور سیند کی کافی اوبه شته او پټه کلیسا بیرته دمقدس کتاب دوختونو کارونه ئی شروع کړی دی.

(یوچیتیلسکایا ګازیتا) دمعلمینو مجله د۲۳ اګست ۱۹۶۶په تاریخ دروستوف اوندون څخه یو خبر ورکوی. هغه بپتستان چی نه غواړی خپل جماعت دقانون په اساس راجستر کړی او دهغو رهبرانو نه چی کمونیستانو ټاکلی دی اطاعت وکړی په سرکونو کی اعتراض وکړو. دا دمی میاشتی اول تاریخ وه. هماغسی چی عیسی به معجزی کولی ترڅو دسبات په ورځ کی خپل مخالفین تحریک کړی پټه کلیسا هم دکمونیستانو جشنونه ټاکل چی کمونیستان تحریک کړی.

دمی میاشتی اول هغه ورځ ده چی کمونیستان په هغه کی مظاهری کوی او هر څوک مجبور کیږی چی په هغه کی اشتراک وکړی خو دا ځل په شوروی کی دویم لوی قدرت یعنی پټه کلیسا هم په هماغه ورځ په سرکونو باندی ووتل.

۱۵۰۰ ایمانداران راغلل. هغه شی چی دوی مجبور کړل یوازی دخدای مینه وه. هغوی پوهیدل چی خپل آزادی په خطر کی اچوی. هغوی پوهیدل چی په جیل کی وزیتوب او زورونه ددوی په انتظار کی دی.

ټول ایمانداران په شوروی کی دهغی پټی اعلامیه په هکله چی دمبلغ مسیحیانو لخوا په برمال کی چاپ شوی دی پوهیږی. په هغه کی توضیع ورکړی شوی دی چی همارا زموږ خور دکولوندا دکلی څخه چی خبر ئی واخیست چی دهغی میړه په جیل کی مړ شوی دی څه حالت لری. هغه یوه بیوه دڅلورو ماشومانو سره دی. کله چی دخپل میړه جسد ئی واخیست هغی کولی شول چی دولچک نښانی دهغی په لاس باندی ووینی. دهغی لاس او پښی سوزیدلی وو. دهغی دنس لاندی برخه دچاړو نښانی وی. دهغه یو پښه کرخت وه او په دواړو پښو باندی ئی دوهلو او ټکولو نښانی وی. ټول بدن یی دسخت وهلو او ټکولو دزخمونو څخه ډک وو.

هر ایماندار چی داعتراض لپاره روستوف اندون ته راغلی وو پوهیدو چی دا دهغی سرنوشت هم کیدی شی. بیاهم راغلل.

خو هغوی دا باندی هم پوهیدل چی هغه شهید چی صرف پس ددرو میاشتو دخپل ایمان څخه خپل ژوند ئی خدای ته ورکړو دایماندارانو دیو لوی جماعت په حضور کی دفن شو چی دا لیکنی څان سره درلودی:

«موږ لپاره ژوند مسیح دی او مړینه بریالیتوب»

«دهغوی څخه چی بدن وژنی مه ویریږی هغه کسان چی روح نه شی وژلی»

ما دقرباني میز لاندی هغه کسان ولیدل چی دخدای دکلام لپاره وژلی شوی دی.

ددی شهید مثال هغو ته چی روستوف اندون کی وو الهام ور کړو. هغوی دیو کوچنی کور شا او خوا ته په سرک چی جمع شول. خلک هر ځای کی وو لکه زکی چی په پخوا وختونو کی چی خلک پا بامو او ځینی په ونو باندی وو. ۸۰ کسان ایماندار شول چی ډیری ځوانان وو. پدی جمله کی ۲۳ کسان دکمسمول غړی (دکمونیست ځوانانو شرکت) غړی وو. ایمانداران دټول ښارو څخه تیر شول او ددون سیند خواته لاړل چیرته چی بپتسمه صورت ونیوه.

دکمونیست پولیسو څخه ډک موټر ورسیدل او ایمانداران ئی دسیند په غاړه کی محاصره کړل. هغوی غوښتل چی مسوول ورونه ونیسی (هغوی نه شو کولی چی ۱۵۰۰ ونیسی) ایمانداران فوراً په گیندو شول او دحرارت نه ډگه یوه دوعا کی دخدای څخه وغښتل چی دخپل دوستانو څخه دفاع وکړی او دوی ته اجازت ورکړی چی په هغه ورځ کی خپل مجلس ولری. وروسته ورونه او خویندی په داسی حال کی چی اوږه په اوږه ولاړ وو پدی هیله چی دمسوول ورونو دنیلو مانع شی یوه حلقه ئی جوړه کړه. حالت ډیر خراب شوو.

یوچیتلسکایا گازیتا راپور ورکوی چی دبپتستانو غیر قانونی شرکت په روستوف کی یوه پټه مطبعه لری (دبپتست کلمه په شوروی کی دبشارتی او پنتکاستی په معنی ده) او نشریات چاپ ته رسوی چی په هغه کی دځوانانو څخه غوښتلی کیږی چی دخپل ایمان پخاطر په پښو ودریږی. پدی نشریاتو کی مسیحی پلارونو او میندو ته ویلی شوی دی چی خپل ماشومان جنازو ته یوسی ترڅو دوی دکم دوام شیانو څخه ونه ویریږی. زه فکر کوم چی دا ښه کار دی. دپلارونو او میندو څخه غوښتنه کیږی چی خپل ماشومانو ته مسیحی تعلیم

ور کړی چی دبی دینی زهر پرضد چی دوی ته په مکتب ور کولی کیږی کار وکړی.

یوچیتلسکایا گازیتا ددی مقالی سره ختمه وی: ولی معلمین په هغه فامیلیو کی چی په هغه کی ماشومان (دمذهب پواسطه) احمق جوړیږی یوځای کیږی؟

دمعلمینو مجله هم دا وایی چی دپتی کلیسا دیو کارگر په محاکمه کی چی په پټه ئی بپتسمه کړی وه پیښ شوه. دا ایماندار ځوانان چی دشاهیدانو په نوم یادیږی په محکمه کی بی اعتنا او زړور وه. هغوی په قهر سره رفتار کوو. ځوانو سڼځو په تحسین دبی دینانو دجماعت څخه دوی ته کتل.

دپتی کلیسا غړی خپل ځانونه دوهلو او ټکولو او جیل په خطر کی دآزادی دغوښتنی لپاره دشوروی کمونیست حزب په مقر کی اچولی دی.

موږ یو پټ سند دپه اصطلاح غیرقانونی بشارتی کمیته دشوروی بپتستانو څخه چی دبپتستانو داتحادیه پرضد کوم چی دکمونیستانو لخوا رهبری کیږی لرو. دا اتحادیه دیو خائن پواسطه دکاریو په نامه رهبری کیږی چی دمسیحیانو دقاتلانو انسانیت ته حمد وایی او په هغه ځای کی آزادی دشوروی ژوند په ورځپانه شمیر ۲ د۱۹۶۳ کال کی په هکله ښه وایی. دا سند دپټو چینلو لخوا غرب ته قاچاق شوی دی.

په هغه کی موږ دیوی زړوری عامی مظاهری په باب په مسکو کی ویلی شوی دی.

زه ددی بیانی څخه ترجمه کوم:

فوری ارتباط —

«گرانو ورونو او خویندو برکت او آرامی دی زموږ دپلار خدای او زموږ

خدای عیسی مسیح لخوا په تاسی باندی وی.

موږ غواړو چی اطلاع درکو چی دبشارتی بپتست کلیساو استازی چی ۵۰۰ کسان وو ۱۹۶۶ دمی دمیاشتی په ۱۶ نیټه دمرکزی قوتونو دمداخلی پخاطر مسکو ته دشوروی اتحاد دکمونیست حزب دمرکزی کمیټی تعمیر مخی ته لاړل ددی غوښتنی سره چی بریژنیف ددوی سره لیدنه وکړی او ددوی عرض واوری. موږ یوه عریضه دکمونیست حزب عمومی سکرتر بریژنیف ته ورکړله».

په دی سند کی ویلی شوی دی چی دا پنځه سوه کسان ټول ورځ دهغه تعمیر په مخ کی ولاړ وو. دا اولینی عامه مظاهره په مسکو کی دکمونیست حزب پرضد وه او استازی دپټی کلیسا لخوا جوړ شوی وو. په هغی ورځ په آخر کی هغوی یوه بله عریضه بیژنیف ته ورکړله چی پکی دیو ملګری په نامه دستروګانوف څخه شکایت شوی وه چی نه ئی غوښتل ددوی پیشنهاد بیژنیف ته ورسوی او هغوی تهدید کړی دی.

ټول پینځه سوه کسان ټولهشپه دهغی تعمیر مخکی پاتی شول. موتر به دهغوی څنګ نه تیریدل ترڅو په دوی باندی کثافات او خټی واچولی او دوی ته کنځلی کولی. اګرچه باران وریدو او دهغوی سره داسی رفتار کیدو دوی تر سهاره پوری دکمونیست حزب تعمیر مخی ته پاتی شول.

بله ورځ دا پیشنهاد دپیځو سوه ورونو ته وشو چی یو تعمیر ته داخل شی چی دځینی ټیټ رتبه مامورینو سره لیدنی وکړی. خو ددی شی په پوهیدلو چی هر کله چی ایمانداران لیدنی لپاره کوم تعمیر ته لاړ شی نو عموماً وهلی کیږی ځکه هیڅ شاهد نه وی استازو دا رد کړل او خپل انتظار ته ئی دوام ورکړو ترڅو بیژنیف ددوی سره لیدنه وکړی.

پس له هغی هغه شی چی باید شوی وای وشوه.

دورځې په ۱ بجه او۴۵ دقیقو ۲۸ موټره راغلل او وحشیانه انتقام دایماندارانو څخه شروع شوو. موږ یوه حلقه جوړه کړه او پداسې حال که مو چې لاسونه سره نیولي وو دا سرود مو وویل: «زموږ په ژوند هغه ورځ دټولو څخه ښکلې ده چې وکړي په خپله صلیب واخلو». پټ پولیسو زموږ په وهلو او ټکولو شروع وکړه دځوانانو او سپین ژیرو. هغوی زموږ ورونیه دحلقې څخه وباسل او په مخ او سر باندې وهل او هغوی پر ځمکه واچول. هغوی زموږ ځینې ورورنه ئې دسر دوېښتانو په کش کولو بسونو ته یوړل. کله چې ددوی څخه ځینو دا کوښښ وکړو چې وتښتي هغوی تر هغه وخت هپوری ووهل چې بې هوش شي. وروسته ددې نه چې بسونه ئې دایماندارانو څخه ډک کړل هغوی یوې نامعلوم ځای ته یوړل. زموږ دورونو او خویندو سرودونه دپولیسو دبسونو څخه اوریدلې کیدل. ټول دا شیان د خلکو دیو جمیعت په مخکې ترسره شو.

اوس دهغې نه ښکلې کار کیږي. وروسته ددې څخه چې ۵۰۰ ایمانداران ونیولي شول او وزوریدل ورور جیونیس او یو بل ورور په نامه دهوریف (دمسیح دگلې ریښتنې چوپانان) بیا هم دا جرت درلود چې دکمونیست حزب هغې تعمیر مخې ته لاړ شي هماغسې چې دتعمید کوونکې یوحنا دنیولو څخه عیسی په هماغه ځای که او دهماغو کلمو سره چې یوحنا دهغې لپاره تکلیفونه ولیدل شروع کړو: «توبه وکې ځکه چې دخدای پادشاهي نیږدې دی».

ورور وینس او هوریف وپوښتل چې استازې چیرته دی او دهغوی آزادی غوښتنه ئې وکړه. دا دوه زرور ورونه په ډیره ساده گی سره ورک شول. وروروسته دا خبر ورسیدو چې دوی دلیفورتوفسکایا په جیل کې دی.

آیا دټې کلیسا دا مسیحیان وریدلي وو؟ نه، نور فوراً خپل آزادی ددې بیانی په چاپ کولو په خطر کې واچول چې په هغې کې ددې حادثې قیصه لیکلې

شوی دی. هغوی وایی چی «نه یوازی په هغه ایمان راوړی بلکه دهغی په لاره کی زحمت هم وباسی ځکه چی دا ټول زموږ لپاره دخدای دنقشی یوه برخه ده» (فیلیپیان ۱:۲۹) هغوی دوروڼو ستایش کوی چی دتکلیفونو څخه دلسرده نشی ځکه چی دا ټول زموږ لپاره دخدای دنقشی یوه برخه ده. (اول تسالو کیان۳:۳) هغوی دعبرانیان ۲:۱۲ څخه هم وایی چی عیسی زموږ دایمان مؤلف او ختم کوونکی څوک چی دهغی خوښی لپاره چی په مخکی درلود صلیب ئی ومنلو او په شرم باندی بریالی شو.

پټه کلیسا واضحاً دځوانانو دبد لاری کولو سره دبی دینی پواسطه په روستوف مسکو او ټول شوروی کی مخالفت کړی دی. هغوی دکمونیزم زهر پرضد او درسمی کلیساو دچالباز رهبرانو پرضد چی دهغوی په هکله په خپل یوه پټه بیانیه کی داسی لیکی جنگیږی. «زموږ په ورځو کی شیطان رهبری کوی او کلیسا هغه تصمیمونه منی چی خدای داوامر په خلاف دی». (نقل دپراودا او کراینی څلورم اکتوبر ۱۹۲۲)

پراودا واستوکا دورور الیکسی نیویروف، بوریساو اکسین زودوف محاکمه چی دلی جوړی کړی وو ترڅو دانجیل نشراتو ته دامریکی رادیو څخه غوږ ونیسی په چاپ ورسیدو. هغوی دا نشرات په کستونو کی ثبت کړل ترڅو وروسته ئی بیا استعمال کړی. هغوی پدی هم متهم شول چی دانجیل پټ مجلسونه ئی دتفریحی یا هنری مجلسونو دنومونو لاندی جوړ کړی وی. پدی ترتیب پټ کلیسا کار کوی هماغسی چی اولیه کلیسا دروم په کاتاکومب ښار کی کار کولو.

سوویتسکایا مالداویا ۱۵ سپتمبر ۱۹۲۲ هم دا شکایت کوی چی پټ کلیسا کتابونه چاپ ته رسوی. هغوی سره په عامو ځایونو کی ټولیږی اگرچه دا کار

دقانون لخوا منع دی او دیو ځای څخه بل ځای ته دمسیح دشهادت لپاره ځی.

همدا ورځپانه په یاد راوړی چی په هغه ریل کی چی درینی څخه چیسیناو ته تلو دری ځوانی هلکان او څلور ځوانی انجلی یو مسیحی سرود ویلو «راشی چی خپل ځونان مسیح ته وقف کړو» راپورتر په خپله اقرار کوی چی دا ایمانداران په هرځای کی لکه سرکو، ستیشنو، ریلونو، بسونو او حتی رسمی تعیراتو کی وعظ کوی. دا بیا پټه کلیسا په شوروی کی دکار په حال کی دی.

کله چی دا مسیحیان په محاکمه کی دمسیحی سرود ویلو په عام ځای کی محکوم شول هغوی په گیندو شول او وویل چی موږ خپل ځانونه دخدای لاسونو ته سپارو. خدای موږ له تا څخه شکر کوو چی موږ ته دی دا اجازت راکړو چی دخپل ایمان پخاطر تکلیفونه ووینو. وروسته حاضرینو چی دیو متعصب سړی لخوا رهنمائی کیدل هماغه سرود چی ورونه دهغی لپاره په جیل او تکلیفونو محکوم شوی وو دمحکمی په حضور کی وویل. دمی دمیاشتی په اول تاریخ دهغو کلیو مسیحیان چی هیڅ کلیسا نلری یوه پټه جلسه په ځنگل کی جوړه کړله، هغوی مجلسونه په دی پلمو چی دسالگره محفل دی هم جوړه وی. (دمسیحیانو فامیلونه چی ۴ یا ۵ غړی لری دپټ مجلسونو دپټولو لپاره به په یو کال کی ۳۷ مجلسونه دسالگری جوړیږی)

هیڅ جیل یا زورونی نشی کولی چی دپټی کلیسا مسیحیان وویره وی. لکه اولیه کلیسا زورونی دهغوی وقف نور هم ژور کوی.

پراودا اکوراینی ۴ اکتوبر ۱۹۶۲دورو پرو کوفیف په هکله چی په شوروی کی دپټی کلیسا یو رهبر وویل چی دری ځله هغه بندی شوی دی خو څنگه چی خلاص شی دیکشنبی پټی مکتبونو په جوړول شروع کوی. اوس هغه بیرته نیولی شوی دی. هغه په یوه پټه بیانیه کی ولیکل: «دانسان قوانینو ته په تسلیمیدو (یعنی

کمونیست قوانینو ته) رسمی کلیسا خپل دخدای دبرکاتو څخه محروم کړی دی.»

کله چی دیو روسی بندی په هکله اوری هیڅ وخت دغربی جیل فکر مه کوی وقتی درباره یک زندان روسی میشنوید هیچ وقت فکر زندان غربی را نکنید. زندان در آنجا به معنی گرسنه گی، شکنجه و شستن مغز میباشد.

ناوکا ای ریلیگیا (ساینس ومذهب) شمیر ۹سال ۱۹۶۶ راپور ورکوی چی مسیحیان دانجیل نشریات داونیوک (یو ورحپانه) دپوس په داخل کی خپوره وی. هغوی داسی کتابونه توزیع کوی چی په پوس باندی ئی تاسو دآناکارینینا عکس به ووینی (دلیوتولستوی یوه قیصه) مگر په داخل کی دانجیل یوه برخه وی. هغوی داسی سرودونه ووایی چی هغی صوت دکمونیستی سرودونو په شان وی خو دهغی کلمات مسیح ته حمد وایی.

(کزاکیستانکایا پراودا ۳۰ جون ۱۹۶۶) په یوه پټ لیک چی په کولاندا سیربیا چی په چاپ رسیدلی دی مسیحیان وایی چی دبپتست رسمی رهبران دبپتست ریښتینی کلیسا او خادمین په نړی کی خراب کړی دی. هماغسی چی پیشوایان، فریسیانو ددین استادانو عیسی ئی پایلت ته رسوا کړو.

دمسیح ناوی دهغی خدمت ته دوام ورکوی! کمونیستان په خپله دا منی چی دا ریښتیا دی کله چی زه وایم چی پټ کلیسا کمونیستان مسیح ته به راوړی. کولی شو چی ټولی مسیح ته راوړو.

باکینسکی رابوکی (دباکو کارگر ۲۷ اپریل۱۹۶۶) دتانیا سیوگونووا یو لیک (دځوان کمونیستانو دشرکت غړی) چی مسیح ته راوړی شوی وه بیرته چاپ کړو. دا لیک دکمونیستانو لخوا نیولی شوی وه.

گرانه انت نادیا، زه دخپل گران خدای څخه برکات استوم.خدای څومره ما

سره مینه لری. موږ دهغې په مقابل کې هیڅ یو. انت نادیا، زه اطمینان لرم چې تاسو دا کلماتو باندې پوهیږئ: «دخپلو دښمنانو سره مینه وکړئ او هغو سره چې تاسو ته بد وایی برکت وکړئ. هغو ته چې تاسو څخه کرکه کوی ښه وکړئ او هغو ته چې دکینې لمخې تاسو استعمال کوی دوعا وکړئ».

یو ځل دا لیک دکمونیستانو په لاس ولویدو او ورور پیتر او چې هغه او نور ډیر ځوان کمونیستان ئې مسیح ته راوړی دی بندی شو. کمونیست ورځپانې دهغې دیو بیانیه څخه نقل کوی چې موږ باید په خلاصون ورکوونکې لکه اولینی مسیحیان ایمان ولرو. زموږ لپاره اساسی قانون مقدس کتاب دی. موږ بل شی نه پیژنو. موږ باید عجله وکړو چې خلک او بلخصوص ځوانان دګناه څخه خلاص کړو. کله چې هغه وویل شول چې دشوروی قانون دمسیح په هکله خبری دځوانانو سره منع کوی هغې ځواب ورکړو چې موږ لپاره یوازنی قانون مقدس کتاب دی. یو ډیر عادی ځواب پداسې یو ملک کې چې دکمونیستانو دیکتاتوری روانه ده.

وروسته کمونیستی ورځپانه یو وحشی تصویر ئې توضیح کړو: ځوان هلکان او انجلی روحانی سرودونه وایی، هغوی دروایاتو په اساس بپتسمه کیږی، او شیطانی او غولوونکی درسونه دمینی دښمنانو سره ساتی.

باکینسکی رابوسی وایی چې دیر ځوان هلکان او انجلی چې دکمونیست ځوانانو دشرکت غړی وو په حقیقت کې مسیحیان دی. دا ورځپانه ددی کلماتو سره مقاله ختمه وی: دکمونیست مکتبونه څومره بی قدرته، ستړی کوونکی او بدون دروسنائی دی چې کشیشان کولی شی دهغې شاګردان دهغوی دبی تفاوت معلمانو دپیحی له لاندی یوسی.

کازاکیستانکایا پراودا ۳۰ جون ۱۹۲۲ ویریدلی وه کله چې کشف کړو

چې په یو مکتب کې دټولو څخه شاګرد دځو نمرو سره یو مسیحي هلک وو.

کیرغیستانکایا پراودا ۱۷ جنوري ۱۹۲۲ دیو پاڼې څخه چې دمسیحي میندو لپاره چاپ شوې وی نقل کوي. راځي چې خپل کوښښونه وکړو چې دخپل ماشومانو ژوند دهغې وخت څخه چې دوی په ځانګو کې دی خدای ته وقف کړو. راځي خپل ماشومان دنړی دتاثیراتو څخه خلاص کړو.

دا کوښښونه بریالي شوي دي. کمونیست ورځپاڼې دا ثبوت لري. مسیحیت دځوانانو په مینځ کې مخته ځي.

یوه ورځپاڼه دسیلیا بینسک دشوروی څخه توضیح ورکوي چې څنګه یوه ځوان انجلی دکمونیست ځوانانو دشرکت څخه په نامه دنینا مسیحي شو. دا کار هغه یو دمسیحیانو یو پټ جماعت ته په ننوتلو وشو.

سوویتسکایا جستیتا شمیر ۹ سال۱۹۲۲ داسې پټ مجلس تشریح کوي: «دا مجلس نیمه شپه وه. سړی چې حتی دخپلې سیوری څخه پټ دی دمختلفو ځایو څخه راغلل. ورونه یوه تیاره کوټه چې یو تیت چت ئی درلود دکه کړله. هغوی دومره زیات وو چې دګډ والو ځای نه وو. دهوا دکم والي په علت ګروپونه مړ شول. دهغوی دمخ څخه چې هلته حاضر وو خواګه وریدی. په سرکونو کې دخدای یو خادم پولیس ګوری خو نینا وایی چې پداسې یو جماعت کې هغې ته تود او توجو څخه دکه هرکلي ویلی شوی وه. هغوی داسې چې زه اوس لرم یو عالي ایمان او روسان کوونکی ایمان ئی درلودل یعنی ایمان په خدای. هغه موږ دخپل ساتنې لاندې نیسي. پریږده چې هغه خلک چې زه پیژنم زما دځنګ څخه بدون دسلام ورکولو تیر شي. پریږده چې دوی ماته وګوری او لکه داچې ما په ځپیره ووهي ما ته بېتست ووایي. پریږده چې دوی دا کار وکړي. زه دوی ته ضرورت نلرم.

ډیر ځوان کمونیستان لکه هغی دا تصمیم نیولی دی چی مسیح ته تر آخره پوری خدمت و کړی. هغه ځوابونه چی دا مسیحیان دیتی کلیسا ور کوی کله چی هغوی کمونیستانو محکموته راوړی دخدای لخوا الهام لیدلی دی. یو قاضی وایی: «ولی تاسو خلک دکلیسا ممنوعه برخی ته جلب کوی؟» یوی خور ځواب ور کړه: «زموږ مقصد دا دی چی ټول نړی مسیح ته راوړو».

دیوی بلی محکمی قاضی یو شاگرده انجلی ئی سرزنش کړه او وئی ویل: «ستاسو مذهب دساینس ضد دی.» هغه انجلی ځواب ور کړو چی آیا تاسو دنیوتان او اینستاین څخه ډیر په ساینس پوهیږی. هغوی ایمانداران وو. زموږ نړی داینستاین نوم په ځان لری. موږ په مکتب کی زده کړی دی چی دا نړی اینستاینین نړی دی. اینستاین لیکی: «که موږ دا جودایزم دپیغمبران او دهغی مسیحیت څخه چی عیسی موږ ته ښودلی دی هغه شی چی وروسته مینځ ته راغی بلخصوص پیشوائی سیستم پاک کړو موږ داسی یو مذهب لرو چی کولی شی نړی دټولو شیطانی کارونو څخه خلاص کړی. دا دهر سړی مقدسه وظیفه ده چی خپل ډیر ښه کوښښونه و کړی ترڅو دا مذهب بریالی کړی». زموږ عالی روانشناس پاولوف په یاد راوړی. آیا زموږ خپله کتابونه نه وایی چی هغه مسیحی وو. حتی مارکس په خپله (دداس کاپیتل) کتاب په مقدمه کی وویل چی مسیحیت خاصتاً په پرتستان شکل کی ډیر مناسبت مذهب دی چی یو شحصیت چی دگناه په واسطه خراب شوی وی بیرته جوړ کړی. ما یو داسی شخصیت درلود چی دگناه پواسطه خراب شوی وه. مارکس ما ته وښودل چی دهغی دبیا جوړولو لپاره مسیحی شم. څنگه تاسی مارکسستان کولی شی ما ددی کار لپاره محکوم کړی؟

ددی په پوهیدو چی ولی قاضی چپ پاتی شو آسان دی.

دغی ملامتی ته چی دساینس ضد یو مذهب لری یو بل مسیحی په محکمه کی وویل چی زه اطمینان لرم چی تاسو عزتمند قاضی لکه لوی ساینسدان سیمپسن نه یی چا چی کلوروفورم او نور دواگانی کشفی کړی. کله چی دهغی نه پوښتنه وشوه چی کوم شی خپل دتهولو نه لوی کشف بولی هغی ځواب ور کړو:

«دا کلوروفورم نه دی. زما دتهولو نه لوی کشف دا وو چی پوه شوم چی یو گناهکار وم او دخدای دفیض پواسطه نجات می پیدا کړو.

هغه ژوند، قربانی او وینه چی دوی تیار دی دخپل ایمان لپاره تل کړی دتهولو ځخه عالی دلیل دی دهغی مسیحیت لپاره چی پټه کلیسا ئی مخته کوی. دا کلیسا داسی یو شی جوړه وی چی یو یو په افریقا کی په نامه دالبرت هغه ئی دهغو کسانو جماعت نومولی دی چی په ځان باندی ددردونو نسی لری. یو داسی جماعت چی عیسی دغمونو سړی په هغی پری مربوط دی. پټه کلیسا دمینی یو بند سره دخپل نجات ور کوونکی سره تړی دی. همدغه بند دکلیسا غړی هم یو بل سره متحد کوی. هیڅوک په نړی کی نشی کولی چی دوی ته شکست ور کړی.

په یوه لیک کی چی په پټه بهر قاچاق شوی دی پټه کلیسا وایی چی موږ دوعاگانی کوو چی ښه مسیحیان شو بلکه دوعا کوو چی یوازنی مسیحیان دخدای خواست په مطابق ووسیږو، مسیحیان لکه عیسی. دا داسی مسیحیان دی چی خپل صلیب دخدای دجلال لپاره په خپل رضایت سره اخلی.

دمار په هوښیاری سره دعیسی ددرسونو مطابق مسیحیان هروخت دپوښتنی په وخت او یا محکمه کی دخپلو درهبرانو دنومونو دویلو ځخه انکار کوی.

پراودا واستوکا (دشرق حقیقت) وایی چی کله چی دماریاسیوسیک ځخه

پوښتنه وشوه چې چا هغې مسیح ته راوړو هغې ځواب ور کړو: «خدای زه خپل جماعت ته جلب کړم.» دبل ځخه پوښتنه وشوه چې ستاسو رهبر څوک دی؟ ځواب راغی: «موږ هیح انسانی رهبر نه لرو». دمسیحی ماشومانو ځخه پوښتنه وشوی: «چا تاسو ته وویل چې خپل دپیش آهنگانو نیکتائی وباسی؟» هغوی ځواب ور کړو: «موز دا کار په خپل غوښتنه کړی ده او هیڅ چا موږ ته نه دی ویلی».

مگر بیا هم په ځینو ځایونو کی ددیخ ټوټه خپل ځان سایی. په نورو ځایونو کی مسیحیان خپل ځانونه بپتسمه کوی ترڅو دخپل رهبران دنیولو مخه ونیسی. په ځینو ځایونو کی بپتسمه په سیندونو کی صورت نیسی په داسی حال که چی بپتسمه کیدوونکی او بپستمه کوونکی دواره ماسک اغوندی او پدی ترتیب څوک دهغوی عکسونه نشی اخیستی.

یوچیتیلسکایا گازیتا دبی دینانو دیو لکچر په هکله دورونین په کلی کی خبری کوی. ځنگه چی لکچر خلاص شو ایماندارانو په واضح توگه دپوښتنو پواسطه په بی دینانو باندی حملی وکړی. داسی پوښتنی چی لکچرر نشو کولی ځواب ور کړی. هغوی وپوښتل چی تاسو اخلاقی اصول چی وایی ولی په هغی باندی عمل نه کوی لکه غلا مه کوی او قتل مه کوی دکوم ځای ځخه اغلی؟ مسیحیانو لکچر ور کوونکی ته وسایل چی ټول هغه اصولونه په هغه کتاب ځخه چی دوی دهغی پرضد جنگیزی یعنی دمقدس کتاب ځخه راغلی دی. لکچر ور کوونکی بالکل گیچ شوی وو او لکچر دمسیحان لپاره بریالیتوب سره ختم شو!

## دپټی کلیسا زورونې دیریږي

دپټی کلیسا مسیحیان دهر وخت څخه ډیر تکلیف وباسي. خلک دټولو مذهبونو څخه تکلیفونه وباسي. دا دمسیحیانو زړه ماته وي چې دیو زوریدلي یهودي په هکله په یو کمونیستي ملک کې پوه شي. خو اصلي هدف ددې زورونې پټه کلیسا ده. دشوروي مطبوعات دسته جمعي نیولو او محاکمو راپور ورکوي. په یو ځای کې ۸۰ مسیحیان دلیونیانو په روغتون کې واچولې شول. دهغوی څخه ۲۴ کسه پس له څو ورځو داوږدې دوعا په علت مړه شول. آیا داوږدې دوعا په علت څوک مړې؟ آیا کولې شی تصور وکړې چې په هغوی باندې څه تیر شوي دي؟

دټولو څخه سخت شی چې په هغوی باندې تحمیل کیږي دا دي چې که کمونیستان پوه شي چې دوی خپلو ماشومانو ته دمسیح په هکله درس ورکوي ماشومان په دتل لپاره له دوی څخه بیل کړای شي بدون ددې څخه چې دهغو دماشومانو دلیدلو حق ورکړی شي.

شوروي اتحاد دملل متحد هغه بیانیه چې دتعلیمي تبعیض په هکله تأکید کوي چې والدین باید دا حق ولري چې خپل ماشومان ته دخپل غوښتنې سره سم اخلاقي او مذهبي تعلیم ورکړي امضا کړي دي. خائن کاریف دشوروي دبپتست اتحادیي رهبر ددې موضوع په هکله دپاس ذکر شو اطمینان ورکړو چې دا په شوروي کې حقیقت لري او دا ساده خلک هم په هغه باور کوي. اوس واوري چې دشوروي مطبوعات څه وایي.

سویتسکایا (شوروي) ۴جون ۱۹۶۳ لیکي چې ځنګه یو بپتست ښځه دخپل شپږو ښځو څخه بیل کړی شوه ځکه چې هغې به دوی ته مسیحي ایمان ورکولو او دهغوی دپیش آهنګانو دنیکتائي داغښتلو څخه منع کولو.

کله چی هغی دا حکم واوریدو صرف ویی ویل: «زه دخپل ایمان پخاطر تکلیف اوباسم». هغی باید دخپلو ماشومانو داوسیدو مصارف ورکړی وی. هغوی ته اوس دبی دینی زهر ورکولی کیږی. مسیحی میندی ددی سنځی دحالت په هکله فکر کوی.

یوچیتیلسکایاگازیتا موږ ته وایی چی همدا شی په ایگناتی مولین او دهغی په سنځه هم تیر شول. قاضی دهغوی ځخه وغوښتل چی خپل ایمان پریږدی. قاضی وویل: «دخدای او خپل لور ځخه یو انتخاب کړه. آیا خدای انتخاب کوی؟» پلار ځواب ورکړو چی زه خپل ایمان نه پریږدم.

پولس وایی چی هر شی په ښه والی خلاصیږی. ما داسی ماشومان لیدلی دی چی دخپلی مور او پلار ځخه بیل کړی شوی دی، لوی شوی دی او په کمونیستی مکتبونو کی داخل شوی دی مگر ددی په ځای چی په بی دینی زهراگین شی خپل ایمان ئی چی په کور کی زده کړی وو نور ماشومانو ته خپور کړی دی.

مقدس کتاب وایی چی هر هغه ځوک چی خپل ماشومانو سره دعیسی نه ډیر مینه کوی دهغی ارزښت نه لری. دا کلمات داوسپنی پردی شاته معنی لری.

دیوی هفتی لپاره دخپلو ماشومانو ځخه لری ژوند کول وگوری وروسته به تاسی دخپلو روسی ورورنو تکلیفونه درک کړی.

دا به درست نه وی چی صرف دپرتستان کلیسا په هکله خبری وکړو.

په شوروی کی ارتودو کس مسیحیان بالکل بدل شوی دی. په میلیونهاو کسان دجیل ځخه تیر شوی دی. هلته دوی شمع، صلیب، خوشبو، تسبیح او مقدس تصاویر نه لرل. هغوی رسمی کشیشان نه لرل. ددوی کشیشانو دیو کشیش کالی نه درلودل او نه غنمو ډوډی او یا شراب وو چی دهغی سره ځوک

وقف کړی او نه مقدس غواړی او ددوعا تیلر شوی کتابونه وو. خو هغوی دا ومونډل چی بدون ددی شیانو هم هغوی په مستقیم تللو دخدای حضور ته دوام ور کولی شی. هغوی په دوعا شروع کړه او خدای په هغوی باندی دخپل روح په تلولو شروع وکړو. یو اصلی روحانی بیداری دشوروی ارتودوکسانو په مینځ کی پیدا شوی دی لکه دمسیحیت اولو وختونو په شان. دا کار په نورو کمونیستی هیوادو کی هم کیږی. پته کلیسا په حقیقت کی بشارتی، بنیادی او خدای ته دی نیږدی دی چی یوازی دعادت پخاطر ډیر لږ ارتودوکس مراسم ئی ساتلی دی. دا پټه ارتودوکس کلیسا هم لوی شهیدان ور کړی دی. اوس سپینگیری سراسقف یرموگین چیرته دی؟ هغه جرت وکړو چی دچال نه ډک همکاری دکمونیست حکومت او رئیسانو پرضد اعتراض وکړی.

۵۰ کاله دکمونیست حکومت! خو دشوروی مطبوعات دپټی کلیسا دبریالیتوب څخه ډک دی. دا کلیسا ډیرو سختیو څخه تیریږی خو وفادار پاتی شوی دی او مخته ځی.

موږ په رومانیه کی دشوروی په اردو کی خپل دپټ کار تخم پاشلی دی. همداسی په شوروی او نورو هیوادو کی هم چی شوروی پر هغوی باندی تجاوز کړی دی. دی تخم میوه ور کړی دی.

موږ کولی شو چی کمونیست نړی مسیح ته راوړو. کمونیستان مسیحی کیدی شی نه یوازی صرف دوی بلکه ددوی زوریدلی خلک هم که موږ ددوی سره مرسته وکړو.

ددی ثبوت چی زه درست وایم دا دی چی پټ کلیسا په شوروی، چین او نورو کمونیستی هیوادو کی نور هم قوی کیږی.

موږ دمسیحی ورونو دښکلا دسایلو لپاره دمشکلاتو لاندی زه څو لیکونه

نقل کوم. اخرینی لیکونه دشورروی دجیل ځخه.

## ځنگه واریا یوه کمونیست انجلی مسیح پیدا کوی، شهادت ورکوی او غلام کارگره جوریږی

دری اولنی لیکونه دماریا یوه مسیحی انجلی ځخه دی چی واریا ئی مسیح ته راوړه.

اولینی لیک :

... زه خپل ژوند ته دلته دوام ورکوم. ما سره ډیره مینه کیږی. ما سره دکمسمول یو غړی (دځوان کمونیستانو شرکت) ډیره مینه کوی. هغه ما ته وویل: «زه نشم کولی پوه شم چی تاسو ځنگه انسان یی. ډیر خلک تاسو ته بد وایی او تاسو ته نقص رسوی خو بیاهم تاسو ټولو سره مینه کوی». ما ځواب ورکړو چی خدای موږ ته ښایلی دی چی ټولو سره مینه وکړو نه یوازی دخپلو ملگرو سره بلکه دخپلو دښمنانو سره هم. ددی ځخه مخکی دا انجلی به ما ته ډیر نقص رسولو. مگر ما به ورته په خاصه پاملرنه دوعا کوله. کله چی هغی ما ځخه وپوښتل چی آیا کولی شم هغی سره هم مینه وکړم ما هغه په غیز کی ونیوه او موږ دواړو وژړل. اوس موږ یوځای سره دوعا کوو.

لطفاً دهغی لپاره دوعا وکړی. دهغی نوم واریا دی.

کله چی هغو ته چی په لوړ آواز خدای رد کوی وگوری داسی معلومیږی چی هغوی جدی دی خو ددوی ژوند ښایی اگرچه دوی خدای ته دخپلو شونډو سره بد وایی دهغوی په زړونو کی یو عالی شوق لری او تاسو دهغوی دزړه غږ اوریدلی شی. دا خلک چیشی لټوی او دا هیله لری چی دخپل دننه خالی ځای دبی خدائی سره پوښ کړی.

په مسیح کی ستاسو خور

ماریا

دویم لیک :

په پخوانی لیک کی ما دیو بی دینه انجلی په هکله لیکلی وو. عزیزانو اوس غواړم تاسو ته دهغی لوی خوښی په هکله چی زه ئی لرم خبر درکړم. واریا مسیح دخپل شخصی نجات ور کوونکی په حیث سره ومنلو او هرچا ته دخپل ایمان په هکله په شهادت ور کولو شروع کړی دی.

کله چی هغی په مسیح ایمان راوړو او خلاصون خوښی باندی پوه شوه په هماغه وخت کی ډیر خپه هم وه. هغه خوښه نه وه ځکه چی ددی څخه مخکی هغی دا پروپاگندا کوله چی هیڅ خدای وجود نلری. اوس هغی تصمیم نیولی دی چی دخپل گناه تلافی وکړی.

زه دواریا سره دبی دینانو جماعت ته لاړم. اگرچه ما هغی ته وویل چی چپ وی مگر بی فایدی وه. واریا ولاړه او زه هم ورسره ولاړم چی وگورم څه پیښیږی. وروسته دمعمول کمونیستی سرود چی پکی واریا گډون ونه کړو هغی وغوښتل چی خبری وکړی کله چی وار ئی ورسیدو هغه ډول جماعت په مخکی ودریده. هغی په زرورتوب او ډیرو احساستو سره هغی جماعت ته دمسیح نجات ور کوونکی په باره کی شهادت ورکړو او نورو ملگرو ته ئی وویل چی تر اوسه دهغی روحانی ستر گی بندی وی. هغه نه پوهیده چی په خپله دمرینی خواته ځی او نور هم هغی خواته وړی. هغه دډولو څخه وغوښتل چی گناه پریږدی او مسیح پیدا کړی.

ډول چپ وو او هیڅ چا دهغی خبری ئی قطع نکړی. کله چی هغی خپل خبری ختمی کړی په خپل ښکلی آواز کی ئی ډول دا مسیحی سرود ئی وویلو: «زه شرم نلرم دمسیح په هکله چی مړ شو خبری وکړم او دهغی دامرونو او دصلیب دقوت څخه دفاع وکړم».

وروسته هغوی واریا ئی یوره.

نن دمی میاشتی نهم نیته ده. موږ دهغی په هکله په هیڅ څه نه پوهیږو. مگر خدای قوی دی چی دهغی څخه حفاظت وکړی.

ستاسو ماریا

دریم لیک ؛

پرون داگست دویم نیټه ما دگرانی واریا سره په جیل کی لیدنه درلوده. کله چی دهغی په هکله فکر کوم زړه نه می وینی راځی. په حقیقت کی هغه تراوسه پوری ماشوم دی. هغه صرف ۱۹ کلن دی. دیو ایماندار په حیث هم هغه په خدای کی روحانی ماشوم دی خو هغه سره په ټول زړه مینه کوی او یو ځلی په سخته لاره روانه شوه. دا انجلی بی چاره ډیره وږی دی. کله چی موږ پوه شو چی هغه په جیل کی دی موږ هغی ته دپارسلونو په استولو شروع وکړه. خو صرف یوه کمه برخه دهغی شیانو ورته رسیدلی دی.

کله چی پرون ما ورسره ولیدل هغه ډنگره، رنگ ئی الوتی او وهلی شوی وه. یوازی دهغی سترگی دخدای دآرامش سره روښانه وه دیو آسمانی آرامش سره.

او عزیزانو، هغوی چی هیڅ آرامش ئی په مسیح کی نه دی تجربه کړی پدی نشی کولی چی پوه شی... خو هغوی چی دا آرامش لری څومره خوښ دی. موږ ته چی په مسیح کی یو هیڅ تکلیف نشی کولی چی مانع شی.

ما داوسپنی دمیلو ترشا دهغی نه پوښتنه وکړه چی واریا آیا ته دهغی شی لپاره چی دا ترسره کړو خپه نه یی. هغه وویل چی نه او که دوی ما خلاص کړی زه به بیا لاره شم او دمسیح دمینی په هکله شهادت ورکړم. داسی فکر مه کوی چی زه تکلیف وباسم. زه ډیره خوښ یم چی خدای ما سره ډیر مینه لری او ما ته خوښی

راکوی چی دهغی په نوم تکلیفونه وباسم.

زه عذر کوم چی تاسو په ټول زړه هغی لپاره دوعا وکړی. شاید هغه سایبریا ته یوسی. هغوی دهغی څخه کالی او نور شیان ئی اغوښتی دی. هغه بدون دی هغو کالیو چی اخیستی دی نور هیڅ بل شی نلری. هغه هیڅ دوستان هم نلری او موږ باید دهغی لپاره ضروری سامان تیار کړو. ما هغه پیسی چی تاسو راته پخوا استولی وی یو خواته کړی چی که واریا وړی نو زه به هغه واریا ته ورکړم. زه ایمان لرم چی خدای به هغی ته قوت وبخښی چی په راتلوونکی کی هم دتکلیفونو تحمل وکړی شی. خدای دی هغه وساتی.

ستاسو ماریا

څلورم لیک :

«گرانه ماریا، آخر زه کولی شم چی تاسو ته خط ولیکم. موږ به ښه سره ... ته ورسیدو. زموږ کمپ دښار څخه ۱۰ میله لری دی. زه نشم کولی موږ ژوند تعریف کړم. تاسو پوهیږی. زه غواړم چی خپل ځان په هکله لږ خبری وکړم. دخدای شکر چی ماته ښه صحت راکړی دی از زه کولی شم چی کار وکړم. زه او خور (...) په ورکشاپ کی کار کوو. موږ هلته په ماشینونو باندی کار کوو. کار سخت دی او دخور (..) صحت هم ښه نه دی. زه باید ځان او هغی لپاره کار وکړم. زه اول خپل کار کوم او وروسته دخور سره مرسته کوم. موږ ددولسو څخه تر دیارلسو ساعتونو پوری هره ورځ کار کوو. موږ ډوډی ډیر کم دی خو یوازی دا نه دی چی زه غواړم تاسو ته ولیکم.

زما زړه خدای ته شکر او حمد وایی چی هغی ماته دستاسو له لاری نجات وښایلو. اوس په دی ژوند کی زه یو مقصد لرم او زه پوهیږم چی چیرته ځم او

دچا لپاره تکلیفونه وباسم. زه دا احساسه وم چې هر چا ته دنجات هغې خوښې په باره کې چې زما په زړه کې شته ووایم او شهادت ورکړم. څوک کولی شي چې موږ دخدای دمینې څخه په مسیح کې بیل کړي؟ هیڅ څوک او هیڅ شی، نه جیل نه تکلیفونه. هغه تکلیفونه چې خدای په موږ راوړي صرف موږ ته نور هم په هغه کې قوت راکوي. زما زړه دومره ډک چې دخدای فیض ورنه تلیږي. په کار کې دوی ماته بد وایي او ددې پخاطر چې زه پټه خوله پاتې کیږم نه ماته اضافي کار هم راکوي خو باید هر چا ووایو چې خدای څه لوی کار زموږ لپاره کړی دی. هغې زه چې په خراب لاره باندې روانه وم یو نوی ژوند راکړو. آیا زه کولی شم چې پس ددې پولو شیانو ته آرامه شم؟ نه هیڅ وخت نشم کولی. تر هغه وخته پورې چې زما شوندې خبرې کولی شي زه به هر چا ته دخدای عالي مینې په هکله شهادت ورکوم.

په لاره کې دکمپ خواته موږ ډیر وروښه او خوبندې په مسیح کې ولیدلې. څومره عجیب دی چې په اولینی نظر کې هغوی ته دروح القدس پواسطه کولی شي پوه شي چې دوی دخدای زامن دي. په اول لیدنه کې تاسو دا احساسه وی او پوهیږي چې دوی څوک دي.

کله چې موږ دکمپ خواته تلو په ریل ستیشن کې یوه ښځه راغله او موږ ته ئې ډوډې راورله او صرف دوه کلمې وویل: «خدای ژوندی دی».

اول شپه چې موږ دلته ورسیدو ناوخته وو او موږ ئې پټ بارکونو ته یورو. موږ هغوی ته چې هلته حاضر وو ددې کلماتو سره سلام ورکړلو: «آرامش با شما» زموږ دخوښې لپاره دهر کج نه مو دا ځواب واوریدلو چې: «موږ په آرامش سره ستاسي هر کلي کوو» او دهماغې اول شپې څخه موږ احساس کړله چې په یو فامیل کې وو.

دا په ریښتیا داسی وو. موږ چی په مسیح باندی دخپل شخصی نجات ور کوونکی په حیث ایمان لرو ډیر یو. دنیمو څخه دیر بندیان ایمانداران دی. موږ په خپل مینځ کی لوی سندرغاړی او واعظان لرو. دشپی کله چی وروسته دی درانه کار څخه ټولیږو څومره ښکلی دی چی څو دقیقی دخپل نجات ور کوونکی په پښو کی په دوعا تیر کړو. دمسیح سره هر ځای کی آزادی شته. ما دلته یوه ښکلی سرود زده کړی دی او هره ورځ خدای دخپل کلام څخه ما ته نور هم راکوی. په ۱۹ کلنی کی ما دلمړی ځل لپاره دمسیح دزیږیدو جشن ونیولو. زه هیڅ وخت دا ښکلی ورځ به هیره‌نکړم. موږ باید ټول‌ورځ کار وکړو خو بیاهم ځینی ورونږو وکړی شول چی نیږدی سیند ته ولاړ شی. هغوی یخ مات کړل او ځایونه نه ئی جوړ کړل او دشپی زه دخدای دکلام په مطابق ددوو نورو ورونږو سره بپتسمه شوم. زه څومره خوښ یم او څومره غواړم چی کاشکی تاسو هم دلته ما سره وای ترڅو چی حداقل لږڅه دخپلو خرابو کارونو لپاره می چی پخوا تاسو ته کړی دی دخپل مینی پواسطه تلافی کړم خو خدای زموږ څخه هر یو په خپل ځای کی پریږدی او باید موږ هر یو هغه ځای کی چی خدای موږ ته ښائی تینګ پاتی شو.

دخدای دماشومانو ټولو فامیلونو ته سلام ووایی. خدای به په فراوانی سره ستاسو مشترک کار ته برکت ورکړی هماغسی چی ما ته ئی برکت راکړو. عبرانیان ۱۲:۱ـ۳ ولولی.

ټول ورورنه سلامونه وایی او خوښ دی چی ستاسی ایمان په خدای دومره قوی دی او داچی تاسو په خپلو تکلیفونو کی بی پایان دهغی نوم ته حمد وایی. که نورو ته مو ولیکل زموږ سلامونه هغوی ته ووایی.

ستاسو واریا

پنحم لیک

گرانه ماریا، بلاخره ما دا موقع پیدا کړه چی ځو کلمی تاسو ته ولیکم. گرانی زه کولی شم چی تاسو ته ووایم چی دخدای په فیض زه او خور (...) جوړ یو. موز اوس... کی یو. هغوی به موږ... لیږی چی هلته به پاتی شو. زه ستاسو څخه ستاسو دمورنی توجه لپاره مننه کوم. موږ هغه شیان چی تاسی موږ ته تیار کړی وو ترلاسه کړل. زه دستاسو څخه دټولو نه گران شی لپاره یعنی مقدس کتاب لپاره مننه کوم. کله چی نورو ته لیکی زما سلامونه او مننی دهغی شی لپاره چی ماته کړی دی ورسوی. ددی لپاره چی دخدای ماته خپل ژور او مقدس مینه ښکاره کړو زه خپل ځان په نړی کی دټولو نه خوښ بولم. هغه زورونی چی زه باید تحمل کړم هغی خاص فیض بولم. زه خوښ یم چی خدای زما دژوند په اولینی ورځو کی دا موقع راکړی دی چی دخپل ایمان لپاره تکلیف وباسم. تاسی ټول ما ته دوعا وکړی چی زه په همدی ترتیب سره خدای ته وفادار پاتی شم. خدای دی تاسی یو ځای وساتی او ماته پدی مقدس جنگ کی قوت وبخښی. زه او خور (...) تاسی ټول ښکلوو. کله موږ ئی ... ته واستولو شاید دا موقع پیدا کړو چی تاسو ته ولیکو. زموږ په هکله فکر مکوی. موږ خوښ یو ځکه چی موږ جایزه په آسمان کی عالی دی (متی٥:١١ـ١٢).

ستاسو واریا

دا دځوانی کمونیست انجلی واریا آخری لیک وه چی مسیح ئی پیدا کړو، شهادت ئی ورکړو او په کار لکه یو غلام محکوم شو. دهغی نه مو نور هیڅ وانوریدل خو دهغی ښکلی مینه او شهادت مسیح لپاره، دېټی، وفادار او په تکلیفونو کی دکلیسا روحانی سنکلا ددریم نړی په یو ملک کی دکمونیزم لاندی سابی.

# ۱۱ووم فصل

زما پیغام تاسوته دپټې کلیسا لخوا

ما دپټې کلیسا دآواز په نامه یاده وی. زه نه احساسه وم چې دا ارزش لرم چې دمسیح دبدن دداسې عزتمند برخې آواز ووسیږم.

اگرچه په کمونیستې هیوادو کې مې په کالو یوه برخه ددې پټې کلیسا رهبرې کړې دی. په یوه معجزه کې زه د۱۴ کالو زورونو او جیل په شمول ددوو کالو دجیل «دمړینې کمره» کې ژوندې پاتې شوم. په عالیتر معجزه کې خدای داسې مناسب وګڼلو چې جیل ته راشې ما دهغې ځایه وباسې او غرب ته مې یوسې ترڅو دآزادې کلیسا سره خبرې وکړم.

زه دهغې ورونړو له خوا خبرې کوم چې په بیشمار قبرونو کې بیده دی. دهغو ورورنړو لخوا چې اوس په ځنګلونو، زیرخانو او نورو داسې ځایونو کې په پټه لیدنې کوې.

دا تصمیم دپټې کلیسا پواسطه په رومانیه کې ونیولې شو چې زه باید ملک خوشې کړم او دا پیغام دنړې آزاد مسیحیانو ته ورسوم. په یوه معجزه کې ما کولې شول چې بهر راشم او هغه کار چې دوی په پټه کلیسا داوسپنې پردې شاته په کمونیستې هیوادو کې په رنج، خطر او مړینې کې ما ته سپارلې وو سرته ورسم.

هغه پیغام چې زه دپټې کلیسا نه راوړم دا دی:

«موږ مه پریږدی!»

«موږ مه هیره وی.!»

«زموږ نومونه مه پاکوی!»

«هغه آلات چی ضرورت ورته لرو موږ ته راکړی! موږ دهغی داستعمال بیه به ور کړو».

دا هغه پیغام دی چی ماته وظیفه راکړی شوی دی ترڅو تاسو ته ورسوم. زه دغلی کلیسا لخوا خبری کوم.

پټه کلیسا یوه گنگه کلیسا ده چی هیڅ آواز نلری.

زموږ دخوندو او رورنو غږ دکمونیست هیوادو نه واوری. هغوی آرامی، دخطر نه ډاوتل یا تختیدل نه غواړی. هغوی آزادی غواړی چی دهغی سره دخپل ځوانانو او دراتلوونکی نسل دزهراگین کولو پرضد دبی دینی سره وجنگیږی. هغوی مقدس کتاب ته دخدای دکلام خپورولو لپاره ضرورت لری. ځنګه کولی شی چی دخدای کلام خپور کړی پداسی حال کی چی مقدس کتاب نلری؟

پټه کلیسای لکه یو جراح ده چی په یو ریل کی سفر کولو. دا ریل دیو بل ریل سره ټکر شو او لسهاوو کسان زخمی او دمړینی په حال کی په ځمکه باندی پراته وو. دا جراح دهغوی په مینځ کی چی دمرگ په حال کی وه گرځیدو او چغی والی: «که خپل سامان می ځان سره لرلی وای، که خپل سامان ځان سره لرلی وای» ددی سامان سره هغه جراح کولی شول چی ډیر خلکو ته نجات ور کړی. هغه غوښتل چی دا کار وکړی خو سامان ئی نه درلود. دا حالت دپټی کلیسا هم دی. پټه کلیسا غواړی چی ټول شیان ور کړی. دا کلیسا دیر غواړی چی شهید ور کړی. ډیر غواړی چی دکمونیستانو په جیل کی دکالونو تیرولو سره ځانونه په خطر کی واچوی. خو ټولی دا غوښتنی بی فایده دی که چیری دکار سامان نلرو. دپټی، زړه وری او وفاداری کلیسا عذر تاسو آزادو مسیحیانو ته دا دی چی

موږ ته سامان راکړی. اناجیل، مقدس کتابونه او مرستی وکړی نور کار به موږ وکړو.

## څنګه آزاد مسیحیان کولی شی مرستی وکړی :

هر آزاد مسیحی دفعتاً کولی شی په دی طریقو موږ سره مرستی وکړی:

بی دینان هغه کسان دی چی دخپل هغه منابع چی دلیدلو وړ نه دی نه منی. مسیحیان کولی شی خپل ګرځیدو نه دروښنائی سره بلکه دایمان، دیو روحانی ژوند دلرلو او دخدای سره همراهی چی نه لیدلی کیږی مرستی وکړی.

هغوی کولی شی دداسی یو دقربانی او دخدای دغوښتنی سره سم یو ژوند دمخته بولو سره مرسته وکړی. هغوی کولی شی چی موږ سره دخپلو مظاهراتو سره کله چی کوم مسیحی زوریږی مرسته وکړی.

غربی مسیحیان کولی شی چی موږ سره دخپلو دوعاګانو له لاری چی کمونیستان خلاصون پیدا کړی مرسته وکړی. داسی دوعاګانی شاید بی فایده معلوم شی. موږ به کمونیستانو ته دوعا کولی خو راتلوونکی ورځ به هغوی موږ ډیر وهلو. مګر داورشلیم دخدای دوعا هم بی فایده په نظر اتلو. وروسته ددی دوعا څخه هغه ئی مصلوب کړلو خو څو ورځی بعد هغوی په خپلو سینو باندی وهل او پنځه زره کسانو په یوه ورځ کی ایمان راوړو. دنورو لپاره هم دوعا بی فایده نه وه. کومه دوعا چی تاسو دبل سری لپاره کړی ده دهغی لطرفه ومنلی شی نو دوعا به ستاسو خو ته دډیرو برکاتو سره راشی او هغه سړی لپاره چی ددوعا هدف وو په یو لعن بدلیږی. دمسیح دکلام دسرته رسولو لپاره موږ او نور مسیحیان هروخت هتلر او دهغی سرو لپاره دوعا کولو او زه متیقن یم چی زموږ دوعاګانی دهغی د ناکامی کی دمتحده عسکرو سره مرسته وکړه.

موږ باید دخپلو گاونډیانو سره دخپل ځان په شان مینه وکړو. کمونیستان هم لکه نور خلک زموږ گاونډیان دی.

کمونیستان دمسیح داحکامو دنه ترسره کولو نتیجه دی: «زه راغلی یم چې په فراوانی سره ژوند ور کړم». مسیحیانو تراوسه پوری ژوند دټولو لپاره فراوان نه دی جوړ کړی. هغوی دهغی څخه لرڅه په ژوند کی دکوم قیمتی شی باندی ایښی دی. دوی یاغی شوی دی او کمونیزم ئی جوړ کړی دی. عموماً هغوی داجتماعی بی عدالتی قربانیان دی. اوس هغوی تریخ او په قهر دی. موږ باید دهغوی پرضد وجنگیږو. ولی مسیحیان حتی که دخپل دښمن پرضد جنگیږی پوهیږی او دهغوی سره مینه کوی.

موږ بی گناه نه یو چی ځینی کمونیستان شوی دی. موږ حداقل په خپله وظیفه کی غفلت کړی دی.

دا موږ باید ددوی لپاره په دوعا کولو او مینه کولو (چی بلکل له خوښ لرو څخه بیل دی) جبران کړو. زه دومره ساده نه یم چی ایمان ولرم چی یوازی مینه کولی شی چی دکمونیستانو مشکل حل کړی.

زه به دا مشوره ورنکړم چی حکومت دخرابکارانو ددلو سره په مینه عمل وکړی. باید دپولیسو یوه قوا، قضائی او جیلونه وی خو نه یوازی دکشیشانو لپاره بلکه دبدماشانو لپاره هم. که بدماشان توبه ونه کړی هغوی باید بندی شی. زه هیڅ وخت دمینی مسیحی عبارت دهغی صحیح سیاسی، اقتصادی او یا کلتوری دمخالفت لپاره چی دکمونیستانو پرضد دوام لری استعمال نکړم ځکه چی کمونیستان هم په بین المللی سویه دبدماش څخه کم نه دی. بدماش یو دستکول غلا کوی خو دوی دیو ملک غلا کوی.

مگر یو کشیش یا مسیحی باید خپل ډیر ښه کوښښ وکړی ترڅو کمونیست

بدون دهغی دجنایاتو په نظر نیولو کی دهغی قربانیان سره مسیح ته راوړی. هغه مسیحی باید درک سره دوعا وکړی.

## مقدس کتابونو او انجیل ته فوراً ضرورت شته

دویم، آزاد مسیحیان کولی شی دمقدس کتابونو او دهغی دبرخو په لیگلو سره مرسته وکړی. آزاد مسیحیان کولی شی چی دمقدس کتابونو په لیږلو مرستی وکړی. ددی کار لپاره باید یوه محفوظه لاره په کار واچولی شی ترڅو هغوی کمونیست هیوادو ته واستولی شی. ځکه چی زه بهر راغلی یم ما دهغو څخه ډیر استولی شی چی په حفاظت سره رسیدلی هم دی. په یقین سره داسی لاری شته چی هغوی واستو یوازی که تاسی آزاد مسیحیان دخپلو خویندو او رورنو لپاره په پټه کلیسا کی تیار کړی. کله چی زه په رومانیه کی وم ما به ډیر مقدس کتابونه ترلاسه کول چی دمختلفو لارو څخه استولی کیږی. هیځ پوښتنه دهغوی داستولی په هکله نشته. یوازی که هغوی تیار شی.

هغوی ته ډیر ضرورت شته. په زرهاو مسیحیان په شوروی او نورو کمونیستی هیوادو کی مقدس کتاب او یا انجیل دشلو یا پنځوسو کالو لپاره نه دی لیدلی.

دوه کسان چی ډیر کثیف وو دیوه کلی څخه ما ته راغلل. هغوی دخپلی کلی څخه په ژمی کی دیخو دکندلو دکار لپاره راغلی وو ترڅو پیسی ترلاسه کړی په دی امید چی دوی به وکولی شی چی په هغه پیسو یو زوړ او چیری مقدس کتاب واخلی او خپل کلی ته ئی یوسی. پدی علت چی ما دامریکی څخه ډیر مقدس کتابونه ترلاسه کړی وو ما وکړی شول چی دوی ته یو نوی مقدس کتاب ورکړم نه یو زوړ او چیری. هغوی نه شو کولی چی په خپل سترگو باور

وکړي. هغوی کوښښ وکړو چې د کتاب پیسې ماته دهغوی کندلو دکار څخه راکړي نو ما ونه منله. هغوی په عجله دکتاب سره خپل کلي ته لاړل. پس له څو ورځو ما یو لیک چې دې بې اندازه خوښي او تشکراتو څخه ډک وو ترلاسه کړو. هغه لیک دډېرشو کسانو لخوا امضا شوی وو. هغوی په احتیاط سره مقدس کتاب په ۳۰ برخو باندې ویشلی وو او هره برخې ئې دیو بل سره بدلوله.

دا یوه ډېره دردوونکې قیصه ده چې یو روسي دمقدس کتاب دیوې پاڼې خیرات غواړي. هغه ضرورت لري چې خپل ځان موږ کړي. هغوی خوښ دی چې یو غوا یا میږه دمقدس کتاب سره بدل کړي. یو چې زه ئې پیژنم خپل دواده ګوته خرڅه کړه ترڅو دنوی عهد یو چیری کتاب واخلي. زموږ ماشومان هیڅ دکرسمس کارت نه دی لیدلي. که دهغوی څخه یو دکرسمس کارت ولري نو دکلي ټول ماشومان په هغه باندې تولیږي او کوم سپین ږیری سړی هغوی ته دکوچنی عیسی او مریم په هکله توضیح ورکوي او ددې ځایه دخلاصون او مسیح قیصه شروع کیږي. دا ټول ... دیوه کرسمس کارت څخه! موږ کولی شو چې مقدس کتابونه، اناجیل او نور مسیحی نشریات واستوو. دا یوه لاره ددې دترسره کولو ده.

دریم موږ باید مخصوص نشریات چاپ کړو او واستو ترڅو دهغې بې دینې زهر پرضد چې دځوانانو ته دکودکستان څخه تر کالجه پور کولی کیږي عمل وکړي. کمونیستانو یوه کتاب «دبې دینانو رهنما» په نامه چاپ کړی دی. دا دبې دینانو مقدس کتاب دی. ددې ساده ترجمه په کودکستان کې درس ور کولی کیږي او پرمختلې ترجمه ئې په لوړو صنفونو کې درس ور کولی کیږي. دشیطان دا مقدس کتاب یو ماشوم دهغې دنمو په جریان کې تعقیبه وي او هغه په ټوله لار کې دبې دینې زهراګین کوي. دمسیحیت نړی هیڅ وختی کوم ځواب

ددی کتاب لپاره نه دی چاپ کړی. موږ کولی شو او باید یو مسیحی ځواب واستوو ترڅو دهغوی زهر نه ډک دبی دینی درسونو ته ځواب ورکړو. موږ باید دا کار دا اوس وکړو ځکه چی پټه کلیسا داسی هیڅ نشریه نلری چی هغوی ځوانانو ته چی ددی کتاب پواسطه په زهر اخته شوی دی ورکړی. دپټی کلیسا لاسونه شاته تړلی دی. ترهغه وخته پوری چی داسی نشریات په مختلفو ژبو دکمونیستی هیوادو نلری.

زموږ ځوانان باید یو ځواب ولری، دخدای ځواب، یوه مسیحی ځواب او زموږ ځواب! دا یوه بله لاره ده چی تاسو کولی شی دځوانانو لپاره دنشریاتو، دماشومانو لپاره دمقدس کتابونو او دداسی نشریاتو په تیارولو کی مرسته وکړی چی «دبی دینانو رهنما» په کتابونو ته ځواب ورکړی.

څلورم شی چی موږ باید ترسره کړو دادی چی دپټی کلیسا دړغړیو سره لاس یو کړو او دهغوی سره اقتصادی مرستی وکړو ترڅو دوی وکړی شی چی هر ځای ته سفر وکړی او په اطرافو کی دانجیل سره دانفرادی بشارت په شکل حرکت وکړی. پدی وخت کی ډیر مبلغین په کورونو کی دپیسو دکم والی له کبله چی استفاده لپاره لکه دبس تکت اخیستل، دموتر کرایه، دریل او دخوراک مصارف دسفر په جریان کی ضروری دی زنجیر شوی دی. په دی ترتیب دوی نشی کولی چی حرکت وکړی. په داسی حال که چی د۲۰ او ۳۰ میله لری کلیو نه بی فایده دوی پټ مجلسونو ته دعوت کیږی. د پینځه یا لسو پوندو په ورکولو سره دوی ته موږ کولی شو چی هغوی دزنجیرونو څخه خلاص کړو ترڅو هغه دعوتونو ته ځواب ورکړی او لری ښارونو او کلیو ته دخدای کلام سره لاړ شی.

پخوانی کشیشان چی دخپل ایمان پخاطر بندی شوی وو یوه سوزوونکی

پیغام دانجیل لری. هغوی دورک شوی ځانونو لپاره یوه سوزوونکی مینه لری خو دهغی درسولو وسیلی کلیو او ښارونو ته نلری. دمیاشتی څو پونده به دوی ته وسیله تیار کړی ځکه چی مسیحی دی هغوی صرف دخپل ژوندی پاتی کیدلو لپاره کمایی کولی شی او هیڅ څه نپاتی کیږی چی هغوی دیو کلی نه بل کلی ته او یا دیو ښار څخه بل ښار ته انجیل سره لاړ شی. دا یوه معجزه ده. څو پونده هر میاشتی کولی شی هغوی سره مرسته وکړی.

دپټی کلیساو دکشیشانو لپاره چی دخطراتو دمنلو سره یوه پټ کار هم مخته بوځی باید دداسی پټو مقصدو لپاره بودجی تیاری شی. دهغوی معاش چی دکمونیستی حکومت لطرفه تعیین شوی دی ډیر کم وی. ددی کشیشانو غوښتنه چی خپل آزادی دماشومانو او ځوانان ته دانجیل په وعظ کولو په پټ مجلسونو کی او دحکومت دمحدودیتونو دهیرول سره کافی نه دی. هغوی باید وسایل ولری چی خپل مؤثر او پټه خدماتو ته ادامه ورکړی.

پینځه یا لس پونده هر میاشتی دداسی یو غړی سره به مرسته ورکړی چی مؤثر صورت سره انجیل خپور کړی. دا بله لاره ده چی تاسو کولی شی دپټی کلیسا سره مرسته وکړی.

بله دا چی موږ باید انجیل دراډیو پواسطه په کمونیست هیوادو کی خپور کړو. دآزاد نړی دستیشنونو په استعمال سره موږ کولی شو پټی کلیسا ته چی خپله سخت روحانی ډوډی ته ضرورت لری روحی ډوډی ورکړو. ځکه چی کمونیستان پخپله دلند موج نشرات استعمال کوی چی خپل پروپاګندا خپلو خلکو ته یعنی میلیونهاو روسی او غلام شوی خلکو ته چی رادیو استعمال کوی خپور کړی. اوس دروازی خلاصی دی چی په کمونیست هیوادو کی رادیوئی نشرات خپور کړو. دا کار باید ډیر شی. پټه کلیسا هغه روحانی ډوډی چی ددی

رادیوئی نشرات څخه ترلاسه کیدی شی ولری. دا بله لاره دمرستی پټی کلیسا ته په کمونیست هیوادو کی دی.

## دمسیحی شهیدانو دکورنیو تراژیدی

موږ باید دمسیحی شهیدانو کورنیو ته مرستی تیاری کړو. لسگونو زرو داسی کورنی په تراژیدیک وضع کی چی دبیان وړ نه دی قرار لری. کله چی دپټی کلیسا یو غړی نیولی کیږی یوه عجیبه درامه دهغی په کورنی باندی شروع کیږی. دا ډیر غیر قانونی دی چی څوک هغوی سره مرسته وکړی. دا یو دقیقه پلان دکمونیستانو لخوا دی ترڅو دبی سرپرست سڅو او ماشومانو زوروړنه زیات کړی. کله چی یوه مسیحی جیل ته ځی یا عموماً مړینی او یا زورونو ته ځی تکلیفونه نوی شروع کیږی. دهغی فامیل بی پایان تکلیفونه اوباسی. زه کولی شم چی دا حقیقت ووایم چی که دآزاد نړی مسیحیانو ماته او زما کورنی ته مرستی نه وی استولی نو موږ به ژوندی نه وی پاتی شوی چی ناسو سره ووسو او دا خبری وکړو!

دا اوس په روسه او نور هیوادو کی دمسیحیانو ددسته جمعی دنیولو یوه سلسله شروع شوی دی. شهیدان هر وخت پیدا کیږی. هرڅه دوی قبر ته ځی یعنی خپل مقام ته رسیږی خو دهغوی کورنی په ډیر تراژیک حالت کی ژوند کوی. موږ کولی شو او باید دهغوی سره مرستی وکړو. یقیناً موږ باید هندیانو او افریقایانو سره چی دلوږی څخه مری مرستی وکړو خو څوک دمسیحی شهیدانو څخه چی خپل ځانونه دمسیح په لاره کی ورکړی دی او دخپل ایمان په خاطر په کمونیستی جیلونو کی زوریدلی دی دمرستی حق لری.

زما دآزادی له وخت څخه داروپا مسیحی ماموریت ډیر مرستی دمسیحی

شهیدانو دکورنیو سره کړی دی. هغه ځه چی ترسره شوی دی دهغی ځه ځخه چی موږ دستاسو مرستو سره کولی شو وکړو کم دی.

دیوی پټی کلیسا دغړی په حیث چی ژوندی پاتی شوی دی او فرار ئی کړی دی زه تاسو ته یو پیغام او عرض رسوم، یو عذر دهغو ورونو ځخه چی ما شاته پریښودلی دی.

هغوی زه ئی استولی یم چی دا پیغام تاسو ته ورسوم. په یوه معجزه کی زه ژوندی پاتی شوم ترڅو هغه تاسو ته ورسوم.

ما دمسیح دراوړلو کمونیست نړی دفوریت په هکله تاسو ته ویلی دی. ما شهیدانو دفامیلونو سره دمرستی دفوریت په هکله ویلی دی. ما تاسو ته عملی لاری دمرستی پټی کلیسا ته ترڅو وکړی شی چی خپل ماموریت دانجیل په خپورولو کی ترسره کړی ویلی دی.

کله ئی زه په سوکو وهلم زما ژبی به ژړل. ولی زما ژبی ژړل؟ هغوی زما ژبه نه وهله. ژبی ددی پخاطر ژړل چی ژبه او پښه دواړه دیوه بدن ځخه وو. تاسو آزاد مسیحیان دمسیح دهغی بدن غړی یی چی اوس په کمونیست جیلونو کی وهل او ټکول خوری، چی اوس مسیح لپاره شهیدان ورکوی.

آیا نشی کولی چی زموږ درد احساس کړی؟

اولیه کلسیا دټول ښکلا، قربانی او وقف سره په کمونیست هیوادو کی ژوندی شوی دی.

کله چی عیسی مسیح زموږ خدای په غم او دوعا کی دجستمانی په باغ کی وو پطرس، یعقوب او یوحنا دتاریخ دغی ډیر عالی درامی ته نیږدی وو خو هغوی په ژور خوب کی وو. ستاسو څومره مسیحی توجو او ورکول ددی شهید کلیسا خواته دی؟ دخپلو کشیشانو او دکلیسا رهبرانو ځخه پوښتنه وکړی چی دوی ځه

کار ستاسو په نامه ستاسو ورونو او خویندو لپاره داوسپنی پردی شاته ترسره کوی.

داوسپنی پردی شاته درامه، زرورتوب او شهید کیدل داولیه کلیسا ټول دسر څخه صورت نیسی، دا اوس او آزاده کلیسا بیده دی.

زموږ ورونه هتله یوازی او بدون دی کومی مرستی څخه دشلم قرن ډیر عالی جنګ مخته بیائی چی داولینی کلیسا دقهرمانی، زړورتوب او وقف سره برابر دی. مګر آزاده کلیسا لکه پطرس، یعقوب او یوحنا چی دخپل خلاصون ورکوونکی دغم په وخت کی بیده وو بیده دی.

آیا تاسو به هم بیده شی په داسی حال کی چی پټه کلیسا دستاسو ورونو په مسیح کی تکلیفونه اوباسی او دانجیل لپاره یوازی جنګیږی؟

آیا زموږ دا پیغام به واوری: «موږ په یاد راوړی او مرسته ورکړی»؟

«موږ مه پریږدی!»

اوس ما خپل پیغام دیتی، شهیدی او وفاداری کلیسا څخه دکمونیستو هیوادو څخه، دستاسو ورورنو اوخویندو څخه چی دکمونیستو په بندونو کی زوریږی رسولی دی.

ددی کتاب مؤلف دستاسو دمکاتبه په دی آدرس هر کلی کوی:

Evangelist Dr. P.P. Job
Post Box 4532, New Delhi- 110016, India

ریچارد ورمبراند هغه ښوک چې په
یو کمونیستي جیل کې دڅوارلسو
کالو دزوررونو نبنې په ځان لري
دسلاو سلاو ایماندارنو دسر کش
زړه ورتوب او بادوام ایمان شاهد
دی چې دخپل دکورنیو ښځه لری او
وهلي شوي په بدن کې خو نه په
روح کې خپل مسیحي ایمان ته
بدون دکوم ویری ښځه دوام
ورکوي.